سلسلة مفاتيح الخير (٦)

د جهنم احوال

مصنف

فضيلة الشيخ

أبي صهيب محمد بن عبد الرحمن حفظه الله

تصحيح ونظرثاني

فضيلة الشيخ

أبي عامر حبيب الرحمن حفظه الله

قاري اسلامک مارټ

دینی کتب خانه

لنډے سړک چارسده روډ پشاور

0317-6981818|0332-5916117

سلسلة مفاتيح الخير (٦)

د جهنم احوال

مصنف

فضيلة الشيخ

أبي صهيب محمد بن عبد الرحمن حفظه الله

تصحيح ونظرثاني

فضيلة الشيخ

أبي عامر حبيب الرحمن حفظه الله

قاري اسلامك مارټ

★ دینی کتب خانه

لنډے سړک چارسده روډ پشاور

0317-6981818|0332-5916117

د کتاب نوم: د جهنم احوال

د مؤلف نوم: فضيلة الشيخ أبي صهيب محمد بن عبد الرحمن حفظه الله

تصحيح او نظر ثاني: فضيلة الشيخ أبي عامر حبيب الرحمن حفظه الله

کمپوز اوترتيب: أستاذ أبو جُريج محب الله ماموند حفظه الله

03109828236 - 03015249629

سنة الطباعة: 2024م، 1446هـ الطبعة الأولى

الناشر:

قاري اسلامک مارټ

دیني کتب خانه

مسئول: قاري نعمت الله محمدی

Qari Islamic Mart & Dene Kutub Khana

Charsadda Road Landy Sarak Peshawar

Mob: 03176981818

Email add: Salamsafi550@gmail.com

بسم الله الرحمن الرحيم

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادى له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴾

آل عمران: 102.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُوا۟ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَآءً ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلْأَرْحَامَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا ﴾

النساء: 1.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَقُولُوا۟ قَوْلًا سَدِيدًا ٧٠ يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَٰلَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴾

الأحزاب: 71 - 70.

زما قدرمنو او عزتمندو ورونو! الله رب العالمین یو کور پیدا کړی دی چې هغه کور د الله د غضب د آثارو د ښکاره کیدو کور دی، د الله د لعنت نازلیدو کور دی، هغه د کفارو او د نافرمانو کور دی، د ابلیس د تابعدارانو کور دی، په هغې کې الله رب العالمین سرکشه بندګان سوزي يي، په زنځیرونو کې تړي، د خپو او غاړو کې ورته زنځیرونه او طوقونه اچوي، د هغوې په سرونو باندې ایشیدلې اوبه اړوي، داسې بدترین خوراک ورکوي چې هغه په مرۍ کې نخلې، او داسې بدبویه وي که د هغې نه لږه حصه هم دنیا ته راشي ټوله دنیا به بدبویه کړې، داسې ګرمې اوبه ورکوي که دوې ئې مخ ته نژدې کړي مخ به ئي وریت شي او د مخ څرمن به ئې وغورځیږي او که یو ګټ اوبه تري وکړې کولمې به ئې ټکړې ټکړې او ویلې شي او لاندې به وبهیږي، داسې بدترین عذابونه ورپکې دي چې د عذابونو د شدت او سختوالې د وجې نه به هغوې د مرګ ارمانونه وکړي، او مرګ به به دعاګانو وغواړي، که د دنیا د ټولو نه زیات ښکلې زندګي والا د جهنم د عذابونو نه یو عذاب چیرته ومومي د دوې د زړه او دماغو نه به ټولې خوشحالۍ او راحتونه محوه کړي او که دوې نه بیا پوښتنه وشي چې تا چیرته په خپله زندګۍ کې راحت او خوشحالي لیدلې ده هغه به انکار وکړي چې ما په

خپل ژوند کې راحت او خوشحالي نه ده ليدلې، او حال دا دی چې دا به د ټولې دنيا نه ډير راحت او خوشحالۍ والا انسان دی لکن د جهنم يو عذاب او سختي به دده د زړه او دماغو نه ټول راحتونه او خوشحالي محوه کړي، او د دوې نه به راحت او خوشحالي هيره شي.

جهنم د مشکلاتو، جړاګانو، نارامیو، غمونو او کړاوونو کور دی، جهنم د داسې سختو او مشکلاتو کور دی چې په تش ليدلو باندې ئې انسان عقل دلاسه ورکوي او بې هوشه کيږي هغې سختۍ د مرګ سره مساوي دی، داسې سخترين حالت چې د يو انسان مخې ته راتلونکی وي هوښيار انسان بايد دغه حالاتو نه ځان خبر کړي د هغه نه ويريږي او بيا ددغې نه د بچاو اسباب طلب کړي او کوم څه چې انسان دغې کور ته داخلوي ددغه رنګه اسبابو نه ځان پرهيز کړي تر دې چې ددغې کور نه نجات حاصل کړي.

رب العالمين دې مونږه له ددغې کور نه آمان راکړي.

«آمين يا رب العالمين»

14/اپریل/2023   موافق: 5/10/ 1445 هق.

د جهنم د اُور نه ویره:

ګرانو او قدرمنو ورنو لکه څرنګه چې مؤمن باید د الله د رحمت امیدوار وي همدغه رنګه به د الله د غضب عذاب او د جهنم د اور نه ویره لري، او د امید او ویرې تر منځ به زندګي کوي. او دا هم د الله رب العالمین د رحمتونو نه یو رحمت دی چې رب العالمین مونږه ته د جهنم اور بیان کړی دی او د هغې نه ئي ویرولې یو، د جهنم د اور خبر ئي راکړی، او د هغې د زنځیرونو، مارانو، لړمانو، لمبو، ګرزونو، او د هغې د بدترینو خوراکونو او څښکاکو خبر یې راکړی تر څو چې بندګان د هغې نه وویریږي او دځان لپاره د بچاو اسباب ولټوي، همدغه وجه ده چې قرآن عظیم الشان کې الله رب العالمین مونږه ته د جهنم دا تذکره کړې، او د هغې نه ئي مونږه ویرولې یو.

الله رب العالمین فرمائي: (يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ).

التحریم: 6.

ای د ایمان والاو تاسو خپل ځان او خپل اهل د اور نه بچ کړئ چې د هغې خشاک خلک او ګټې دي، په هغه باندې داسې ملایک مقرر دي چې هغه د سخت طبیعت

والا دي، او د قــوي بــدنونو والا دي، هغــوې د هغــه حکــم خــلاف نــه کــوي چــې الله ئــې دوې تــه کــوي، او هغــه څــه کوي چې دوې ته پرې حکم کيدلی شي.

دې آيت کې الله رب العالمين مونږه ته د جهنم د اور خبر راکړی او بيا ئې حکم وکړه ددغې اور نه ځان بچ کړئ او د هغې ملائکو خبر ئې هم راکړه چې هغه پدغې اور باندې مقرر دي.

ددې وجــې نــه چــې مــونږه ددغــې اور نــه پــه زړه کــې ويــره وکــړو او د الله ددې عــذاب نــه ويريــږو او د هغــې نــه د بچــاو اسباب حاصل کړو.

(فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ).

البقرة: 24.

الله تعــالی فرمــائي: پس تاســې د هغــې اور نــه ځــان بــچ کــړئ چــې د هغــې خشــاک خلــک او ګټــې دي او هغــه د کافرانــو لپاره تيار کړی شوی دی.

(وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ).

آل عمران: 131.

د هغــې اور نــه بچــاو حاصــل کــړئ چــې هغــه د کافرانــو لپــاره تيار کړی شوی دی.

(فَأَنْذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظَّى). الليل: 14.

پس زه تاسو لره د لمبې وهونکې اورنه ویروم.
پدې آیتونو کې مونږ ته الله رب العالمین د جهنم د اور خبر راکړه او ددغې اور نه د بچاو حکم ئې وکړه.
(لَهُمْ مِنْ فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِنَ النَّارِ وَمِنْ تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ذَلِكَ يُخَوِّفُ اللهُ بِهِ عِبَادَهُ يَاعِبَادِ فَاتَّقُونِ). **الزمر: 16.**
د دوې لپاره به د دوې نه د بره طرف نه د اور تکړې او طبقات وي او لاندې طرف نه هم د اور تکړی طبقات وي لکه د وریځو په شان دا هغه څه دي چې الله تعالی وربانديې بندګان ویروي، ای زما بندګانو زما نه ویریږئ.

په نبوي احاديثو کې د اور نه ويره:

لکه څرنګه چې مونږ ته الله تعالی په قرآن عظیم الشان کې د اور نه ویره راکړې ده همدغه رنګه د الله رسول صلی الله علیه وسلم هم د اور نه ویرولې یو، او په خپلو مبارکو ارشاداتو کې بار بار د جهنم اور تذکره کړی او مونږه او تاسې ئې د هغې نه ویرولې یو، چې د مثال په طور باندې به دلته د هغې نه یو څه ذکر کړو.
عَنْ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ فَقَالَ: «أَنْذَرْتُكُمُ النَّارَ، أَنْذَرْتُكُمُ النَّارَ، أَنْذَرْتُكُمُ

النَّارَ» فَمَا زَالَ يَقُولُهَا حَتَّى لَوْ كَانَ فِي مَقَامِي هَذَا، لَسَمِعَهُ أَهْلُ السُّوقِ، حَتَّى سَقَطَتْ خَمِيصَةٌ كَانَتْ عَلَيْهِ عِنْدَ رِجْلَيْهِ».

أخرجه أحمد: 18360، والدارمي: 2868 صحيح وصححه الألباني في المشكاة 5687.

نعمان بن بشير رضي الله عنه فرمائي: چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوریدلې دي، چې هغه به صحابه کرامو ته وفرمائیل: ای زما ملګرو ما تاسو لره د جهنم د اور نه ویریرولئ، ما تاسو لره د جهنم د اور نه ویرولئ، دومره زیات جذباتو سره ئي دا خبره وکړه که یو سړی په بازار کې همدا اواز به ئي اوریدلې وې، تر دې پورې چې د نبی صلى الله علیه وسلم په اوګو باندې شړی پرته وه هغه د هغې د اوګو نه وغورځیدله.

دې حدیث کې مونږه ته د الله نبی د جهنم د اور نه ویره راکړه او دا ویره ئي ډیره زیاته په جذباتو او پوره احساساتو باندې راکړه چې امت د جهنم د اور نه ویریږي خپل ځان لپاره د جهنم د اور نه بچاو حاصل کړي.

عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، قَالَ: قالَ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِتَّقُوا النَّارَ وَأَشَاحَ ، ثُمَّ قَالَ: اتَّقُوا النَّارَ أعرضَ وأَشاحَ حتّى ظَنَنَّا أَنَّه يَنظرُ إِلَيْها ثُمَّ قالَ: «اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ، فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ». أخرجه البخاري: 1413، ومسلم: 1016.

عدي بن حاتم رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي: د اور نه ويربږئ او بيا نبي صلى الله عليه وسلم مخ واړوه او خپل مخ ئې راکوت او ګنجې کړه او بيا ئې وويل: د اور نه ځان بچ کړئ، بيا ئې واړو او خپل مخ مبارک ئې راګنجې کړه تر دې چې مونږه ګمان وکړه چې نبي صلى الله عليه وسلم اور ته ګورې، بيا ئې وفرمائيل: د اور نه ځان بچ کړئ ولو که په نيمائي کجوره باندې وي، که څوک دغه نه مومي په ښائسته خبره باندې دې د اور نه ځان بچ کړي.

پدې حديث کې نبي صلى الله عليه وسلم مؤمنان د جهنم د اور نه ويرول او د اور نه د بچاو حکم ئې ورته وکړه. او په داسې ناشنا کيفيت باندې ګويا که چې ده دغې اور ته کتل.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّمَا مَثَلِي وَمَثَلُ أُمَّتِي كَمَثَلِ رَجُلٍ اسْتَوْقَدَ نَارًا، فَجَعَلَتِ الدَّوَابُّ وَالْفَرَاشُ يَقَعْنَ فِيهِ، فَأَنَا آخِذٌ بِحُجَزِكُمْ وَأَنْتُمْ تَقَحَّمُونَ فِيهِ».

أخرجه البخاري: 3426، ومسلم: 2284.

ابو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي: بې شکه زما او زما د أمت مثال داسې دی لکه يو سړی اور بل کړی وي او دا زنده سر په هغې کې ځان ورغورځوي، زه هم ستاسو د بدې نه رانيسم چې اور ته ځان مه

غورځوي، او تاسو پدې اور کې ورننوځي، او په زور وريکې ځان ورغورځوي.

پدې حديث کې دا خبره ذکر شوه چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمائي: زه تاسو لره اور ته د غورځيدلو نه منع کوم او تاسو زور کوئ او په زوره باندې ځان پدې اور کې غورځوئ.

او دا ځکه چې د نبي صلی الله عليه وسلم مبارک ارشاداتو کې مونږه ته راهنمائي ده چې تاسو ځان د جهنم نه بچ کړئ او مونږه د جهنم د اور نه ويروي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: لَمَّا أُنْزِلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ {وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ}، دَعَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُرَيْشًا، فَاجْتَمَعُوا فَعَمَّ وَخَصَّ، فَقَالَ: «يَا بَنِي كَعْبِ بْنِ لُؤَيٍّ، أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ، يَا بَنِي مُرَّةَ بنِ كَعْبٍ، أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ، يَا بَنِي عَبْدِ شَمْسٍ، أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ، يَا بَنِي عَبْدِ مَنَافٍ، أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ، يَا بَنِي هَاشِمٍ، أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ، يَا بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ، يَا فَاطِمَةُ، أَنْقِذِي نَفْسَكِ مِنَ النَّارِ، فَإِنِّي لَا أَمْلِكُ لَكُمْ مِنَ اللهِ شَيْئًا».

أخرجه مسلم: 204.

ابو هريرة رضي الله عنه فرمائي: کله چې دا آيت نازل شو، (وأنذر عشيرتک الأقربين) خپل نژدې خپلوان ويروه، رسول الله صلی

الله عليه وسلم قريش راجمع کړه هغوئ ته ئي عام اواز هم وکړه او خاص اواز ئي هم ورته وکړه عام دعوت ئي هم ورکړه او هر يو ته ئي خاص خاص دعوت هم ورکړه.

هغه وويل: اى د كعب بن لؤي أولاده، تاسو خپل ځانونه د اور نه خلاص او بچ کړئ، اى د عبدمناف بچو تاسو ځانونه د اور نه بچ خلاص کړئ، اى د مره بن كعب بچو تاسو خپل ځانونه د اور نه خلاص کړئ.

اى د عبدالشمس بچو تاسو خپل ځانونه د اور نه خلاص کړئ، اى فاطمې د محمد صلى الله عليه وسلم لورې، ځان خپله د جهنم د اور نه خلاص کړه زه ستا لپاره د الله د عذاب نه د هيڅ څيز مالک نه يم.

دې حديث کې هم دا خبره ذکر شوه چې نبى صلى الله عليه وسلم د قريشو قبيله قبيله او خپل خپلوان د جهنم د اور نه ويرول، او هغوئ ته ئي د جهنم د اور نه د بچاو او د ځان د خلاصولو حکم وکړه او هغوئ ته ئي عام اعلان هم وکړه او خاص اعلان ئي ورته هم وکړه.

مؤمنان د جهنم د اور نه پناه غواړي:

همدغه وجه ده چې الله رب العالمين خپل بندګان د جهنم د اور نه ويرولي دي، او د الله رسول خپل امت د جهنم د اور نه

ويرولي دی، د مؤمنانو د الله او د هغه د رسول په خبره باندې
ايمان دی، نو مؤمنان د جهنم د اور نه پناه غواړي، او د الله رب
العالمين نه دعا کوي چې رب العالمين مونږه د جهنم د اور نه بچ
او کړه او مونږه ته د جهنم د اور نه بچاو راکړه.

لکه څرنګه چې مونږه ته قران او سنت د مؤمنانو دا صفت بيان
کړی چې مؤمنان د جهنم د اور نه ويريدونکي دي او د جهنم
نه پناه غوښتونکي دي.

(إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ
لِأُولِي الْأَلْبَابِ (190) الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَى
جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ
هَذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ).

آل عمران: 190 – 191.

بې شکه د اسمانونو او زمکې په پيدائشت کې او د ورځې او
شپې په اختلاف کې خامخا د عقلمندو انسانانو لپاره آيتونه او
نښې دي هغه کسان چې په ولاړه، ناسته، او اړخونو باندې اور
دړې لګولو په حالت کې د الله ذکر کوي، او د اسمانونو او
زمکې په پيدايشت کې فکر کوي، او دا وائي چې ربه تا دا
څيزونه باطل او عبث نه دي پيدا کړي تا لره پاکي ده ته مونږه
لره د اور د عذاب نه بچ کړې.

دې آيتونو کې رب العالمين مونږ ته د مؤمنانو بهترين صفتونه ذکر کړه چې په هغې کې ئې يو صفت دا دی چې دوی د جهنم د اور نه پناه غواړي او د الله نه دا دعا کوي چې ربه مونږ لره د جهنم د اور نه بچ کړه.

(الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا إِنَّنَا آمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ).

آل عمران: 16.

مومنان هغه کسان دي چې هغوی وائي: ای زمونږه ربه مونږه ايمان راوړه پس ته مونږه لره زمونږه گناهونه وبخښه او مونږه د اور د عذاب نه بچ کړه.

(وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا (65) إِنَّهَا سَاءَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا).

الفرقان: 65- 66.

او هغه کسان چې وائي: ای زمونږه ربه مونږه نه د جهنم عذاب واړوه بيشکه د جهنم عذاب د جهنميانو سره لازم او هميشه دی، بيشکه دا جهنم ډير بد د قرارئ ځاې او بد د اوسيدو ځاې دی.

(وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ (25) قَالُوا إِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِي أَهْلِنَا مُشْفِقِينَ (26) فَمَنَّ اللهُ عَلَيْنَا وَوَقَانَا عَذَابَ السَّمُومِ).

الطور: 25 – 27.

او دا جهنميان به يو بل ته رامخامخ شي د يو بل نه به سوالونه کوي دوې به ووائي چې بيشکه مونږه مخکې په دنيا کې په خپل اهل کې ويريدلو الله په مونږه باندې احسان وکړه او مونږه ئې ددغې ګرمو هواګانو د عذاب نه بچ کړو.

دې آيتونو کې رب العالمين د مومنانو په صفاتو کې يو صفت دا ذکر کړه چې مومنان د جهنم د اور نه ويريږي، او د هغه نه پناه غواړي، او د الله تعالى نه دعاګانې غواړي چې ربه مونږه د جهنم د عذاب نه بچ کړه.

د ابراهيم النخعي رحمه الله وينا:

قال ابراهيم النخعي رحمه الله: ينبغي لمن لم يحزن أن يخاف أن يكون من أهل النار لأن أهل الجنة قالوا: الحمدلله الذي أذهب عنا الحزن.

فاطر: 34.

وينبغي لمن لم يشفق أن يخاف أن لا يكون من أهل الجنة لأنهم قالوا: قَالُوا إِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِي أَهْلِنَا مُشْفِقِينَ.

الطور: 26.

ابراهيم النخعي رحمه الله فرمائي: هغه څوک چې په هغه باندې خپګان نه راځي هغه لره پکار دي چې هغې ددې نه ويريږي چې چيرته جهنمي نه وي ځکه جنتيان چې جنت ته داخل شي

هغوې به داسې وائي: هغه ذات لره حمد او ثناء ده چې زمونږه نه ئې خپګان لرې کړه او هغه څوک چې د الله د عذاب نه نه ویریږي هغه لره پکار ده چې ددې نه ویریږي چې چیرته جهنمي نه وي ځکه چې جنتیان به وائي چې مونږه به په دنیا کې د الله د عذاب نه ویریدلو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا رَأَيْتُ مِثْلَ النَّارِ نَامَ هَارِبُهَا، وَلاَ مِثْلَ الجَنَّةِ نَامَ طَالِبُهَا.

أخرجه الترمذي: 2601، حسنه الألباني في الصحيحة: 953، وصحيح الجامع: 5622.

ابو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي: ما د اور په شان يو څيز نه دى ليدلى چې د هغې نه تښتيدونکى انسانان دى ويده وي او خوب دې کوي. او ما د جنت غونډې کور نه دى ليدلى چې د هغې طلب کونکي انسانان دې ويده وي او خوب دې کوي.

دې حديث کې نبي صلى الله عليه وسلم مونږه ته ددې خبرې راهنمائي وکړه چې جهنم ډير زيات د هيبت کور دى، د عذابونو کور، د اور کور دى، ددې نه تيښته پکار ده او ددې تښتيدونکي انسان لره غفلت نه دى پکار بلکه د هغه لپاره

پکار ده چې د جهنم د اور نه د بچاو اسباب استعمال کړي او د هغې نه ځان محفوظ کړي.

او جنت د نعمتونو کور، د لذتونو کور، د خوشحالو کور، د الله د میلمستیا کور، ددې طلب پکار دی ددې لپاره منډه وهل پکار دي، او ددې طلب کولو په غفلت باندې نه کیږي بلکه ددې طلب کونکي لره پکار ده چې خوب او غفلت پریدي او د جنت صحیح طلب وکړي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د جهنم نه د بچاو دعا:

همدغه وجه ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله هم د اور نه د بچاو دعا غواړي بلکه په ژوند کې اکثره دعا همدا کوي چې رب العالمین ما لره د جهنم د عذاب نه بچ کړه.

عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: كَانَ أَكْثَرُ دُعَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً، وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً، وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ».

أخرجه البخاري: 4522، ومسلم: 2690.

انس رضي الله عنه فرمائي: چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اکثره دعا داسې وه: ای زما ربه مونږ ته په دنیا کې ښائسته زندګي راکړې او په آخرت کې هم ښائسته زندګي او د اور د عذاب نه مو بچ کړې.

عن جابر أن النبيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال لِرَجُلٍ: «كَيْفَ تَقُولُ فِي الصَّلَاةِ»، قَالَ: أَتَشَهَّدُ وَأَقُولُ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ أَمَا إِنِّي لَا أُحْسِنُ دَنْدَنَتَكَ وَلَا دَنْدَنَةَ مُعَاذٍ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «حَوْلَهَا نُدَنْدِنُ».

أخرجه أبو داود: 792، وابن ماجة: 910، وقال البوصير في الزوائد اسناده صحيح ورجاله ثقات.

جابر رضي الله عنه فرمائي: چې نبی صلى الله عليه وسلم يو سړي ته وفرمائيل: ته په مونځ کې څه وائې؟ هغه وفرمائيل: زه تشهد وايم او بيا دا دعا کوم : يا الله زه د تا نه د جنت سوال کوم او په تا پورې د جهنم نه پناه نيسم خو زه ستا او د معاذ رضي الله عنه د اواز په بنار باندې نه پوهيږم چې تاسو څه وايئ؟

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمائيل: مونږه هم ددغې دوه خيزونو شا او خوا دعا غواړو او په دعا کې همدغې لپاره بنار کوو.

دې حديث کې همدا خبره ذکره شوه چې يو صحابي نبی صلى الله عليه وسلم ته وويل چې زه په مونځ کې د تشهد نه روسته د الله نه د جنت سوال کوم او د جهنم نه پناه غواړم.

رسول الله صلى الله عليه وسلم ددغې صحابي دغه عمل خوښ وګڼه او ورته ئې وويل: چې مونږه هم ددغې دواړو مقصدونو خوا

او شا سوالونه او دعاګاني غواړو، معلوم شول چې نبي صلی الله علیه وسلم به هم په مونځ کې د جنت سوال کولو او د جهنم نه به ئي پناه غوښتله.

د جهنم نه د پناه غوښتلو تعليم:

بلکه نبي صلی الله علیه وسلم به خپلو ملګرو ته ددې خبرې تعليم ورکولو چې تاسو د جهنم د عذاب نه پناه وغواړئ. او داسې دعا ګاني به ئي ورزده کولې په کومو کې چې به د جنت مطالبه او د جهنم نه د بچاو دعا وه.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُعَلِّمُهُمْ هَذَا الدُّعَاءَ كَمَا يُعَلِّمُهُمُ السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ يَقُولُ قُولُوا: «اللهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ».

صحيح مسلم: 1361.

ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به دوي ته دا دعا داسې په اهتمام سره ښودله لکه څرنګه چې به ئي د قرآن کريم د يو سورت تعليم ورکولو، اللّهُمَّ إنا نعوذبک...

يا الله مونږه په تا پورې د جهنم د عذاب نه پناه نيسو او په تا پورې د قبر د عذاب نه پناه نيسو، او په تا پورې د مسيح

الدجال د فتنې نه پناه نيسو، او په تا پورې د فتنو د ژوند او د مرګ نه پناه نيسو.
پدې حديث کې همدا خبره ذکر شوه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابه ئې کرامو ته داسې په اهتمام باندې د جهنم د اور نه د بچاو او پناه حاصلولو دعا ښودله لکه څرنګه چې به ئې د قرآن کريم يو سورت ورښودلو.

د جهنم نه د پناه غوښتلو فائده:

کوم انسان چې د جهنم د اور نه ويريږي او د هغې نه پناه غواړي دغه انسان به الله تعالى د جهنم د اور نه بچ کوي، چې ددغې انسان لپاره جهنم د الله رب العالمين نه د بچاو دعا غواړي.
عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ سَأَلَ اللهَ الجَنَّةَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَالَتِ الجَنَّةُ: اللّٰهُمَّ أَدْخِلْهُ الجَنَّةَ، وَمَنْ اسْتَجَارَ مِنَ النَّارِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَالَتِ النَّارُ: اللّٰهُمَّ أَجِرْهُ مِنَ النَّارِ».
صحيح ابن حبان: 1014، صحيح الجامع: 6151.

انس بن مالک رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي: کوم انسان چې د الله تعالى نه درې کرتې د جنت سوال وکړي جنت هم ددغه انسان په حق کې د الله نه سوال وکړي يا الله دا انسان جنت ته داخل کړه او چې څوک

درې کرتې د اور نه پناه وغواړي اور جهنم هم دده په حق کې د الله نه وغواړي يا الله دده لره د اور نه پناه ورکړه.

د جهنم د اور نه د ملائيکو ويره:

د جهنم اور ډير زيات هيبتناک او سخت ويرونکی دی، همدغه وجه ده چې لکه څرنګه چې انبياء او مومنان د هغې نه پناه غواړي همدغه رنګه د رب العالمين بهترين مخلوق ملايک هم د جهنم د اور نه پناه غواړي.

عن ابن عمر رضي الله عنهما عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال لجبريل عليه السلام: «ما لي لم أر ميكائيل ضاحكاً قط؟ قال: ما ضحک ميكائيل منذ خلقت النار».

أخرجه أحمد: 13343، وأخرجه الحاكم: 2/80- 81، وعنه البيهقي: 9/149، وصححه الألباني في الصحيحة: 2511.

ابن عمر رضي الله عنهما فرمائي: چې نبی صلى الله عليه وسلم يوه ورځ جبريل عليه السلام ته وفرمائيل: دا څه وجه ده چې ما ميکائل عليه السلام هيچرې په خندا ناندې نه دی ليدلی؟ هغه ورته وويل: چې د کله نه چې اور پيدا کړی شوی دی بيا ميکائيل عليه السلام خندا نه ده کړې.

زما قدرمنو ورونو ډيره د سوچ او فکر خبره ده چې اور د ميکائيل عليه السلام لپاره نه دی پيدا شوی بلکه د الله ملايک

د الله فرمانبرداره مخلوق دی او هغوی د الله د عذاب نه بچ دي، خو بیا هم د جهنم اور دومره هیبت لري چې میکائیل علیه السلام د هغې د وجې نه خندا پریدي.

او دغه اور زما او ستا لپاره پیدا دی که د الله په فضل ترې بچ نه شو، خو بیا هم ما او تا د الله تعالی د دې عذاب د ویرې نه ګناه نه پریدو او میکائیل علیه السلام ددې د وجې نه خندا پریدې لږ سوچ او غور وکړئ قدرمنو ورونو.

د جهنم نه د ویرې د سلفو نمونې:

لکه څرنګه چې مونږه ته قرآن او سنت تعلیم راکوي چې د جهنم د اور نه ویریږئ او د هغې نه پناه غواړئ همدغه وجه ده چې ددې امت اسلاف صحابه ېې کرام، تابعین او همدغه رنګه د دین امامان به د جهنم د اور نه ویریدل او د هغې نه به ئې پناه غوښتله چې د هغوې د جهنم د ویریدلو نمونې بې شماره دي دلته به د الله په فضل او توفیق سره د هغې نه یو څو نمونې ذکر کړو.

1: د شداد بن اوس رضي الله عنه ویره:

كَانَ شَدَّادُ بْنُ أَوْسٍ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ كَأَنَّهُ حَبَّةُ قَمْحٍ عَلَى مِقْلَى، ثُمَّ يَقُولُ: «اللَّهُمَّ إِنَّ النَّارَ قَدْ مَنَعَتْنِي النَّوْمَ، ثُمَّ يَقُومُ إِلَى الصَّلَاةِ».

مصنف ابن أبي شيبة: 35597.

شداد بن اوس رضي الله عنه چې به کله خپلې بسترې ته راغی د
ویرې نه به په خپله بستره کې داسې اوړیده راوړیده لکه د غنم
دانه چې کړې ته وغورځوې او دا به ئې ویل: یا الله اور زه د
خوب نه منع کړی یم او بیا به مونځ ته پاڅیده.

د یزید بن أبي مرثد رحمه الله ویره:

وفي كتاب الزهد للامام أحمد عن عبدالرحمن بن يزيد بن جابر
قال: «قلت ليزيد بن أبي مرثد ما لي أرى عينيک لا تجف؟ قال:
وما سألتک عنه، قلت: عسى الله أن ينفعني به.
قال: يا أخي إن الله توعدني ان أنا عصيته أن يسجنني في النار والله
لو لم يوعدني أن يسجنني إلا في الحمام لكنت حرياً أن لا تجف لي
عين». **التخويف من النار: 31.**

امام أحمد رحمه الله په كتاب الزهد كې د عبدالرحمن بن يزيد بن
جابر رحمه الله نه نقل كړی دی، هغه وائي: ما يزيد بن أبي مرثد
رحمه الله ته وويل: څه وجه ده چې زه دا ستا سترګې وینم چې
هغه نه وچیږي؟ هغه راته وویل: د دې پوښتنه دې رانه ولې
وکړه؟ ما ورته وویل: کیدای شي چې الله پرې ما ته فائده
راکړي، ما ته ئې وویل: ای وروره الله ما ته تهدید راکړی دی
چې که زما نافرماني دې وکړه زه به دې په اور کې بندي کړم
قسم په الله باندې که ما ته ئې داسې تهدید راکړې وې چې که

نافرماني دې وكړه زه به دې په حمام (ليټرين) كې بندې كړم پكار دا وه چې زما ستركې دې نه وې وچې شوې پاتې لا دا چې هغه ما ته د جهنم د اور تهديد او دمكې راكړى ده.

د حسن بصرى او د عمر بن عبدالعزيز رحمهما الله ويره:

وقال يزيد بن حوشب: ما رأيت أخوف من الحسن وعمر بن عبدالعزيز كأن النار لم تخلق إلا لهما. **التخويف من النار: 31.**

يزيد بن حوشب رحمه الله فرمائي: ما د حسن بصرى او عمر بن عبدالعزيز رحمهما الله نه ډير زيات ويريدونكي انسانان نه وو ليدلې كويا كه چې اور صرف د دوې لپاره پيدا كړى شوى وو؟ يعنې داسې به ويريدل لكه چې د جهنم اور صرف د دوې لپاره پيدا شوى دى او دوې ترې ويريږي.

روى ضمرة عن حفص بن عمر قال: بكى الحسن فقيل ما يبكيك ؟ قال: أخاف أن يطرحنى غداً في النار ولا يبالي.

التخويف من النار: 31.

ضمرة رحمه الله د حفص بن عمر نه روايت كوي هغه فرمائي: چې يوه ورځ حسن بصرى رحمه الله وجړل، د هغه نه پوښتنه وشوه چې تا څه شى جړوي؟ هغه وفرمائيل: زه ويريږم چې الله به سبا ورځ ما لره په اور كې وغورځوي او هغه به هيڅ پروا ونه كړي.

د عبدالله بن حنظله رحمه الله ویره:

وروى ابن أبي الدنيا من حديث عبد الرحمن بن الحارث بن هشام، قال سمعت عبد الله بن حنظلة يوماً، وهو على فراشه، وعدته من علته، فتلا رجل عنده هذه الآية: {لَهُمْ مِنْ جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِنْ فَوقِهِم غَوَاشٌ} .

فبكى، حتى ظننت أنه نفسه ستخرج، وقال: صاروا بين أطباق النار، ثم قام على رجليه، فقال قائل: يا أبا عبد الرحمن اقعد، قال: منعني القعود ذكر جهنم، ولا أدري لعلي أحدهم.

التخويف من النار: 32.

ابن ابي الدنيا د عبدالرحمن بن الحارث بن هشام رحمه الله قول رانقل کړی چې هغه فرمائي: ما د عبدالله بن حنظله رحمه الله نه يوه ورځ واوريده چې هغه په خپله بستره باندې وو، زه د هغه بيمار پرسی ته ورغلم، يو کس د هغه په وړاندې دا آيت ولوسته، (لهم من جَهَنَّمَ مِهَادٌ...).

دوی جهنميانو لپاره به د جهنم فرشونه وي او د دوی نه بره به د اور برستنې وي هغه دومره وژړل چې زما دا ګمان شه چې دده روح دده د بدن نه ووځي، هغه وفرمائيل: دوی د جهنم په طبقاتو کې، بيا په خپلو خپو باندې ودريده چا ورته کښينه

وويل هغه وويل: زه د جهنم ياداشت د كنبيناستو نه منع كړ
يم، او زه نه پوهيږم كيداى شي زه هم د دغو نه يو كس يم.

د علي بن الفضيل رحمه الله ويره:

وروى أبو النعيم بإسناد عن الفضيل، قال: أشرفت ليلة على علي
وهو في صحن الدار، وهو يقول: النار، ومتى الخلاص من النار؟.

حلية الأولياء: 298/8.

امام ابو نعيم رحمه الله د فضيل رحمه الله نه نقل كړى دى چې
يوه شپه زه د علي بن الفضيل رحمه الله ته راښكاره شوم هغه
كور په ميدان كې ولاړ وو او هغه داسې ويل: اور اور او د هغ
نه به خلاصيدل كله وي.

وأخرج أبو نعيم أن علي بن فضيل صلى خلف إمام قرأ في صلاة
سورة الرحمن، فلما سلم، قيل لعلي: أما سمعت ما قرأ الإمام: {حو
مقصورات في الخيام} .فقال: شغلني عنها ما قبلها:
{يرسل عليكما شواظ من نار ونحاس فلا تنتصران} .

حلية الأولياء: 297/8.

امام ابو نعيم رحمه الله روايت نقل كړى يوه ورځ علي بن الفضيل
رحمه الله د يو امام نه روسته مونځ كولو چې هغه په مونځ كې
سورة رحمن لوستلو، چې كله ئې سلام وګرځولو علي بن الفضيل
رحمه الله ته وويل شو تا د امام نه دا نه اوريده چې وې ويل: حور

مقْصُوراتٌ في الخِيَام ـ په جنت کې داسې حورې دي چې په خيمو کې بندې کړی شويدي؟ هغه وفرمائل: زه دغې محکې آيت ددې نه مشغول کړم چې په هغې کې داسې دي، ـ يرسل عليكما شواظٌ منْ نَارٍ ـ په تاسو باندې به راوليږل شي شنې خالصې لمبې د اور او د تامبې، يا هغه لمبه چې لوګی ورسره وي تاسو به انتقام نه شئ اخيستلی.

د عمر بن عبدالعزيز رحمه الله ويره:

وقال ابن أبي ذئب: حدثني من شهد عمر بن عبد العزيز ـ وهو أمير المدينة ـ وقرأ عنده رجل: {وإذا ألقوا منها مكاناً ضيقاً مقرنين دعوا هنالك ثبوراً}. بكى عمر حتى غلبه البكاء وعلا نشيجه، فقام من مجلسه، ودخل بيته، وتفرق الناس.

التخويف من النار: 33.

ابن ابي ذئب رحمه الله فرمائي: ما ته هغه چا خبر راکړی دی چې هغه د عمر بن عبد العزيز رحمه الله خوا ته پداسې حالت کې حاضر شوی وو چه، هغه په مدينه باندې امير وو د هغه په خوا کې يو کس دا آيت ولوستلو، چې دغه جهنميان چې کله ددغې جهنم نه يو تنګ ځاې ته وغورځولی شي دوې به په دغه ځاې کې هلاکت وغواړي.

عمر بن عبدالعزيز رحمه الله وجړل چې په هغه باندې جرا
او سلکۍ غالبې شوې دا ددغې ځاي نه پاڅيده او خلک
خواره شول.

د علي بن الحسين رحمه الله ويره:

وقال أبو نوح الأنصاري: وقع حريق في بيت فيه علي بن الحسين
وهو ساجد، فجعلوا ينادونه: يا ابن رسول الله النار، فما رفع رأسه
حتى أطفئت، فقيل: ما الذي ألهاك عنها؟ قال: النار الأخرى.

التخويف من النار: 33.

ابو نوح الأنصاري رحمه الله فرمائي: د علي بن الحسين رحمه الله
په كور اور ولګيده هغه به سجده باندې پروت وو خلكو ورته
اوازونه كول اى د الله د رسول بچيه اور دى، هغه تر هغې سر
راوچت نه كړه تر دې چې اور مړ شو ، د هغه نه پوښتنه وشو
چې تا لره څه شي غافل كړې وو؟ هغه ورته وويل: هغه بل اور
يعني د آخرت اور زه د دنيا د اور نه غافل كړى وم.

د صلة بن أشيم رحمه الله ويره:

ولما أهديت معاذة العدوية إلى زوجها، صلة بن أشيم، أدخله ابن
أخيه الحمام، ثم أدخله بيتاً مطيباً، فقام يصلي حتى أصبح، وفعلت
معاذة كذلك، فلما أصبح عاتبه ابن أخيه على فعله، فقال له: إنك

أدخلتني بالأمس بيتاً أذكرتني به النار، ثم أدخلتني بيتاً أذكرتني به الجنة، فما زالت فكرتي فيهما حتى أصبحت.

التخويف من النار: 34.

کله چې معاذه العدوية رحمها الله خپل خاوند صله بن اشيم ته واده کړی شوه وراره هغه لره حمام ته داخل کړه او بيا ئې خوشبو محل ته داخل کړه هغه چې کور ته راغی د واده په شپه باندې هغه تر سبا پورې په مونځ ولاړ وو، چې کله ئې سبا کړه د هغه وراره هغه لره ملامته کړه چې تا دا څرنګه کار وکړه.

هغه ورته جواب ورکړه چې زه تا داسې يو کور ته داخل کړم چې تا په هغه باندې ماته اور راياد کړه، او بيا دې داسې کور ته داخل کړم چې تا په هغه باندې ما ته جنت راياد کړه، بس زه فکر هميشه پدغې کې وو تر دې چې سبا مې کړو.

د امام اوزاعي رحمه الله ويره:

كان الأوزاعي إذا ذكر النار لم يقطع ذكرها ولم يقدر أحد مسألة عن شئ حتى سكت.

التخويف من النار: 34.

امام اوزاعي رحمه الله چې به کله د اور ذکر شروع کړه هغه به بيا نه قطع کولو، او هيڅ کس به دا طاقت نه لرلو چې د هغې نه د يوې مسألې پوښتنه وکړي تر دې چې هغه به چپ شو.

د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ويره:

وقال أبو حيان التيمي: سمعت منذ ثلاثين سنة أن عبد الل
بن مسعود مر على الذين ينفخون على الكير فسقط.

أخرجه الإمام أحمد.

عن سعيد بن الأضرم قال: كنت أمشي مع ابن مسعود فم
بالحدادين وقد أخرجوا حديداً من النار، فقام ينظر إليه ويبكي.

التخويف من النار: 35.

ابو حيان التيمي رحمه الله فرمائي: ديرشو كالونه يا د هغه نه زيات
زه دا خبره اورم چې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د هغ
كسانو په خوا باندې تيريده چې هغوې لوهاران وو او سپنې په اور
كې ګرمولې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه چې هغه ته وكتل
د بې هوشۍ حالت ورباندې راغی. بل روايت كې داسې راځي
چې هغه ته به ئې كتل او جړل به ئې.

عـن عطـاء الخراسـاني، كان أويـس القـرني يقـف على موضـ
الحـدادين فينظـر إليهـم كيـف ينفخـون الكـير، ويسـمع صـوت
النار، فيصرخ، ثم يسقط.

التخويف من النار: 35.

د اویس القرني رحمه الله ویره

عطاء الخراساني رحمه الله فرمائي: اویس القرنی رحمه الله به د لوهارانو اهنگرانو په خوا باندې تیریدلو هلته به ودریده د اور اواز به ئې واوریده هغه به یوه چغه کړه او بې هوشه به راپریوته.

د جهنم اورته د شهوتو شپول:

زما قدرمنو او عزتمندو ورونو یقینا چې جهنم او د هغې د اور نه ډیره زیاته ویره پکار ده، او دا ځکه چې دا د الله عذاب دی او د الله غضب اثر دی باید مومن د خپل رب او د هغې د عذابونو ویره په زړه کې کینوي لکن ډیر خلک ددغې اور نه پدې وجه باندې غافل دي چې هغوې په خپلو شهوتونو، د دنیا په خوندونو او مزو کې مشغول دي ټول ژوند ئې د شهوتونو ښکار دی تر دې چې هغوې پدې نشه کې وي چې جهنم ته ورروغورځیږي.

ځکه د جهنم نه ګیر چاپیره شهوتونه او خوندونه تاو دي، او جهنم ته ورغلی لارې هم د شهوتونو او خوندونو نه ډکې دي، کوم انسان چې دنیا کې د خوندونو، مزو، شهوتونو او خواهشاتو په لاره باندې روان وي دغه انسان دې ویریږي هسې نه چې دا

جهنم ته ورسيږي ځکه د شهوتونو خوندونو او مزو لارې جهنم ته تللې دي.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «حُفَّتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ، وَحُفَّتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ».

مسلم: 2822.

انس بن مالک رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائلي دي: جنت نه ګيرچاپيره مشکلات پټ کړی شوې او تاو کړی شويدي، او د جهنم نه ګير چاپيره شهوتونه ک پټ کړی شوې او تاو کړی شويدي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ، وَحُجِبَتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ».

أخرجه البخاري: 6487، ومسلم: 2823.

ابوهريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائلي دي: د جهنم اور په شهوتونو کې په پرده کړی شوی دی او جنت به مشکلاتو کې په پرده کړی شويدی، يعنی د جهنم نه د شهوتونو او خوندونو پردې تاو دي او د جنت نه د مشکلاتو پردې تاو دي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ..... «قال الله عزوجل لجبريل» اذهبْ إِلَى النَّارِ فانْظُرْ إِلَيْهَا

وَإِلَى مَا أَعْدَدْتُ لأَهْلِهَا فِيهَا، فَإِذَا هِيَ يَرْكَبُ بَعْضُهَا بَعْضًا، فَرَجَعَ إِلَيْهِ فَقَالَ: وَعِزَّتِكَ لاَ يَسْمَعُ بِهَا أَحَدٌ فَيَدْخُلَهَا، فَأَمَرَ بِهَا فَحُفَّتْ بِالشَّهَوَاتِ، فَقَالَ: ارْجِعْ إِلَيْهَا، فَرَجَعَ إِلَيْهَا فَقَالَ: وَعِزَّتِكَ لَقَدْ خَشِيتُ أَنْ لاَ يَنْجُوَ مِنْهَا أَحَدٌ إِلاَّ دَخَلَهَا.

أخرجه أبو داود: 4744، والنسائي: 3763، وابن حبان: 7394 وحسنه الألباني في صحيح الترغيب.

ابو هريرة رضي الله عنه فرمائي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي: كله چې الله رب العالمين جهنم پيدا كړه جبريل عليه السلام ته ئي وويل: ته اور ته ورشه او هغه وګوره، او هغه عذابونو ته وګوره چې ما د جهميانو لپاره تيار كړې دي. هغه چې ورغلی د جهنم اور ئې وكتلو چې د هغې لمبې يو د بل دپاسه وي هغه بيرته واپس راغلی او وې ويل: زما دې ستا په عزت باندې قسم وي داسی څوک نشته چې ددی صفت دی واوری او بيا دی ورته داخل شي.

يعني چا چې ددې صفت واوريده هغه به ددې نه تښتي او ديته به نه داخليږي د هغې نه ګير چاپيره خوندونه او شهوتونه تاو كړی شو، بيا ورته الله تعالی وويل: ته ورشه او وګوره، هغه ورغی او بيرته واپس شو او وې ويل: زما دې ستا په عزت باندې قسم وي زه ويريدم چې ددې نه به هيڅوک نجات ونه مومي.

زما قدمرنو او عزتمندو ورونو دې حديثونو کې ډېره د ويرې خبره ذکره شوه او هغه دا چې د جهنم نه ګير چاپيره شهوتونه، خوندونه او مزې تاو او شپول دي، يعنی کوم يو انسان چې هغه په دنيا کې د شهوتونو خوندونو او مزو په لاره باندې روان وي په هغه باندې دا خطره ده چې دغه لارې خو جهنم طرف ته تللې دي هسې نه چې دغه انسان هم پدې لارو باندې روان وي او هغه چهنم ته چيرته ونه غورځيږي پکار دا ده چې په دنيا کې يو سړی د شهوتونو خوندونو نه د بائيکاټ زندګي تيره کړي د دې لپاره چې د جهنم د اور نه بچ شي.

رب العالمين دې ترې مونږه او تاسې بچ کړي. آمين

د جهنم نومونه

قرآن کريم کې الله رب العالمين د جهنم لپاره يو څو نومونه ذکر کړيٍ دي، او دغه د جهنم نومونه د جهنم صفتونه دي، چې هر يو نوم په هر يو صفت باندې دلالت کوي، بايد مونږه او تاسې په هر يو نوم کې سوچ او فکر وکړو او د هغې په معنی کې سوچ او فکر وکړو، او بيا د هغې نه د ځان د بچاو کوشش وکړو.

1: جهنم:

جهنم او جهنام په لغت کې د هغې کوهې په صفت کې راځي چې د هغې ژوروالی زيات وي. جهنم ته هم ځکه جهنم ويل

کيږي چې ددې ژوروالی ډير زيات دی، او بيا د لغت علماء ذکر کوي چې جهنم د هغې اور لپاره نوم دی چې الله تعالی پرې کافران او اشرار عذابوي، قرآن کريم دغه نوم ذکر کړی دی فرمائي: : يَوْمَ يُدَعُّونَ إِلَىٰ نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا: **الطور: 13.**

په هغه ورځ چې دوې به د جهنم اور ته ديکه کولی شي په ديکه کولو باندې.

2: لظی:

لظی هغې اور تـه ويـل کيـږي چې هغـه لمبې وهي جهنم تـه هم ځکه دا لقب ورکړی شو چې دا لمبي وهي قـرآن کـريم د جهـم دا صـفت ذکـر کـړی : كَلَّا إِنَّهَـا لَظَـىٰ (15) نَزَّاعَـةً لِلشَّوَىٰ: **المعارج: 15-16.**

هيچرې داسې نه ده دغه جهنم لمبې وهونکی دی څرمنې لره راکش کونکی دی.

3: الحطمة:

په عربي لغت کې حطم هغې سړی تـه ويـل کيـږي چې هغـه خـوراک کـوي او نـه مړيـږي، جهـنم تـه همـدا لقب ځکـه ورکـړی شـويدی چـې الله رب العـالمين بـه جهـنم تـه بـار بـار انسانان ورغورځوي او هغـه بـه نـه مړيـږي بلکـه بـار بـار بـه

داسې وائي چې هـل مـن مزيـد، ايـا زيـاتي څـه شی شته دی؟

دويمه معنی د حطم ماتول دي.

جهنم ته هم حطمة پدې بنياد باندې ويل کيږي چې هغه د

انسانانو هډوکي هم ماتوي قرآن کريم دا نوم ذکر کوي: ـ كَلَّا

لَيُنبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ (4) وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحُطَمَةُ (5) نَارُ اللهِ الْمُوقَدَةُ

(6) الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ. **الهمزة: 4-7.**

هيڅکله داسې نه ده دوې به وغورځولی شي په حطمه کې، تا لره

څه شي پوهه کړه چې حطمه څه شی دی هغه د الله تعالی هغه

بل کړی شوی اور دی چې هغه په زړونو باندې راخيژي، يعنې

زړه ته ئې اثر رسيږي.

4: السعير:

سعير په لغت عربي کې اور او د هغې لمبو ته ويل کيږي جهنم ته

هم ځکه سعير ويل کيږي چې دغه هم د اور کور دی او د هغې

لبمې ډير زياتې دي. الله رب العالمين فرمائي: ـ فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ

وَفَرِيقٌ فِي السَّعِيرِ ـ **الشورى: 7.**

يوه ډله به په جنت کې وي او بله ډله به اور کې وي.

5: السقر:

د جهنم بل نوم سقر دی، سقر په لغت عربي کې ولې کولو ته ویل کیږي لکه لغت عربي کې ویل کیږي سقرته الشمس، لمر ولې کړی دی. ـ لسان العرب ـ

جهنم ته هم ځکه سقر ویل کیږي هغه ګټي ویلې کوي، یا سقر سختې ګرمی ته ویل کیږي، جهنم ته هم ځکه سقر وائي چې دده حرارت او ګرموالی دیر زیات دی. ـ لسان العرب ـ

قرآن کریم کې ئي دا نوم هم ذکر دی، الله تعالی فرمائي: ـ يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي النَّارِ عَلَى وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ ـ القمر: 48.

په هغه ورځ باندې چې دوې به په اور کې په مخ باندې راښکلی شي او ورته به وویل شي چې تاسو د اور عذاب وڅکئ.

وقال تعالى: « مَا سَلَكَكُمْ فِي سَقَرَ ».

المدثر: 42.

تاسو دې اور ته څه شي داخل کړئ.

6: الجحیم:

د جهنم بل نوم جحیم دی، جحیم هغه سخت ګرم اور ته ویل کیږي چې لمبې وهي او شغلی ترې راخیژي. لسان العرب.

او جهنم هم پدغه صفاتو باندې موصوف اور دی، قرآن کریم کې الله تبارک وتعالی دا نوم هم ذکر کړی دی.

الله تعالی فرمائي: « خُذُوهُ فَغُلُّوهُ (30) ثُمَّ الْجَحِيمَ صَلُّوه ».
الحاقة: 31- 30.

تاسو ده لره ونیسئ بیا ئي غاړې ته طوقونه واچوئ بیا ئي اور ته ننباسئ.

7: هاوية:

د جهنم بل نوم هاویه دی، هاویه په لغت عربی کې هاویه هغه ژور ځای ته ویل کیږي چې د بره نه وریکې ښکته یو څیز ګذارولی شي. امام قرطبي رحمه الله فرمائي: جهنم ته هم ځکه هاویه ویل کیږي چې پدیکې هم د جهنم والا د بره نه ښکته غورځولی شي.

په قرآني آیتونوکې د جهنم د عذاب صفات:

الله رب العالمین په قران کریم کې د جهنم عذاب په سختو هیبتناکو عذابونو باندې موصوف کړی دی، چې یو صفت کې سړی سوچ او فکر کوي هغه د بل نه زیات هیبتناک ښکاري، او داسې صفات دي چې په انسان باندې د هغې زندګۍ ترخه کي، رب العالمین دې ترې مونږه او تاسې محفوظ کړي او الله دې ترې پناه راکړي.

1: نَارٌ حَامِيَةٌ: القارعة: 11.

قرآن کریم د جهنم د اور لپاره یو صفت دا ذکر کړی دی چې دا ډیر ګرم اور دی، او ددې ګرموالی ذکر په احادیثو کې شوی دی چې د جهنم اور د دنیا اورونو نه اویا چنده یا سل چنده زیات ګرم دی.

2: عذاب الحريق: الحج: 22.

الحريق، فعيل وزن دی په معنی د فاعل ، محرق باندې دی، یعنی سوزونکی عذاب. «تفسير الطبري».

3: عذاب السموم: الطور: 27.

سموم ګرم باد ته ویل کیږي یعني د ډیر حرارت د وجې نه به ګرم باد ولګي. تفسير القرطبي.

4: بئس المصير: الملک: 6، المجادلة: 8.

ډیر بد د ورګرځیدلو ځای.

5: بئس القرار: ابراهيم: 29.

ډیر بد د قراری ځای.

6: للطاغين مآبا: النباء: 22.

د سرکشانو لپاره د ورتلو او واپس کیدو ځای.

7: ذات لهب: المسد: 3.

یعني هغه اور چې د لمبو والا دی.

8: بئس المهاد: آل عمران: 197 ، الرعد: 18.

9: دار البوار: **ابراهيم: 28.**

د هلاکت کور.

10: سوء الدار: **غافر: 52.**

ډير بد ترين کور.

11: النار الكبرى: **الأعلى: 12.**

ډير لوی اور.

12: ناراً تلظى: **الليل: 14.**

هغه اور چې لمبي وهونکی دی.

13: نزاعة للشوى:

هغه اور چې څرمني کش کوي.

14: وقودها الناس والحجارة:

هغه اور چې د هغې خشاک خلک او ګټې دي.

د جهنم د اور نژدې والی:

د الله نبي صلى الله عليه وسلم مونږه ته خبر راکړی دی چې د جهنم اور تاسو ته ډير زيات نژدې دی، او داځکه چې د جهنم اور انسان ته د کفر او ګناهونو په وجه باندې ورکول کيږي او هغه انسان ته ډير زيات نژدې دی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بنِ مسعودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْـهُ، قَـالَ: قَـالَ النَّبِيُّ صَـلَّى اللهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ: «الجَنَّـةُ أَقْـرَبُ إِلَى أَحَـدِكُمْ مِـنْ شِرَاكِ نَعْلِـهِ، وَالنَّارُ مِثْلُ ذَلِكَ».

أخرجه البخاري: 6488.

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلې دي: جنت په تاسو کې يو کس ته ستاسې د څپلی تسمی نه ډیر زیات نږدې دی، او اور همدغه رنګه دی.

قـال ابـن بطـال رحمـه الله: فيـه أن الطاعـة موصـلة إلى الجنـة، وأن المعصـية مقربـة إلى النـار وأن الطاعـة والمعصـية قـد تكون في أيسر الأشياء.

فتح الباري

امـام بطـال رحمـه الله فرمـائي: پـدې حـديث کـې دا خـبره ذکـر ده چې نيک عملونـه انسـان لـره جنـت تـه رسـوي، او ګناهونـه انسان لـره د جهـنم اور تـه نـږدې کـوي. او ګنـاه کلـه پـه ډيـرو څيزونو کې ډير اسانه وي.

يعنې دې حديث کې مونږه نبی عليه السلام ويروي چې جهنم ته انسان د ګناه په وجه باندې داخليږي او ګناهونه د انسان د بدن نه صادريږي او هغه انسان ته ډير نږدې دی، او همدغه

رنګه جنت باندې تيزې راکوي چې هغه د نيکې په وجه باندې حاصليږي او هغه د انسان بدن ته ډيره نژدې ده.

د جهنم دروازې:

قرآن او سنت کې الله او د هغه رسول د جهنم د دروازو خبره ورکړې ده چې د جهنم لپاره اووه دروازې دي، او د هرې لوې ګناه لپاره ځانله دروازه ده، چې د هغې خاوندان به ددغې دروازې نه داخليږي، او دغه دروازې په رمضان المبارک کې تړلې کيږي، او کله چې جهنميان دغې دروازو ته راورسيږي ملائکې به هغوې ته د زجر، رټنې او د غصې په حال کې استقبال کوي او د هغوې خپګان او پريشانې به نوره هم ددې سره زياته شي. الله تعالى فرمائي: لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ لِكُلِّ بَابٍ مِنْهُمْ جُزْءٌ مَقْسُومٌ. سورة الحجر: 44.

ددې جهنم لپاره به اووه دروازې وي، د هرې دروازې لپاره به معلومه برخه وي، او تقسيم کړې شوې حصه وي.

دې ايت کې الله تعالى د جهنم د دروازو خبر ورکړه او بيا ئې دا خبره بيان کړه چې د جهنم اووه دروازې دي چې د جهنم د دروازو به خپله تقسيم کړې شوې او معلومه برخه وي.

فَادْخُلُوا أَبْوَابَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا فَلَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِينَ.
سورة النحل: 29.

پس تاسو د جهنم دروازو ته داخل شئ چې تاسو به په هغې کې همیشه یې، پس دغه جهنم د تکبر کونکو لپاره ډیر بد ترین ځای دی.

دې آیت کې الله رب العالمین د جهنم د دروازو خبر ورکړه او بیا یې دا خبره هم بیان کړه چې د الله تعالی د طرف نه به جهنم والاو ته حکم کولی شي چې تاسو دې ته داخل شئ او بیا الله رب العالمین خبر ورکړه چې جهنم د داخلیدلو لوی سبب تکبر دی، او دغه جهنم د تکبر کونکو ځای دی.

وَسِيقَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِلَى جَهَنَّمَ زُمَرًا حَتَّى إِذَا جَاءُوهَا فُتِحَتْ أَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِنْكُمْ يَتْلُونَ عَلَيْكُمْ آيَاتِ رَبِّكُمْ وَيُنْذِرُونَكُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَذَا قَالُوا بَلَى وَلَكِنْ حَقَّتْ كَلِمَةُ الْعَذَابِ عَلَى الْكَافِرِينَ.

سورة الزمر: 73.

او ووبه شړلی شي کافران جهنم ته ډلې ډلې، تر دې چې دوې جهنم ته راشي د هغې دروازې به ورته خلاصې کړی شي او د جهنم څوکیداران به دوې ته ووائي: آیا تاسو ته ستاسو د جنس نه رسولان نه وو راغلی چې په تاسو باندې يې ستاسو د رب ایاتونه لوستل او تاسو يې ددې ورځې د ملاقات نه ویرولې؟ هغوې به

ورته ووائي: ولې نه وو راغلي لکن د عذاب فیصله په کافرانو باندې ثابته شوه.

دې ایت کې الله رب العالمین خبر ورکړه چې جهنمیان به جدا جدا ډلې جهنم ته شړل کیږي، یو ډله د شرابیانو بله ډله د زناکارانو بله ډله د غلو، او همدغه رنګه نور...

او کله چې جهنمیان د جهنم دروازو ته راشي ملائکې به ورته د زجر او رټنې خبرې کوي او دا به ورته وائي: چې ولې تاسو ته رسولان نه وو راغلي چې تاسو ئې ددې ورځې د ملاقات نه ویرولي وئ؟ هغوې به نور هم رسوا ذلیله او شرمنده شي، او همدغه رنګه الله تعالی داسې خبر هم ورکړی دی چې جهنمیان چې کله د جهنم دروازو ته داخل شي دغه دروازې به پدوې باندې بندې کړی شي بیرته به د وتلو طمع نه لري.

عَلَيْهِمْ نَارٌ مُؤْصَدَةٌ. **سورة البلد: 20.**

پدوې باندې به داسې اور وي چې د هغې دروازې به دوې پسې بندې کړی شوې وي.

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمائي: مؤصدة معنی ده چې مغلقة الأبواب، دوې په سې به ددغې جهنم دروازې بندی کړی شوې وي.

امام مجاهد رحمه الله فرمائي: أحد الباب د قريشو په لغت کې معنی ده أغلقه يعنې د دروازې بند والې ته ويل کيږي.

عَنْ ابْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لِجَهَنَّمَ سَبْعَةُ أَبْوَابٍ، بَابٌ مِنْهَا لِمَنْ سَلَّ السَّيْفَ عَلَى أُمَّتِي» أَوْ قَالَ: «عَلَى أُمَّةِ مُحَمَّدٍ».

سنن الترمذي: 3414، قال الألباني صحيح بمجموع طرقه الصحيحة: 1812.

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي: د جهنم لپاره اووه دروازې دي يو دروازه وريکې خالص د هغه چا لپاره ده چې د محمد صلى الله عليه وسلم په امت باندې توره راوباسي.

عن عتبة بن عبد السلمي رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: الجنة لها ثمانية أبواب والنار لها سبعة أبواب.

أخرجه أحمد: وصححه الألباني بمجموع طرقه في الصحيحة: 1812.

عتبه بن عبد السلمي رضي الله عنه فرمائي: چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې هغه به فرمائل: د جنت لپاره اته دروازې دي او د جهنم لپاره اووه دروازې دي.

د جهنم د دوه دروازو تر مینځ مسافت:

د جهنم د دوه دروازو تر مینځ به دومره مسافت وي چې اویا کاله به د دوه دراوزو تر منیځ مزل کیږي.

عن أبي رزين العقيلي، عن النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ، قال: لعمر إلهك إن للنار سبعة أبواب، ما منهن با بان إلا ويسير الراكب بينهما سبعين عاماً».

أخرجه أحمد: 4/ 13.

ابو رزين العقيلي رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي: زما دې ستا د إله په عمر باندې قسم وي د جهنم لپاره دوه دروازې دي، د هغې نه اووه دروازې نه شته دی مګر یو کس چې په سورلۍ باندې سور وو هغه به د هغې تر مینځ اویا کاله مزل کوي.

د جهنم د دروازو بیان:

د جهنم د دروازو په باره کې د علماء کرامو دوه قولونه دي.

اول قول:

اول قول د علماء کرامو دا دی چې د جهنم اووه دروازې دي.

او د هرې لوې ګناه لپاره مستقله دروازه ده لکه څرنګه چې د هر نیک عمل لپاره په جنت کې جدا دروازه ده. او دوې د عتبه بن عبدالسلمي رضي الله عنه په حدیث باندې استدلال کوي.

عن عتبة بن عبد السلمي مرفوعاً: (للجنة ثمانية أبواب و لجهنم سبعة أبواب و بعضها أفضل من بعض).

ابن حبان: 4663.

عتبة بن عبدالسلمي رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي: د جنت لپاره اته دروازې دي او د جهنم لپاره اووه دروازې دي، بعضې د هغې نه د بعضو نورو غوره دي.

دويم قول:

دويم قول دا دی چې د جهنم لپاره اووه طبقې دي، اوله طبقه به ډکه شي بيا به دويمه طبقه ډکه شي او دغه رنګه نورې.

دا قول د علي بن أبي طالب رضي الله عنه ابن جريج او د بعضو نورو نه نقل کړی شوی دی.

دا قول د علي بن أبي طالب رضي الله عنه ابن جريج او د بعضو نورو نه نقل کړی شوی دی.

عن علي قال: أبواب جهنم سبعة بعضها فوق بعض، فيمتلئ الأول ثم الثانی، ثم الثالث، ثم تمتلئ كلها.

تفسير الطبري: 16016.

علي بن أبي طالب رضي الله عنه فرمائي: د جهنم اووه دروازې دي بعضې د بعضو دپاسه دي، او اول به اولنې ډکه شي بيا دويمه او بيا به نورې ډکې شي.

د علي رضي الله عنه ددې قول نه معلوميږي چې د اور اووه طبقې دي او يوه يوه طبقه به ډکيږي او بيا به ټول ډک شي.

عن هبيرة بن مريم قال: سمعت عليا يقول: (إن أبواب جهنم بعضها فوق بعض، فيملأ الأول ثم الذى يليه ثم الذى يليه إلى آخرها).

تفسير الطبري:

هبيرة بن مريم وائي: ما د علي بن أبي طالب رضي الله عنه نه اوريدلې دي چې هغه به فرمائل: د جهنم دروازې بعضې د بعضو نه دپاسه دي. اوله به ډكه شي بيا به دويمه او همدغه رنګه تر آخره پورې.

عن ابن جريج، قوله (لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ) قال: أولها جهنم، ثم لظى، ثم الحطمة، ثم السعير، ثم السقر، ثم الجحيم، ثم الهاوية.

تفسير الطبري: 16018.

ابن جريج رحمه الله فرمائي: د جهنم اووه دروازې دي اوله جهنم بيا لظى، بيا حطمه، بيا سعير، بيا سقر، بيا جحيم بيا هاويه.

د جهنم دروازې په رمضان کې بندې وي:

رمضان المبارک د عظمت او شرف میاشت ده او جهنم د غضب او عذاب کور دی کله چې رمضان المبارک داخل شي پدغه میاشت کې د جهنم دروازې بندې او وتړل شي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «إِذَا جَاءَ رَمَضَانُ فُتِّحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ، وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ النَّارِ، وَصُفِّدَتِ الشَّيَاطِينُ».

أخرجه البخاري: 1898، ومسلم: 1079.

ابو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلي دي: کله چې رمضان المبارک راشي د جنت دروازې خلاصې شي او د اور دراوزې وتړل شي او سرکشه شیطانان په زنځیرونو وتړل شي.

د جهنم دیوالونه:

قرآن کریم مونږ ته دا خبر راکړې دی چې د جهنم نه ګیر چاپیره دیوالونه تاو دي او هغه ډیر لوې او غټ دي.

الله تعالی فرمائي: إِنَّا أَعْتَدْنَا لِلظَّالِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا

بیشکه مونږ د ظالمانو لپاره اور تیار کړی دی چې پدې باندې به د هغې دیوالونو احاطه کړې وي.

د سرادق تفسیر:

د مفسرینو نه د سرادق یو څو تفسیره نقل شویدي.
1: قال الزجاج في تفسیر السرادق: كل ما أحاط بشيء نحو الشقة في المضروب والحائط المشتمل على الشيء.
زجاج د سرادق تفسیر کوي او فرمائي: سرادق هر هغه څیز ته ویل کیږي چې په بل څیز باندې ئې احاطه کړې وي. او هغه دیوال چې د کوټو نه کیر چاپیره تاو وي.
2: ابن قتیبة رحمه الله فرمائي: پدوې باندې به عذاب داسې احاطه کړې وي لکه دغه چې دیوال وي او یا خیمه وي چې پدوې باندې وهل شوې وي.
3: حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي: سرادقها نه مراد د دیوالونه دي.
4: ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي: د اور دیوال به وورباندې وهل شوې وي.

د جهنم غټوالی او پراخي:

جهنم الله رب العالمین داسې لوې او پراخه کور پیدا کړی دی چې دا ټول جهنمیان به په هغې کې وروغورځولی شي، او هغه به بیا هم نه وي ډک شوی بلکه داسې اواز به کوي چې هل من مزید؟ آیا زیاتې نور څه شته دی؟ او د جهنم د غټوالی یوه اندازه

ددې نه هم معلومېږي چې کوم پُل چې په جهنم باندې پروت دی دغه هم دومره لوی دی چې ټول انسانان به پدغه باندې ځایږي، لکه څرنګه چې حدیث کې دغه خبره ثابته ده.

عن عَائِشَةَ أَنَّهَا سَأَلَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَوْلِهِ: {وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمَاوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ}فَأَيْنَ النَّاسُ يَوْمَئِذٍ ؟ قَالَ: " عَلَى جِسْرِ جَهَنَّمَ ".

أخرجه أحمد: 6، 171، والترمذي: 3241، والحاكم: 2، 436، وصححه ووافقه الذهبي.

عائشة رضي الله عنها فرمائي: چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه چې الله رب العالمین فرمائي: چې دا زمکه د قیامت په ورځ باندې الله رب العالمین په قبضه کې وي او اسمانونه به ئې په یو لاس کې راتاو کړې وي، پدغه ورځ باندې به خلک چیرته وي؟ هغه وفرمائیل: دوې به د جهنم په پُل باندې وي.

دې حدیث کې مونږه ته دا خبره معلومېږي چې دا پل دومره لوې دی چې ټول انسانان به په دې باندې ځائيږي، او دویمه دا خبره چې دا جهنم څومره زیاتې پراخې لري ځکه چې داسې یو لوې پل پرې پروت دی چې په هغې باندې ټول انسانان ځائيږي، د جهنم پراخي او غټوالی باندې دا خبره هم دلالت کوي چې جهنم

ته به ډیر زیات انسانان داخلیږي او د هر انسان چې هغه کافر وي په جهنم کې به د هغه بدن دومره غټ کیږي چې د هغې د کیناستلو ځاې به د بیداء دښتې په مقدار باندې وي او د مکې او مدینې تر مینځ چې څومره مسافه ده دومره به ئې بدن غټ وي چې هغه څلور سوه کیلو متره ده، او بیا به هم جهنم نه ډکیږي بلکه د نورو کسانو مطالبه به کوي چې نور کسان هم راوغورځوه.

د قیامت په ورځ د جهنم راوړل کیدل:

د قیامت په ورځ باندې الله رب العالمین په جهنم باندې ملائکې مقرر کړی دي او دغه به راوړي د هغه راتلل قرآن کرم کې هم ذکر دي الله تعالی فرمائي: وَجِيءَ يَوْمَئِذٍ بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ الْإِنْسَانُ وَأَنَّى لَهُ الذِّكْرَى .

الفجر: 23.

پدغه ورځ باندې به جهنم راوړل شي او پدغه ورځ باندې به یاد وي انسان د هغه ټول عمل.

پدې آیت کې هم الله رب العالمین دا خبره ذکر کړه چې د قیامت په ورځ به جهنم راوړل کیږي.

عَنْ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يُؤْتَى بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لَهَا سَبْعُونَ أَلْفَ زِمَامٍ، مَعَ كُلِّ زِمَامٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ يَجُرُّونَهَا».

أخرجه مسلم: 2842، والترمذي، 2573.

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلي دي: د قیامت په ورځ باندې به جهنم راوړلی شي په هغه کې به اویا زره زنځیرونه وي او د هر زنځیر سره به اویا زره ملائکې وي.

د جهنم خشاک

د جهنم د عذاب یو ناشنا هیبت او ویرونکی حالت دا دی چې د دنیا اور په لرګو باندې بلیږي لکن د آخرت د اور لپاره خشاک انسانان او ګټې دي، او یقیناً چې هغه اور چې په ګټه باندې بلیږي او ګټه د هغې خشاک وي هغه به انتهائی ډیر زیات ګرم وي او هغه به ډیر زیات سوزونکی وي.

(فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ).

البقرة: 24.

الله تعالی فرمائي: تاسو د هغې اور نه ویریږئ چې د هغې خشاک خلک او ګټې دي، او هغه د کافرانو لپاره تیار کړی شوی دی،

ددغې کتهو تفسير، د امت د علماء کرامو او صحابه کرامو د ددغې کتهو په باره کې يو څو تفسيره نقل شويدي.

1: عبدالله بن مسعود رضي الله عنه:

عبدالله بن مسعود رضي الله فرمائي: چې ددغې نه مراد کبريت يعني کوله، ـ سنګ زوغال ـ

دي چې الله تعالى پيدا کړی دي.

عن ابن مسعود رضي الله عنه قال: (حجارة الكبريت خلقها الله كما شاء).

أخرجه أحمد في المستدرك: 2، 494، وصححه ووافقه الذهبي.

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائي: چې ددې نه مراد د کبريت کتې دي چې الله رب العالمين چې څرنګه غوښتلې دي همدغه رنګه ئې پيدا کړې دي.

د امام ابن رجب رحمه الله وينا:

امام ابن رجب رحمه الله فرمائي: اکثر مفسرينو قول دا دی چې ددغې کتهو نه مراد د کبريت کتې يعني کولا ده، او الله رب العالمين دا کتې ځکه انتخاب کړې دي چې پديکې يو څو صفات دي.

1: زر بليدل.

2: بد بوئي.

3: ډیر زیات لوګی کول.

4: په بدن پورې ډیر سخت نختل او پیوسته کیدل. او چې کله ګرم شي دده ګرمائیش ډیر زیات سخت دي.

التخویف من النار، ونقله القرطبي عن ابن مسعود.

دویم قول:

د علماء کرامو دویم قول دا دی چې ددې نه مراد هغه ګټې دي چې د هغې نه بوتان جوړیږي. لکه څرنګه چې همدا خبره قرآن کریم ذکر کړې ده.

(إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ أَنْتُمْ لَهَا وَارِدُونَ).

الأنبياء: 98.

بیشکه تاسې او هغه څه چې تاسې ئې د الله نه سوا عبادت کوئ دغه د جهنم خشاک دي تاسو به دې ته ورځئ.

د علماء کرامو بیا ددې بوتانو په اور کې د غورځولو حکمت ذکر کوي او هغه دا دی چې دا بوتان خو جمادات دي، دوې چې جهنم ته ورغورځولی کیږي دوې ته کوم عذاب نه حاصلیږي لکن پدیکې حکمت دا دی چې رب العالمین به دغه بوتان هم د جهنم اور ته پدې بنیاذ باندې ورواچوي چې ددې بوتانو عابدان نور هم ذلیله، رسوا او شرمینده شي چې مونږه چې د چا

عبادت او بندګي کوله هغه هم زمونږه سره ذليله د جهنم په اور کې پراته دي.

لمر او سپوږمۍ په جهنم کې:

همدغه رنګه به الله رب العالمين لمر او سپوږمۍ د جهنم په اور کې وغورځوي او د هغې حکمت همدا دی چې د لمر او سپوږمۍ هم عبادت شوی دی، الله رب العالمين به ئي د دغې عابدانو د ذلت د وجې نه د جهنم اور ته ورغورځوي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ الله عَنْهُ قال: قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الشَّمْسُ وَالقَمَرُ مُكَوَّرَانِ يَوْمَ القِيَامَةِ».

أخرجه البخاري: 3200.

ابو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلې دي: لمر او سپوږمۍ به راتاول شي او د جهنم په اور کې به وغورځولې شي.

د جهنم ګرمائيش:

دا يو ښکاره حقيقت دی چې کوم اور په کټو باندې بليږي او کټې د هغې خشاک دي هغه به انتهائی زيات ګرم وي لکه خرنګه چې قران او سنت مونږه او تاسې ته د هغې حرارت او ګرمائيش ذکر کړی دی.

(قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا). **التوبة: 81.**

ته ووايه د جهنم اور ډير زيات ګرم دی.

(إِنَّهَا تَرْمِي بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ (32) كَأَنَّهُ جِمَالَتٌ صُفْرٌ).

المرسلات: 32 - 34.

بې شکه دا اور داسې بڅرې، سپرغۍ ولې لکه بنګلې ګويا که دا سره سره اوښان دي، يا بې مهاره اوښان دي.

(سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ). مسد: 3.

زر دی چې دوې به داسې اور ته داخل شي چې هغه به د لمبو والا وي.

عن عَائِشَةَ رَضِيَ الله عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «رَأَيْتُ جَهَنَّمَ يَحْطِمُ بَعْضُهَا بَعْضًا، وَرَأَيْتُ عَمْرًا يَجُرُّ قُصْبَهُ، وَهُوَ أَوَّلُ مَنْ سَيَّبَ السَّوَائِبَ».

أخرجه البخاري، 4624، ومسلم: 901.

عائشة رضي الله عنها فرمائي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلی دی: ما جهنم وليده بعضو لمبو به ئي بعضې ماتولې.

او ما پديکې عمرو بن لحيي الخزاعي وليده چې د جهنم په اور کې ئي خپلې کولمې کش کولې، ځکه دا اولنې هغه څوک دی چې سائبه ئي مقرر کړې ده.

دې حديث کې دا ذکر شو چې د جهنم اور داسې سختې لمبې وهي چې يوه لمبه ئې بلــه مـاتوي او داسې شدت او جوش سره بليږي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «نَارُكُمْ هَذِهِ الَّتِي يُوقِدُ ابْنُ آدَمَ جُزْءٌ مِنْ سَبْعِينَ جُزْءًا، مِنْ نار جَهَنَّمَ» قيل يا رسول الله: إِنْ كَانَتْ لَكَافِيَةً؟ قَالَ: «فَإِنَّهَا فُضِّلَتْ عَلَيْهَا بِتِسْعَةٍ وَسِتِّينَ جُزْءًا، كُلُّهن مِثْلُ حَرِّهَا».

أخرجه البخاري، 3265، ومسلم: 2843، واللفظ له.

ابو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي: ستاسې دغه اور چې بنی آدم ئې بلوي د جهنم د اور د اوياو حصو نه يوه حصه ده.

پوښتنه وکړی شوه چې يا رسول الله بيشکه دا هم کافي وو. هغه وفرمائل: بيشکه د جهنم اور په هغه باندې يو کم اويا حصې زياتې کړی شوې دی، هغه ټول د همدې په شان ګرم دی.

عن أبي هريرة رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: (إن هذه النار جزء من مائة جزء من جهنم).

أخرجه أحمد: 8921، قال الهيثمي في مجمع الزوائد: 10، 387، ورواه أحمد ورجاله رجال الصحيح.

ابو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي: د دنيا اور د جهنم د اور برخه ده.

د جهنم د عذاب تفاوت:

عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ رضي الله عنه عن النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «مِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى كَعْبَيْهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى رُكْبَتَيْهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى حُجْزَتِهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى تَرْقُوَتِهِ».

أخرجه مسلم: 2845.

سمرة بن جندب رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي: جهنميان به د جهنم په عذاب کې مختلف انداز کې وي.

بعضې به هغه کسان وي چې اور به ئې تر ګيتو پورې رارسيدلی وي، او بعضې به هغه کسان وي چې اور به ئې تر زنګونونو پورې رارسيدلی وي، او بعضې به هغه کسان وي چې اور به ئې تر بدې پورې رارسيدلی وي او بعضې به هغه کسان وي چې اور به ئې تر ختته پورې رارسيدلی وي.

دې حديث کې نبی صلى الله عليه وسلم دا خبره ذکر کړه چې په جهنم کې به جهنميان په مختلف انداز کې د جهنم په اور کې

عذابيږي او دا تفاوت به د ګناهونو د تفاوت په مقدار وي د کوم انسان ګناهونه چې ډير کم وي هغه لره به د جهنم اور د ګيټو پورې رارسيدلی وي. او کوم انسان چې هغه په دنيا کې په ګناهونو کې ځان غوپه کړی دی په جهنم کې به هم په اور کې غوپه کړی شوې وي.

د جهنم ژوروالی:

لکه څرنګه چې الله رب العالمين جهنم ډير پراخه کور پيدا کړی دی چې د هغې د پراخی مقدار مخکې ذکر شو همدغه رنګه الله رب العالمين هغه ډير زيات ژور کور پيدا کړی دی چې د هغې ژوروالي په باره کې راځي چې هغه د مشرق او مغرب تر مينځ چې څومره مسافه ده ددې نه زيات د هغې ژوروالی دی.
اويا کاله به وړيکې ښکته روان ئي بيا به ئي هم بيخ ته ونه رسيږي چې د هغې تذکره په احاديثو کې شويده يو څه به د هغې نه دلته د الله په فضل او توفيق سره ذکر کړو.
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عن النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم قال: «إِنَّ العَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالكَلِمَةِ، مَا يَتَبَيَّنُ فِيهَا، يَزِلُّ بِهَا فِي النَّارِ أَبْعَدَ مِمَّا بَيْنَ المَشْرِقِ».

أخرجه البخاري، 6477، ومسلم: 2988.

ابـو هريـرة رضي الله عنـه فرمـائي: چـې رسـول الله صـلى الله عليـه وسـلم فرمـائيلي دي: بيشـکه يـو سـړی بـه يـوه خـبره کوي هغه تـه بـه ورپـکـې څـه نـه معلـوميږي - يعنـې چـې دا دومره د نقصان خبره ده.

لکن دا به د هغې په وجه باندې د مشرق او مغرب تر مينځ چې څومره مسافه ده د هغې نه هم زيات ښکته لاړ شي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِذْ سَمِعَ وَجْبَةً، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَدْرُونَ مَا هَذَا؟» قَالَ: قُلْنَا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: «هَذَا حَجَرٌ رُمِيَ بِهِ فِي النَّارِ مُنْذُ سَبْعِينَ خَرِيفًا، فَهُوَ يَهْوِي فِي النَّارِ الْآنَ، حَتَّى انْتَهَى إِلَى قَعْرِهَا».

أخرجه مسلم: 2844، أحمد: 8839.

ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمائي: چې مونږه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ناست وو ناګهانه هغه يو ګرز واوريده، نبی صلى الله عليه وسلم وفرمائل: تاسو پوهيږئ چې دا اواز د څه شي دی؟ مونږه ورته وويل: الله او د هغه رسول ښه پوهيږي. هغه وفرمائيل: دا يوه ګټه وه اويا کاله مخکې جهنم ته ګذار کړی شوی وه دا په اور کې تر اوسه پورې ښکته روانه وه چې اوس د هغې بيخ ته ورسيده.

عن أبي سعيد إنا يوما عند رسول الله صلى الله عليه وسلم فرأيناه كئيبا فقال بعضهم يا رسول الله بأبي أنت وأمي، ما لي أراك هكذا فقال عليه السلام: سمعت هدة لم أسمع مثلها فأتاني جبريل فسألته عنها فقال: هذا صخر قذف به في النار منذ سبعين خريفا فاليوم استقر قراره.

ابن أبي شيبة: 35286، صححه الأعظمي في الجامع الكامل: 12/ 568.

ابو سعيد الخدري رضي الله عنه فرمائي: مونږه يوه ورځ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وو، مونږه هغه وليده چې زيات غمجن وو، بعضو ملګرو ترې پوښتنه وكړه او ورته ئي وويل: څه وجه ده چې مونږه تا لره غمجن وينو، هغه ورته وفرمائيل: ما يو هيبتناك ګرز واوريده چې ما دغه رنګه اواز چيرته نه وو اوريدلى، پس ما ته جبرئيل عليه السلام راغى ما د هغه نه پوښتنه وكړه، هغه ما ته وويل: چې دا يوه ګټه ده چې د جهنم په اور كې اويا كاله مخكې ګذار كړى شوى وه نن هغه خپل ځاې ته ورسيده.

عن أنس أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: "لو أن حجراً مثل سبع خَلِفات أُلقي من شفير جهنم، هوى فيها سبعين

خريفـاً لا يبلـغ قعرهـا". صـححه الألبـاني في صـحيح الجـامع: 5248، والصحيحة: 2865.

انس رضي الله عنه فرمائي: چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمائيلي دي: که چيرته يوه ګټه چې هغه د اووه اوښو په مقدار باندې وي د جهنم د غاړې نه جهنم ته ګذار کړی شي هغه به اويا کاله ښکته روانه وي لکن د جهنم بيخ ته به ونه رسيږي.

عن عتبة بن غزوان : ذُكِرَ لَنَا أَنَّ الْحَجَرَ يُلْقَى مِنْ شَفَةِ جَهَنَّمَ، فَيَهْوِي فِيهَا سَبْعِينَ عَامًا، لَا يُدْرِكُ لَهَا قَعْرًا، وَوَاللهِ لَتُمْلَأَنَّ، أَفَعَجِبْتُمْ؟.

أخرجه مسلم: 2967.

عتبـه بـن غـزوان رضي الله عنـه فرمـائي: مـونږ تـه دا خـبره ذکـر کـړی چـې کـه يـو ګټـه د جهـنم د غاړې نـه جهـنم تـه ګـذار شي اويـا کاله بـه پـه هغـې کـې ښـکته لاړه شي او هغـه به بيخ تـه ونـه رسـيږي قسـم پـه الله بانـدې دا جهـنم بـه تاسـو ډکوئ، آيا تاسو ددې نه تعجب کوئ؟

عن أبي موسى الأشعري عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: "لو أن حجراً قذَف به في جهنم لهوى سبعين خريفاً قبل أن يبلغ قعرها".

رواه البزار: 3494، أبو يعلى: 7243، وابن حبان: 7468، حسن بشواهده. الصحيحة: 2165.

ابو موسی رضي الله عنه فرمائي: چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي: که چیرته یوه کټه د جهنم د غاړې نه جهنم ته ګذار کړی شي هغه به اویا کاله په جهنم کې ښکته لاړه شي او هغې به د جهنم بیخ ته نه وي رسیدلی.

د جهنم کندې:

په جهنم کې الله رب العالمین قسم قسم کندې پیدا کړې دي، او د هغې خبر مونږ ته الله تعالی په قرآن کریم کې راکړی، او د هغه رسول راته په احادیثو کې خبر راکړی دی، په هره یو کنده کې ناشنا ناشنا عذاب دی، او په هغې کې قسم قسم مشکلات خپګانونه او مصیبتونه دي رب العالمین دې مونږ د ټولو نه محفوظ کړي.

دلته به د هغې تذکره پدې بنیاد باندې کیږي چې مونږ هغه وپیژنو، او بیا د الله رب العالمین پورې د هغه نه پناه ونیسو او الله ترې مونږ محفوظ کړي.

1: د ویل کنده:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخدري رضي الله عنه عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: " وَيْلٌ: وَادٍ فِي جَهَنَّمَ، يَهْوِي فِيهِ الْكَافِرُ أَرْبَعِينَ

خَرِيفًا قَبْلَ أَنْ يَبْلُغَ قَعْرَهُ، وَالصَّعُودُ: جَبَلٌ مِنْ نَارٍ، يَصْعَدُ فِيهِ سَبْعِينَ خَرِيفًا، ثُمَّ يَهْوِي وهو كَذَلِكَ فِيهِ أَبَدًا".

أخرجه الحاكم: 2/ 534، وقال صحيح الاسناد ولم يخرجاه ووافقه الذهبي والألباني في الصحيحة: تحت رقم: 2165.

ابو سعيد الخدري رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي: ويل ئې په جهنم کې يوه کنده ده چې کافر به په هغې کې څلويښت کاله ښکته روان وي او د هغې بيخ ته به نه وي رسيدلی، او صعود په جهنم کې يو غر دی چې څلويښت کاله به وريکې يو کافر بره خيژي او بيا به د جهنم په اور کې ښکته ګزارولی شي او همدغه کردار به هميشه لپاره کوي.

2: د غي کنده:

قرآن کريم د جهنم په کندو کې يوه د غي کنده ذکر کړې ده چې رب العالمين فرمائي: فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا.

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ددې تفسير کوي چې دا هم په جهنم کې يوه کنده ده.

عن ابن مسعود رضي الله عنه: الغي: واد في جهنم وفي لفظ: نهر في جهنم بعيد القعر خبيث الطعم وفي لفظ نهر حميم في النار يقذف فيه الذين يتبعون

الشـــهوات. أخرجـــه الحـــاكم في المســـتدرك: 2/ 374، وقال صحيح الاسناد ولم يخرجاه ووافقه الذهبي.

د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه نقل کړی شویدی چې غي په جهنم کې یوه کنده ده او په بل روایت کې داسې دي چې دغه په جهنم کې یو نهر دی، چې ډیر ژور دی او ددې خوند ډیر خبیث دی.

په بل روایت کې داسې دي چې دا په جهنم کې د ګرمو ایشیدلو اوبو نهر دی چې پدیکې به هغه کسان ګذارولی شي چې هغوې د شهوتونو بندګي کوي.

3: جب الحزن:

همدغه رنګه په جهنم کې یو بله کنده ده چې هغې ته جب الحزن ویل کیږي او هغه د هغه قاریانو لپاره ده چې هغوې ریاکاري کوي.

عن علي رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَعَوَّذُوا بِالله مِنْ جُبِّ الْحُزْنِ» أو واد الحزن قيل: يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا جُبُّ الْحُزْنِ؟ أو وادي الحزن؟ قَالَ: «وَادٍ فِي جَهَنَّمَ، تَتَعَوَّذُ مِنْهُ جَهَنَّمُ كُلَّ يَوْمٍ سبعين مَرَّةٍ أعده الله لِلْقُرَّاءِ الْمُرَائِينَ.

أخرجه البيهقي في البعث والنشور: 530، وحسنه المنذري في الترغيب: 5379.

علی رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائيلي دي: تاسو په الله پورې د جب الحزن نه پناه ونیسئ او یا د غم د کندې نه په الله پورې پناه ونیسئ.

د هغه نه پوښتنه وشوه چې یا رسول الله جب الحزن څه شی دی؟ هغه وویل: دا په جهنم کې یوه کنده ده چې جهنم هر ورځ ددینه نه اویا کرتې پناه غواړي، الله د هغه قاریانو لپاره تیاره کړې ده چې هغوې ریاکاري کوي.

د جهنم درجې:

قرآن کریم کې الله رب العالمین مونږه ته خبر راکړی دی چې په جهنم کې درکات او درجې دي چې بعضې د بعضو نه لاندې دي، او چې یو انسان څومره گناهونه زیات کوي، او د هغه کفر، شرک او منافقت زیات سخت وي هغومره به د هغوې درجې ډیرې لاندې وي، لکه څرنگه چې د منافقانو کفر ډیر زیات سخت دی همدغه رنگه د هغوې درجه هم به جهنم کې ډیره لاندې ده.

الله رب العالمین د منافقانو په باره کې فرمائي: إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ وَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا.

النساء: 145.

بیشکه منافقان به د جهنم په لاندې درجه کې وي او نه به د هغوې لپاره هیڅ امدادي ونه مومې.

(وَلِكُلٍّ دَرَجَاتٌ مِمَّا عَمِلُوا وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ). **الأنعام: 132.**

او د هر یوې ډلې لپاره به درجات وي په سبب د هغې چې دوې کړې وي او ستا رب د هغه څه نه ناخبره نه دی چې دوې ئې کوي.

همدغه رنګه الله تعالی فرمائي:

(هُمْ دَرَجَاتٌ عِنْدَ اللهِ وَاللهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ). **ال عمران: 163.**

دا جنت او جهنم والا به د درجاتو خاوندان وي د الله په وړاندې او الله تعالی په هغه څه باندې لیدونکی دی چې دوې کوم عمل کوي.

د عبدالله بن زید بن اسلم رحمه الله وینا:

قال عبدالرحمن بن زيد بن أسلم: درجات الجنة تذهب علوا و درجات النار تذهب سفلا.

التخويف من النار: 1/ 50.

عبدالرحمن بن زید بن أسلم رضي الله عنه فرمائي: د جنت درجې یو د بل نه بره دي او همدغه رنګه په بره باندې ځي.

او د جهنم درجې يو د بل نه لاندې دي او همدغه رنګه به په ښکته باندې ځي.

د ضحاك رحمه الله وينا:

قال الضحاك : الدرك إذا كان بعضها فوق بعض و الدرك إذا كان بعضها أسفل من بعض و قال غيره.

التخويف من النار: 1/ 50.

ضحاک رحمه الله فرمائي: درجات هغې ته ويل کيږي چې بعضې د بعضو نه بره دي، او درکات هغې ته ويل کيږي چې بعضې د بعضو نه لاندې وي.

د عكرمة رحمه الله وينا:

وعن عكرمة في قوله تعالى: (لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ). **الحجر/ 44**، لها سبعة أطباق.

صفة النار لابن أبي الدنيا.

عكرمـــة رحمـــه الله ددې آيـــت پـــه تفســـير كـــې فرمـــائي: لها سبعة أبواب....

ددې جهـــنم لپـــاره اووه طبقـــې دي چـــې بعضـــې د بعضـــو نه لاندې دي.

د جهنم لپاره ستركي غوږونه او ژبه:

قرآن كريم كې الله رب العالمين او همدغه رنګه نبی كريم صلی الله عليه وسلم په خپلو مباركو ارشاداتو كې دا خبر وركړی دی چې جهنم ستركې لري او پدې باندې به جهنم والا ويني او چې كله ئي د لرې نه ووينې دا جهنم به ورته غصه وي او دومره زياته غصه به ئي وي چې ته به وائي چې د ډيرې غصې نه وچاوده او ډيرې غصې نه به ورته هنار كوي.

دې لپاره ژبه ده دا به په هغې باندې خبرې كوي او د هغه جهنم والاو تذكره به ورباندې كوي چې دا په كومو ګناهګارانو مقرر كړی شويدی، او همدغه رنګه به دا غوږونه لري او په هغې باندې به اوريدل كوي.

الله تعالى فرمائي: (وَأَعْتَدْنَا لِمَنْ كَذَّبَ بِالسَّاعَةِ سَعِيرًا). **الفرقان: 11.**

او چې څوک قيامت ته د دروغو نسبت كوي او ديته دروغ وائي د هغو لپاره مونږه ګرم اور تيار كړی دی، دغه اور چې دوې لره د لرې ځاې نه ووينې دوې به د جهنم د اور لپاره غصه او هنار واوري.

عن أبي هريرة، قال: قال رسول الله "يخرج عنق من النار يوم القيامة، له عينان يبصر بهما، وآذان يسمع بها، ولسان ينطق به،

فيقول، إني وكلت بثلاثة: بكل جبار عنيد، وبكل من ادعى مع الله إلفا آخر، والمصورين". أخرجه الترمذي: 2574، وأحمد: 8430، والبيهقي في الشعب: 5904، صحيح الجامع: 7907.

ابو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې د قيامت په ورځ به د جهنم د اور نه يو څټ او د اور يو داسې حصه چې د هغې لپاره به سترګې وي په هغې به ليدل کوي او غوږونه به وي په هغې به اوريدل کوي، او د هغې لپاره به ژبه وي په هغې باندې به خبرې کوي.

او داسې به وائي: چې زه په درې قسمه خلکو باندې مقرر کړی شوی يم په هر زورور ظلم کوونکي سرکشه باندې او په هغه چا باندې چې د الله سره نور آلهه رابلي او به تصوير ويستونکو باندې.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " يَخْرُجُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عُنُقٌ مِنَ النَّارِ لَهَا لِسَانٌ تَتَكَلَّمُ فَتَقُولُ: إِنِّي وُكِّلْتُ الْيَوْمَ بِثَلَاثَةٍ: مَنْ جَعَلَ مَعَ اللهِ إِلَهًا آخَرَ، وَبِكُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ - وَلَمْ يُسَمِّ الثَّالِثَةَ - فَتَنْطَوِي عَلَيْهِمْ فَتَطْرَحُهُمْ فِي غَمَرَاتِ جَهَنَّمَ ". أخرجه أحمد: 11354، وابن أبي شيبة: 35278، وأبو يعلى: 1146، والبزار في كشف الأستار: 3500 قال الألباني صحيح الترغيب2451.

ابو سعيد الخدري رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي د قیامت په ورځ باندې به د جهنم د اور نه یو حصه راووځي هغه به خبرې کوي او داسې به وائي چې زه نن ورځ په درې قسمه خلکو باندې مقرر کړی شوی یم، په هر زورور ظلم کونکی، او په هغه چا باندې چې د الله تعالی سره نور آلهه ګرځوي او په هغه چا چې یو مسلمان په غیر د قصاص د بل نفس نه وژني، دا اور به د دوې نه راتاو شي او د جهنم ژورو طبقو ته به ئې وغورځوي.

د جهنم جيل او زندان:

په جهنم کې رب العالمین یو جیل ـ زندان ـ مقرر کړی دی چې د هغې بولس نوم دی، او هغې ته به تکبر کونکي انسانان ورغورځوي.

عَنْ ابن عَمْرِو عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: يُحْشَرُ الْمُتَكَبِّرُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَمْثَالَ الذَّرِّ فِي صُوَرِ الرِّجَالِ يَغْشَاهُمُ الذُّلُّ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ، فَيُسَاقُونَ إِلَى سِجْنٍ فِي جَهَنَّمَ يُسَمَّى بُولَسَ تَعْلُوهُمْ نَارُ الْأَنْيَارِ يُسْقَوْنَ مِنْ عُصَارَةِ أَهْلِ النَّارِ طِينَةَ الْخَبَالِ.

أخرجه الترمذي: 2492، وأحمد:6677، وحسنه الألباني في صحيح الجامع: 7896.

ابن عمرو رضي الله عنهما فرمائي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي: تكبر كونكى انسانان به د قيامت په ورځ باندې د نرو ميږو په شكل باندې راجمع كړى شي پداسې حال كې چې د هر طرف نه به ذلت پټ كړې وي، هغوې به يو جيل ـ زندان ـ ته راوستل شي د هغوې نه بره به سخترين اور وي. پدوې باندې به د جهنميانو د وينو زوو نچوړ وسكول شي او د فساد ختـه به ورباندې وخوړل شي.

د جهنم غصه او اوازونه:

د جهـنم د هيبتنـاكو حـالاتو نـه دا ده چې الله رب العـالمين ده تـه يـو هيبتنـاك اواز وركـړى دى چـې د اواز پـه اوريـدلو بانـدې بـه ئي انسـانان سـخت ويريـږي بلكـه د ډيـر زيـات هيبـت د وجـې نـه بـه بـې هوشـه كـې او عقلونـه بـه دلاسـه وركـوي، او هغـه بـه د داسـې غصـې پـه حالـت هيبتنـاك اوازونه كوي ته به وائي چې د ډيرې غصې نه چوي.

قرآن كريم همدغه هيبتناك حالت ذكر كوي الله تعالى فرمائي:

إِذَا رَأَتْهُمْ مِنْ مَكَانٍ بَعِيدٍ سَمِعُوا لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا.

الفرقان: 12.

كله چې دا جهنم دې كفارو لره د لرې ځاې نه ووينې هغوې به ددې لپاره غصه او هنار واوري.

وَلِلَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ (6) إِذَا أُلْقُوا فِيهَا سَمِعُوا لَهَا شَهِيقًا وَهِيَ تَفُورُ (7) تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ الْغَيْظِ.

الملک: 6-8.

او د هغه کسانو لپاره چې په خپل رب باندې ئې کفر کړی دی د جهنم عذاب دی او ډیر بد ځاې د ورتلو دی دا جهنم، او کله چې وغورځولی شي دا جهنمیان پدې جهنم کې دوې به واوري د جهنم لپاره سخت اوازونه او هغه به خوټکیږي، قریبه ده چې د ډیرې غصې د وجې نه وچوي.

شهیق: هغه اواز ته ویل کیږي چې د خیټې نه په ډیر شدت او سختۍ باندې راووځي لکه د خر اواز.

ربیع بن انس رحمه الله فرمائي: (شهیق) هغه اواز دی چې د سینې نه راووځي.

امام مجاهد رحمه الله ددې آیت په تفسیر کې فرمائي: وهي تفور، دا جهنم به د کټوۍ په شان خوټکیږي.

ابن زید رحمه الله فرمائي: تکاد تمیز : تمیز مطلب دا دی چې د ډیرې غصې د وجې نه د الله پدې نافرمانه بندګانو باندې چوي. د الله لپاره غصه وي او د الله تعالی د نافرمانۍ د انتقام اخستلو د وجې نه به غصه وي.

د جهنم بليدل او په هغې کې زيادت

د جهنم د غضب او غصې مظاهر يو په بله طريقه باندې هم ده او هغه دا ده چې د الله نبي صلى الله عليه وسلم خبر ورکړی دی چې دا جهنم د ورځي په نمائۍ کې کله چې لمر سترګه د اسمان مينځ ته راشي پدغه وخت کې جهنم نور هم زيات بليږي او د هغې بليدلو کې زيادت راځي چې د ډير حرارت د وجې نه خوټکيږي او جوش وهي.

عن عمرو بن عبسه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: صل صلاة الصبح ثم اقصر عن الصلاة حتى تطلع الشمس وترتفع فإنها تطلع بين قرني الشيطان وحينئذ يسجد لها الكفار، ثم صل فإن الصلاة مشهودة حتى يستقل الظل بالرمح ثم اقصر عن الصلاة فإنه حينئذ شجر جهنم.

أخرجه مسلم: 845.

عمرو بن عبسه رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي: د سهار مونځ وکړه بيا د مونځ کولو نه تر هغې بند شه تر دې چې لمر راوخيژي او اوچت شي ځکه دا لمر پدغه وخت کې د شيطان د سر د دواړو طرفونو تر منځ راخيژي، او پدغه وخت کفار لمر ته سجده کوي، بيا مونځ کوه پس دغه مونځ ته حاضري ورکولی شي، يعني ملائکې ورته حاضري

ورکوي، او دا کنايه ده د قبوليت نه تر دې پورې چې تردى چې د نيزى سورې په څمکه پاتې نه شي او سورې نه مشرق ته مائيل وى او نه مغرب ته، بيا د مونځ نه منع شه څکه پدغه وخت کې جهنم بليږي، او د هغه په بليدلو کې زيادت راځي.

دې حديث کې دا خبره ذکر شوه چې د هرې ورځ په نيمائې کې د جهنم په بليدلو کې زيادت راځي او هغه نور هم زيات بليږي، قرآن کريم همدغه خبره ذکر کړې الله تعالى فرمائي: كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنَاهُمْ سَعِيْراً. الإسراء: 97.

هر کله چې جهنم سوړ شي مونږه به ئې نور هم په ګرميدلو سره زيات کړو.

د جهنم تنفس:

د جهنم د ډير هيبتناکو حالاتو نه چې مونږه ته نبي صلى الله عليه وسلم ذکر کړى دى يو دا دى چې دا جهنم په کال کې دوه کرتې تنفس کوي او ساه اخلي يو په اوړې کې او بل په ژمې کې، په اوړې کې د ګرمې طبقې براس خارجوي، او په ژمې کې د يخې طبقې براس خارجوي.

عن أبي هُرَيْرَةَ رَضِيَ الله عَنْهُ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " اشْتَكَتِ النَّارُ إِلَى رَبِّهَا فَقَالَتْ: رَبِّ أَكَلَ بَعْضِي بَعْضًا، فَأَذِنَ

لَهَا بِنَفَسَيْنِ: نَفَسٍ فِي الشِّتَاءِ وَنَفَسٍ فِي الصَّيْفِ، فَأَشَدُّ مَا تَجِدُونَ مِنَ الحَرِّ، وَأَشَدُّ مَا تَجِدُونَ مِنَ الزَّمْهَرِيرِ"
أخرجه البخاري: 3260، ومسلم: 617.

ابو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې اور الله رب العالمين ته شكايت وكړه چې يا الله زما بعضې حصې بعضې وخوړله الله تعالى هغه ته د دوه تنفسو اجازت وكړه يو تنفس په اوړې كې او بل په ژمي كې، په اوړې كې تاسو سخته ګرمي مومئ دغه د جهنم د ګرمې طبقې حرارت ګرمي او براس دى او په ژمې كې چې تاسو كومه زياته يخني مومئ هغه د جهنم ددغه يخې طبقې براس دى.

دا ډيره د سوچ او فكر خبره ده څكه چې د اوړې سخته ګرمي خو داسې وي چې د ټولې دنيا په انسانانو باندې ئې اثر كړى وي د انسانانو بدنونه خوله خوله وي، بدن كې ګرمكى وي، د خولې خوند خراب وي، زندګي ورله خوند نه وركوي، خوراك ته وريكې د چا زړه نه كيږي، كه دا اسباب او وسائل نه وي چې انسانان وربانديې څان يخوي ډير انسانان به ژوند دلاسه وركړي دا ټول د جهنم د يو تنفس اثر وي او هغه دومره ګرم وي، څه مو خيال دى چې جهنم به څومره ګرم وي، او همدغه رنګه د ژمې په سخترينه يخنۍ كې اوبه كنګل وي او منجمد وي، د انسانانو

بدنونه د ډیر یخوالی د وجې نه شخ شوې وي د بدن حرکت زیات کمزوری شوې وي، په ډیرو باندې یخنې دومره اثر وکړي چې ژوند دلاسه ورکړي، بلکه که اور نه وي چې انسانان ئې بلوي، او ځان پرې ګرموي اکثره انسانانو به ژوند د لاسه ورکړې وي.

دا ټول د جهنم د یخې طبقې بړاس دی نو څه مو خیال دی چې ددغه جهنم دغه یخه طبقه به څومره یخه وي.

د جهنم بړاس:

مونږه ته رسول الله صلی الله علیه وسلم د جهنم یو بل هیبت ناک حالت داسې ذکر کوي او فرمائي: چې جهنم یو بړاس لري او په اوړې کې د غرمې د ګرمۍ شدت او سختوالی د جهنم بړاس دی، ددغې حرارت نه ځان ته د جهنم حرارت او ګرمي رایادول پکار دي، او د هغې نه پناه غوښتل پکار دي.

عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه أن رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال: «إِنَّ شِدَّةَ الحَرِّ مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ، فَإِذَا اشْتَدَّ الحَرُّ فَأَبْرِدُوا بِالصَّلاَةِ». **أخرجه البخاري: 3260، ومسلم: 617.**

ابو سعید الخدري رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلې دي: بیشکه د ګرمۍ سختوالی د جهنم بړاس دی، کله چې ګرمي سخته شي تاسو مونځ یخ وخت ته لږ روسته کړئ، یعني چې د جهنم د بړاس دغه شدت ختم شي.

تبه هم د جهنم براس دی:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ الله عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «الحُمَّى مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ فَأَبْرِدُوهَا بِالْمَاءِ»

أخرجه البخاري: 3264، ومسلم: 2209.

ابن عمر رضي الله عنهما فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلې دي: تبه د جهنم د براس نه ده پس تاسې دغه په اوبو باندې يخه او سړه کړئ.

هل من مزيد؟

بعضې د هغې دلائلو نه چې پدې خبره باندې دلالت کوي چې جهنم ډير لوې والى لري او د هغې ډير زيات ژوروالى دى، او د کفارو، مشرکانو، منافقانو، او د سختو نافرمانو بندګانو ځاې په جهنم کې نه ورکيږي هغه دا خبره ده چې قرآن کريم کې مونږه ته الله رب العالمين ذکر کړى چې الله رب العالمين به جهنم ته جهنميان ورګزاروي او جهنم به دا اواز کوي هل من مزيد؟

آيا زياتې نور څه شته دى؟

او دا ددې خبرې دليل دى چې په جهنم کې د جهنم والاو ځاې نه ختميږي الله تعالى فرمائي: (يَوْمَ نَقُولُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَأْتِ وَتَقُولُ هَلْ مِنْ مَزِيدٍ). ق: 30.

او هغه ورځ ياد کړه چې مونږه به جهنم ته ووايو آيا ته ډک شوې؟ هغه به ووائي : آيا نور څه زياتې شته دی؟

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا تَزَالُ جَهَنَّمُ يُلْقَى فِيهَا وَتَقُولُ: هَلْ مِنْ مَزِيدٍ، حَتَّى يَضَعَ رَبُّ الْعِزَّةِ فِيهَا قَدَمَهُ، فَيَنْزَوِي بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ وَتَقُولُ: قَطْ قَطْ، بِعِزَّتِكَ وَكَرَمِكَ، وَلَا يَزَالُ فِي الْجَنَّةِ فَضْلٌ حَتَّى يُنْشِئَ اللهُ لَهَا خَلْقًا، فَيُسْكِنَهُمْ فَضْلَ الْجَنَّةِ".

أخرجه البخاري: 6661، ومسلم في الجنة: 2848.

أنس رضي الله عنه فرمائي: چې نبی صلی الله عليه وسلم فرمائلي دي: هميشه به وي جهنم چې په هغې کې به انسانان وغورځولی شي او جهنم به داسې وائی آيا نور څه زياتې شته دی؟ تر دې چې رب العزت به په هغې کې خپل قدم کيدي جهنم په بعضې د جهنم بعضې حصه به بعضې ته راټوله شي او دا به ووائي بس دی يا الله بس دی زما دې ستا په عزت او کرم باندې قسم وي.

او هميشه به په جنت کې زياتې ځاې وي تر دې چې رب العالمين به هغه لپاره نوې مخلوق پيدا کړي او هغه به د جنت په زياتې ځاې کې ووسوي.

عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم في احتجاج الجنة والنار إن الله يقول للنار: أَنْتِ عَذَابِي أُعَذِّبُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ، وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْكُمَا مِلْؤُهَا، فَأَمَّا النَّارُ فَلَا تَمْتَلِئُ حَتَّى يَضَعَ رجله... وفي رواية حتى يضع اللهُ، تَبَارَكَ وَتَعَالَى، رِجْلَهُ، فتقولُ: قَطْ قَطْ، فَهُنَالِكَ تَمْتَلِئُ، وَيُزْوَى بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ، وَلَا يَظْلِمُ اللهُ مِنْ خَلْقِهِ أَحَدًا".

أخرجه البخاري: 4850، ومسلم: 2846.

ابو هريرة رضي الله عنه د نبی صلی الله علیه وسلم نه د جنت او جهنم د بحث مباحثه یو طویل روایت نقل کوي چې په هغې کې داسې دي:

الله تعالی به ورته ووائي: ته زما عذاب ئی په تا باندې زه هغه څوک عذابونه چې زه ئي وغواړم، او جنت ته به ووائي ته رحمت ئي په تا باندې زه په هغه چا باندې رحمت کوم چې زه ئي وغواړم، او په تاسو کې د هر يو لپاره به د هغې ډکوالی وي، يعنې زه به ئي ډکوم، هر چې اور دی هغه ته به الله تعالی جهنم والاو ورغورځوي او هغه به نه ډکيږي تر دې چې الله تعالی به وربکې خپل قدم کيدي، هغه به ووائي بس که بس که، پدغه وخت کې به ډک شي او بعضې به بعضو ته راټول شي، او ستا رب به خپل مخلوق کې په هیچا ظلم نه کوي.

پدې حديث کې مونږه ته رسول الله صلی الله علیه وسلم د جهنم خبرې رانقل کړې او په هغې کې دا دي چې ده د جنت سره بحث مباحثه کول، او دې جهنم ورته وويل چې زه په متکبرينو باندې غوره کړی شوی يم يعنې متکبرين به ما ته راداخليږي، او پديکې ددې خبرې دليل دی چې تکبر جهنم ته د داخليدلو سبب دی او د متکبرينو ځاې جهنم دی.

او حديث کې دا هم ذکر شو چې جهنم به بار بار د زيادت مطالبه کوي او الله تعالی به ورته د جهنم مستحق ورغورځوي، او دا د دې خبرې دليل دی چې جهنم الله تعالی ډير پراخه کور پيدا کړی دی، ځکه د جهنم مستحق انسانان په زرو کې نهه سوه نه نوي انسانان دي دغې جهنم ته به د شګو او کانو په مقدار انسانان وروغورځولی شي، او بيا ددې سره سره د انسانانو بدنونه به په جهنم کې ډير زيات غټيږي او ددې سره سره به جهنم نه ډکيږي بلکه بار بار به د زيادت مطالبه کوي، مونږه لره ددغې کور نه ويره پکار ده او بايد په الله تعالی پورې ددغې کور نه پناه طلب کړو تر څو چې مونږه چيرته ددغې کور والاو نه نه شو.

د جهنم ماران او لړمان:

قدرمنو او عزتمندو لکه څرنګه چې مخکې دا خبره ذکر شوه چې جهنم د الله غضب او عذاب کور دی، دې ته به کافران او مشرکان، منافقان، او د الله نافرمان بندګان ورځي. پدیکې داسې اور دی چې هغه د دنیا د اورونو نه اویا چنده او یا سل چنده زیات ګرم دی. لکن یواځې اورونه نه بلکه پدیکې د اور سره سره الله رب العالمین نور هم هیبتناک عذابونه تیار کړي دي چې یو په هغې کې ماران او لړمان دي.

بیا د جهنم ماران، لړمان د دنیا د مارانو او لړمانو په څیر باندې نه دي بلکه د الله نبي مونږ ته د هغې ناشنا ناشنا صفات ذکر کړي دي.

عن عَبْد اللهِ بْنَ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ الزُّبَيْدِيَّ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ فِي النَّارِ حَيَّاتٍ كَأَمْثَالِ أَعْنَاقِ الْبُخْتِ، تَلْسَعُ إِحْدَاهُنَّ اللَّسْعَةَ فَيَجِدُ حَمْوَتَهَا سبعين خَرِيفًا، وَإِنَّ فِي النَّارِ عَقَارِبَ كَأَمْثَالِ الْبِغَالِ الْمُوكَفَةِ، تَلْسَعُ إِحْدَاهُنَّ اللَّسْعَةَ، فَيَجِدُ حَمْوَتَهَا أَرْبَعِينَ سَنَةً ".

أخرجه أحمد وقال الهيثمي في مجمع الزوائد: 10/ 390، رواه أحمد والطبراني وفيه جماعة قد وثقوا ورواه ابن حبان: 7471، والحاكم: 4/ 593، وصححه ، وصححه الألباني في الصحيحة: 3429.

عبدالله بن الحارث بن جزء الزبيدي رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي: بیشکه په جهنم کې داسې ماران دي چې د هغې ختونه د خراسان اوښانو په شان دي پدوې کې یو به انسان چیچي چې د هغې د زهرو اثر به اویا کاله پورې مومي.

او په اور کې لړمان دي لکه د هغې قچرو په شان دي چې په هغه باندې کته پرته وي چې یو کس لره به چیچي او هغه لره به تک ورکوي، د هغه د زهرو اثر به تر څلویښتو کلونو پورې مومي.

وعن ابن مسعود رضي الله عنه في قوله تعالى: (زدناهم عذابا فوق العذاب) **النحل: 88.** قال: زيدوا عقارب أنيابها كالنخل الطوال.

رواه ابو يعلى: 2659، والحاكم: 4/ 539، موقوفا وصححه ووافقه الذهبي.

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ددې آیت به تفسیر کې فرمائي: چې الله تعالى فرمائي: مونږه به دوې لره د عذاب نه بره نور عذاب زیات کړو هغه فرمائي: چې دوې لره به دا عذاب زیات کړی شي چې لړمان به وي د هغې به داسې داړې وي لکه اوګدې اوګدې کجورې.

عَنْ مُجَاهِدٍ، قَالَ: إِنَّ لِجَهَنَّمَ جِبَابًا فِيهَا حَيَّاتٌ أَمْثَالَ أَعْنَاقِ الْبُخْتِ وَالْعَقَارِبُ كَالْبِغَالِ الدَّلَمِ , قَالَ: فَيَهْرب أهل جهنم إِلَى تِلْكَ الجبابا

قال: فَتَأْخُذُ تلك الحيات والعقارب بِشِفَاهِهِمْ فَتَكْشِطُ مَا بَيْنَ الشَّعْرِ إِلَى الظُّفْرِ, قَالَ: فَمَا يُنَجِّيهِمِ إلا هَرَب إِلَى النَّارِ".

مصنف ابن أبي شيبة: 35279.

امام مجاهد رحمه الله فرمائي: په جهنم کې کندې دي چې په هغې کې داسې ماران دي لکه د خراسان اوښانو په څير او داسې لړمان دي لکه د تورو قچرو په شان، کله چې جهنميان د اور نه دغې کندو ته راوتښتي دغه ماران او لړمان به ددې شونډو نه ونيسي د سر د ويښتانو نه واخله تر نوکانو پورې به دده نه څرمن وارويي هغوې لره به ددې نه بل څه بچ نه کړي مګر دې اور ته راتښتيدل هغوې به بيرته اور ته راوتښتي.

د جهنم څوکيداران:

قرآن کريم کې مونږه ته الله رب العالمين خبر راکړی دی چې د جهنم لپاره څوکيداران دي، او هغه نولس دي، او هغه به کافرانو ته په هغه وخت کې زجر او رټنه ورکوي کله چې د جهنميانو سره د هغه ملاقات وشي.

1: الله تعالى فرمائي: (وَسِيقَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِلَى جَهَنَّمَ زُمَرًا حَتَّى إِذَا جَاءُوهَا فُتِحَتْ أَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِنْكُمْ يَتْلُونَ عَلَيْكُمْ آيَاتِ رَبِّكُمْ وَيُنْذِرُونَكُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَذَا قَالُوا بَلَى وَلَكِنْ حَقَّتْ كَلِمَةُ الْعَذَابِ عَلَى الْكَافِرِينَ). **الزمر: 71.**

او کافران به جهنم طرف ته ډلې ډلې وشړل شي تر دې چې ددې جهنم ته راشي د جهنم دروازې به ورته خلاصې شي، او د جهنم څوکیداران به ورته ووائي ایا تاسو ته ستاسو د جنس نه رسولان نه وو راغلې چې په تاسې باندې ئې ستاسې د رب آیاتونه لوستل او تاسې ئې ددې ورځې د ملاقات نه ویرولې؟ هغوې به ورته ووائي: ولې نه وو راغلې لکن د عذاب کلمه په کافرانو باندې ثابته شوه.

2: الله تعالی فرمائي: (كُلَّمَا أُلْقِيَ فِيهَا فَوْجٌ سَأَلَهُمْ خَزَنَتُهَا أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَذِيرٌ (8) قَالُوا بَلَى قَدْ جَاءَنَا نَذِيرٌ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ اللهُ مِنْ شَيْءٍ إِنْ أَنْتُمْ إِلَّا فِي ضَلَالٍ كَبِيرٍ). الملك: 6-9.

هر کله چې پدې جهنم کې یوه ډله وغورځولی شي د هغې نه به د جهنم څوکیداران پوښتنه وکړي آیا تاسو ته څوک ویرونکی نه وو راغلی؟ هغوي به ورته ووائي: ولې نه وو مونږه ته ویرونکی راغلی وو مونږه هغه دروغجن وګڼلو او مونږه ورته وویل: الله هیڅ شی نه دی نازل کړی تاسو نه ئې مګر په لویه ګمراهی کې يئ.

د جهنم د څوکیدارانو تعداد:

قرآن کریم کې الله رب العالمین خبر ورکړی دی چې د جهنم څوکیداران نولس دي.

(عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ (30) وَمَا جَعَلْنَا أَصْحَابَ النَّارِ إِلَّا مَلَائِكَةً وَمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ إِلَّا فِتْنَةً لِلَّذِينَ كَفَرُوا). المدثر: 30 – 31.

پدې جهنم باندې نوولس ملايک دي، او مونږه د جهنم څوکيداران نه دی ګرځولی مګر ملايک، او مونږه نه دی ګرځولی د هغې شمار مګر امتحان د هغه کسانو لپاره چې کفر ئی کړی.

د جهنم د څوکيدارانو صفت:

قرآن کريم کې الله رب العالمين د جهنم د څوکيدارانو ملائکو صفت ذکر کړی او فرمائي چې هغه دسختو طبيعتونو والا دي، او د الله فرمانبردارې دي الله تعالی فرمائي: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ. التحريم: 6.

ای د ايمان والاو تاسو خپل ځانونه او خپل اهل د اور نه بچ کړئ هغه اور چې د هغې خشاک خلک او ګټې دي، په هغې باندې داسې ملائک دي چې هغه د سختو طبيعتونو والا دي، د کلکو بدنونو والا دي، هغوې د الله د حکم نافرمانې نه کوي او هغه څه کوي چې دوې ته حکم کيدلی شي.

د جهنميانو د اور څوکيدار ته درخواست:

کله چې جهنميان جهنم ته داخل شي او په هغې کې په هغوی باندې عذابونه سخت شي هغوی به د اور څوکيدار ته درخواست وکړي چې رب العالمين دې په مونږه باندې د اور فيصله وکړي، او هغه به ورته جواب ورکړي چې ستاسو خو لا ډير وخت باقې دی تاسو به پدې جهنم کې وخت تيرونکې يئ.

الله تعالى فرمائي: وَنَادَوْا يَامَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ قَالَ إِنَّكُمْ مَاكِثُونَ.

الزخرف: 77.

او دوې به ووائي: ای مالک او مالک د اور څوکيدار وي ستا رب دې په مونږه باندې د مرګ فيصله وکړي هغه به ورته ووائي: بې شکه تاسو وخت تيرونکی يئ.

امام ابن جرير رحمه الله د بعضې مفسرينو قول رانقل کړی دی چې کله دوې مالک ته درخواست وکړي څلويښت کاله بعد به دوې ته ددغې درخواست جواب ميلاو شي او هغه جواب به دا وي چې تاسو جهنم کې وخت تيرونکی يئ يعنې ډير زيات وخت لا په جهنم کې باتې دی.

تفسير الطبري.

د اور څوکيدار مالک دی:

قرآن کريم هم مونږه ته د اور څوکيدار نوم ذکر کړی دی چې د هغې قوم دی مالک، او آحاديثو کې هم د اور د څوکيدار نوم مالک ذکر دی.

عَنْ سَمُرَةَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «رَأَيْتُ اللَّيْلَةَ رَجُلَيْنِ أَتَيَانِي قَالاَ الَّذِي يُوقِدُ النَّارَ مَالِكٌ خَازِنُ النَّارِ، وَأَنَا جِبْرِيلُ وَهَذَا مِيكَائِيلُ».

أخرجه البخاري: 3236، ومسلم: 2275 .

سمرة بن جندب رضي الله عنه د نبی صلى الله عليه وسلم نه يو طويل حديث نقل كوي، په هغې کې يوه حصه همدا ده چې جبريل عليه السلام ده ته بيرته جواب ورکړه چې هغه کس چې تاسو وليده چې اور ئي بلولو هغه مالک د اور څوکيدار وو او زه جبريل يم او دغه ميکائيل دی.

عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "«مَرَرْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي عَلَى مُوسَى بْنِ مريم مَرْبُوعَ الْخَلْقِ إِلَى الْحُمْرَةِ وَالْبَيَاضِ، سَبْطَ الرَّأْسِ»، وَأُرِيَ مَالِكًا خَازِنَ النَّارِ".

أخرجه البخاري: 3239، ومسلم: 165- 277 .

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي: د اسراء به شپه باندې

زه د موسی علیه السلام په څوا باندې تیریدم هغه درمیانه قد والا سور سپین سړی وو، ما مالک د اور څوکیدار ولیده. دې قرانې آیتونو او نبوي ارشاداتو کې دا خبره ذکر شوه چې د اور څوکیدار مالک نومیږي.

د جهنم سیوری:

قرآن کریم مونږ ته خبر راکړی دی چې جهنم کې سیوری شته دی لکن سیوری د جهنم د اور نه ډیر زیات بدترین دی ځکه هغه سیوری د لوګې نه دی، چې هغه نه مزیدار سیوری دی او نه انسان لره د لمبو نه بچ کوي او هغه په مثلث شکل باندې دی، نه انسان د ګرمۍ نه بچ کوي او نه انسان ته کومه فائده رسوي.

الله تعالی فرمائي: وَظِلٍّ مِنْ يَحْمُومٍ (43) لَا بَارِدٍ وَلَا كَرِيمٍ. **الواقعة: 46-44.**

او دې اور والاو لپاره به د لوګې سیوری وي چې نه به یخ وي او نه به فایده مند وي.

د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه نقل کړی شوی دی چې د يحموم نه مراد لوګی دی یعنې دوې به د لوګې په سیورې کې وي او همدغه رنګه خبره مجاهد، عکرمه او نورو مفسرینو کړی ده.

د امام ابن رجب رحمه الله وینا:

امام ابن رجب رحمه الله فرمائي: د جهنم والا به په ډیر بدترین حالت او سخترین ګرمائش کې وي ځکه په دنیا کې چې انسانان په کوم څیز باندې ځان یخوي او فائده ترې اخلي هغه درې څیزونه دي:

1: اوبه. 2: هوا. 3: سیورې.

لکن جهنم والاو ته الله رب العالمین دا درې واړه څیزونه بدترین انداز کی ورکوي.

د جهنم هوا الله رب العالمین سموم مقرر کړی ده، او سموم هغه سخترین ګرم باد دی چې د هغې ګرمائش انتهاء ته رسیدلی دی.

او د جهنم اوبه: حمیم دی، هغه ګرمې ایشیدلې اوبه چې د هغې ګرمائش زیات دی. او د جهنم سیورې باره کې الله رب العالمین فرمائي: هغه یحموم دی او هغه د لوګې تکړې دي.

قرآن کریم د جهنم د سیورې په باره کې داسې هم فرمائي:

انْطَلِقُوا إِلَى ظِلٍّ ذِي ثَلَاثِ شُعَبٍ.

المرسلت: 30.

تاسو هغې سیورې ته لاړ شئ چې هغه د درې څانګو والا دی امام مجاهد رحمه الله ددې تفسیر کوي او فرمائي:

ددې نه مراد د جهنم لوګی دی چې په درې طرفونو باندې خپې او یا تورې هغه لمبې دی چې هغه شنه وي او توره وي او زیړه وي هغه لمبې چې کله اور سخت بل شي دغه لمبې ئې په سر باندې د بره وي.

د جهنمیانو د عذاب سختوالی:

د جهنم والاو ته الله رب العالمین داسې سخت عذاب مقرر کړی دی چې د هغې د سختوالی هیڅ انتهاء نه شته.

بلکه قرآن او سنت کې چې کله یو سړی د جهنم بیان اوري، د انسان ځرمنې زکې شي. او د دنیا نه ئې زړه تور شي چې کله ئې په زړه کې یو ذره ایمان هم وي، بلکه د ډیر قوي ایمان والا بندګانو د سترګو نه اوښکې بهیږي او د هغوې رنګ زیړ شي او حالت ئې بدل شي، بلکه د بعضو سلفو نه داسې هم نقل شوې دي چې هغوې د جهنم د عذاب د آیتونو او احادیثو واوریدلو د وجې نه بې هوشه شوې هم دي.

د جهنم یو نمونه د دنیا ټول خوندونه هیروي:

د جهنم د عذاب شدت دا دی چې کله یو انسان ته په جهنم کې یوه نمونه ورکړی شي د انسان د ذهن نه ټول غمونه، کړاونه او پریشانئ محوه شي او د انسان حالت د غم او پریشانئ شي.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يُؤْتَى بِأَنْعَمِ أَهْلِ الدُّنْيَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَيُصْبَغُ فِي النَّارِ صَبْغَةً، ثُمَّ يُقَالُ: يَا ابْنَ آدَمَ هَلْ رَأَيْتَ خَيْرًا قَطُّ؟ هَلْ مَرَّ بِكَ نَعِيمٌ قَطُّ؟ فَيَقُولُ: لَا، وَاللهِ يَا رَبِّ».

أخرجه مسلم: 2807، وابن ماجة: 4321، أحمد: 13112.

انس بن مالک رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي: په دنیا کې د ټولو نه ډیر د ښکلې زندګې والا چې د قیامت په ورځ باندې راوستلی شي او دا انسان د جهنم مستحق وي کله چې ده له په جهنم کې یو غوپه ورکړی شي، بیا به ورته وویل شي ای د آدم بچیه تا چیرته خیر لیدلی دی؟ ستا په ژوند کې په تا باندې چیرته کوم نعمت تیر شوې وو هغه به ورته ووائي: زما دې په الله باندې قسم وي چې په خپل ژوند کې می چیرته خیر نه وو لیدلی او نه په ما باندې کوم نعمت راغلی وو.

قدرمنو وروڼو دا انسان به هغه څوک وي چې په دنیا کې ده ته ډیر زیات نعمتونه ورکړی شوې وو، او دا انسان به د ډیرې ښکلې زندګۍ والا وي، لکن ددې سره سره چې د جهنم د عذاب معمولي حصه وڅکي او په جهنم کې یوه غوپه ورکړی شي، دا یوه غوپه به پدیکې دومره زیات انقلاب او بدلون راولي چې دده د زړه نه او بدن به ټول خوندونه، لذتونه، شهوتونه محوه کړي او دده

نه به د دنیا هغه ټولې مزې هیرې شي او دا به ووائي چې ما چیرته هم په دنیا کې خیر لیدلی نه وو او نه په ما باندې کوم نعمت تیر شوی وو.

د جهنم د عذاب د بچاو جرمانه:

د جهنم عذاب دومره زیات سخت دی چې که یو انسان لپاره ټوله زمکه د سرو زرو نه ډکه شي او دا دیته تیار شي چې زه به دغه ټوله خزانه او سرمایه د جهنم د عذاب نه د بچاو په جرمانه کې ورکړم لکن ددې سره سره به هم هغه د جهنم د عذاب نه بچ نه شي.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ أَنَّ لَهُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُ مَعَهُ لِيَفْتَدُوا بِهِ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ.

المائدة: 36.

بیشکه هغه کسان چې کفر ئې کړی دی که چیرته ددې لپاره ټول هغه مالونه شي چې په زمکه کې دي او د هغې په مثل باندې نور هم شي ددې لپاره چې د قیامت د عذاب نه ئې په فدیه کې ورکړي ترې قبول به نه شي او د ددې لپاره دردناک عذاب دی.

عن أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ الله عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " يَقُولُ الله تَعَالَى لِأَهْوَنِ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا يَوْمَ القِيَامَةِ: لَوْ أَنَّ

لَكَ مَا فِي الأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ أَكُنْتَ تَفْتَدِي بِهِ؟ فَيَقُولُ: نَعَمْ، فَيَقُولُ: أَرَدْتُ مِنْكَ أَهْوَنَ مِنْ هَذَا، وَأَنْتَ فِي صُلْبِ آدَمَ: أَنْ لاَ تُشْرِكَ بِي شَيْئًا، فَأَبَيْتَ إِلَّا أَنْ تُشْرِكَ بِي".

أخرجه البخاري: 6557، ومسلم: 2805.

انس رضي الله عنه فرمائي: چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمائلي دي: الله تعالی به د قيامت په ورځ باندې هغه انسان ته ووائي چې هغه د جهنم مستحق وي او د جهنم والا ی د هغه عذاب د ټولو نه اسان وي، الله به ورته ووائي: د زمکې دا ټول کائنات ستا شي، آيا ته ئې د جهنم د عذاب نه په فديه کې ورکوې؟ هغه به ورته ووائي: هو، الله تعالی به ورته ووائي: ما ستا نه هغه څه اراده کړې وو چې هغه ددې نه ډير اسان وو په هغه حال کې چې ته د آدم عليه السلام په ملا کې وې، هغه دا وو چې زما سره شريک مه جوړوه. او تا انکار وکړه مګر ددې نه چې ما سره دې شريک جوړ کړه.

قدرمنو او عزتمندو ورونو: د قيامت عذاب دومره زيات سخت دی چې انسان به دومره لوې جرمانې ورکولو ته تيار شي چې د زمکې ټول کائنات او په بل روايت کې داسې راځي چې که زمکه د سرو زرو نه ډکه شي او دوې عذاب والا شي دا به دې ته هم تيار شي چې

دغومره لوې مقدار کې سره زر ددې عذاب نه د بچاو لپاره په جرمانه کې ورکړی لکن ددې نه به قبول نه شي.

اسان عذاب:

د قيامت په ورځ د جهنم والا چې کوم اسان عذاب دی هغه هم دومره زيات سخت وي چې انسان د هغې تصور نه شي کولی.

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ أَهْوَنَ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا يَوْمَ القِيَامَةِ رَجُلٌ، عَلَى أَخْمَصِ قَدَمَيْهِ جَمْرَتَانِ، يَغْلِي مِنْهُمَا دِمَاغُهُ كَمَا يَغْلِي المِرْجَلُ وَالقُمْقُمُ».

أخرجه البخاري: 6561، مسلم: 213.

نعمان بن بشير رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائي: د قيامت په ورځ باندې به اسان عذاب والا هغه څوک وي چې د هغې د خپو په ژورو ځايونو کې به دوه سکروټې کېښودلی شوې وي او د هغې د وجې نه به ئې دماغ داسې خوټکيږي لکه کټوی چې په اور باندې کېښودلی شي او هغه خوټکيږي.

قدرمنو وروڼو د جهنم په عذاب کې د هغه انسان دا حال دی چې د اور په دوه سکروټو باندې ولاړ وي چې د هغه دماغ د کټوی په شان خوټکيږي.

د هغه انسان به څه حال وي چې هغه د جهنم د اور د لمبو په منځ کې وي، بره اور، ښې او کڼ طرف ته اور، او د اور په لمبو کې نوغړېږي، دغه انسان خو به ډېر بد حالت کې وي رب العالمين دې ترې مونږه او تاسې په آمان کې کړي.

د جهنمي د تنفس حرارت:

د جهنم د عذاب شدت مونږه او تاسو ته ددې نه هم معلومېږي چې د الله نبي مونږه ته د جهنم والا د تنفس شدت داسې فرمائلى دى چې د هغه د تنفس د حرارت او د هغې حرارت د شدت د وجې نه به انسانان ژوند دلاسه ورکوي، بلکه د هغې د تنفس د حرارت د شدت د وجې نه په کائنات اور اخلي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَوْ كَانَ فِي هَذَا الْمَسْجِدِ مِائَةٌ أَوْ يَزِيدُونَ، وَفِيهِ رَجُلٌ مِنَ النَّارِ فَتَنَفَّسَ فَأَصَابَ نَفَسُهُ لَاحْتَرَقَ الْمَسْجِدُ وَمَنْ فِيهِ».

أخرجه البزار: 3499، وأبو يعلى في مسنده: 1573، حسنه المنذري في الترغيب: 227/4، صححه الألباني في الصحيحة: 2509.

ابو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلې دي: که پدې مسجد کې سل زره بلکه د دې نه هم زيات انسانان وي او پديکې يو د اور والا وي او هغه تنفس

وکړي - او د خپل جيګر براس وربو کې - دغه مسجد او څوک چې پدې مسجد کې وي هغه به ټول وسوزي.

قدرمنو او عزتمندو ورونو: تاسو سوچ وکړئ چې د يو جهنمي د جيګر براس دومره زيات ګرم وي چې د يو لاک انسانانو نه ډک مسجد صرف د هغه د جيګر په براس باندې اور اخلي، د هغه جيګر به څومره ګرم وي او هغه اور به څومره ګرم وي چې دده جيګر ئي دومره ګرم کړی دی.

د جهنم والاو په عذاب کې تفاوت

لکه څرنګه چې په دنيا کې نافرمان بندګان يو شان نه وي بلکه په هغوې کې تفاوت شته دی بعضې بندګان هغه دي چې هغوې کافران وي بعضې منافقان وي، بعضې مشرکان، پدوې کې هم بعضې هغه دي چې هغوې په خپل کفر کې ډيره سختي کونکې دي، بعضې متوسط او درميانه دي، او د بعضې هغه دي چې هغوې په خپل کفر کې نرمي کونکي دي.

بعضې نور نافرمان دي چې اسلام ئي راوړی دی لکن بيا هم د الله نافرماني کوي، هغه هم تفاوت لري بعضې زيات نافرمانه وي بعضې متوسط او بعضې کم.

همدغه رنګه به د جهنم په عذاب کې د دوې تفاوت وي بعضې هغه چې اور به ئي تر ګټو رارسيدلی وي او بعضې هغه چې تر

نامه پورې، او بعضې هغه چې تر وښکو پورې به ئې اور رارسیدلی وي.

عَنْ سَمُرَةَ بن جندب رضي الله عنه أَنَّهُ سَمِعَ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «إِنَّ مِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى كَعْبَيْهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ إِلَى حُجْزَتِهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ إِلَى عُنُقِهِ».

أخرجه مسلم: 7348.

سمرة بن جندب رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوریدلي وو چې هغه به فرمائیل: د جهنم والاو کې به بعضې کسان هغه وي چې اور به د هغوې تر ګیټو پورې رارسیدلي وي، او بعضې به هغه وي چې اور د هغوې تر بدې پورې رارسیدلي وي، او بعضې به هغه کسان وي چې اور به د هغوې ترِ څټ او غاړې او مرۍ پورې رارسیدلي وي.

عن أبي سعيد الخدري رضى الله تعالى عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «إنّ أَهوَنَ أَهلَ النَّارِ عَذابًا يومَ القِيامَةِ رَجُلٌ مُتَنَعِّلٌ بِنَعْلَينِ منْ نارٍ يغلِي مِنهُمَا دِمَاغُهُ ومنهم من في النار إلى ركبَتَيهِ مع أَجزاءِ العذَابِ ومنهم مَنْ هُو على أرديته مع أجزاء العذاب ومنهم من هو إلى تَرْقُوتِهِ مع أجزاء العذاب ومنهم مَنْ قَدِ اغْتَمَرَ فِيهَا».

أخرجه الحاكم: 8734.

ابو سعيد الخدري رضي الله عنه فرمائي: چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمائيلي دي: بیشکه ډیر اسان عذاب به په جهنميانو کې د هغه چا وي چې هغه به د اور دوه پڼي په خپو کړې وي هغه د هغې د وجې نه به ئي دماغ خوټکيږي او بعضې به هغه کسان وي چې هغه په اور کې تر ګیټو پورې وي او بعضې به هغه کسان وي چې هغه به د زنګونونو پورې په اور کې وي. او بعضې به هغه کسان وي چې هغه به تر ختټه پورې په اور کې وي او بعضې به هغه کسان وي هغوې به په اور کې تر سيني پورې وي.

په اور کې د کافرو د بدن غټوالی:

الله رب العالمين په جهنم کې د کافرانو او د اور والاو بدنونه غټوي پدې بنياد باندې چې د جهنم د اور عذاب زيات وڅکي او همدغه رنګه نور هم بد شکله شي چې د هغې ذکر په احاديثو کې شويدی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ضِرْسُ الْكَافِرِ، أَوْ نَابُ الْكَافِرِ، مِثْلُ أُحُدٍ وَغِلَظُ جِلْدِهِ مَسِيرَةُ ثَلَاثٍ».

أخرجه مسلم: 2851.

ابو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلې دي چه جهنم کې به د کافرو يو غاښ د احد په

مقدار باندې غټ وي، او د هغه د څرمن دبل والی به د درې ورځو د مزل په مقدار وي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: إِنَّ غِلَظَ جِلْدِ الكَافِرِ اثْنَتَانِ وَأَرْبَعُونَ ذِرَاعًا، بذراع الجبار، وَإِنَّ ضِرْسَهُ مِثْلُ أُحُدٍ، وَإِنَّ مَجْلِسَهُ مِنْ جَهَنَّمَ كَمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَالمَدِينَةِ.

أخرجه الترمذي: 2577، صححه الألباني في الصحيحة: 1105، وصحيح الجامع: 2114.

ابو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي: بيشکه د کافرو د څرمن دبلوالی به د جبار ذات په ذراع او څنګل باندې دوه څلويښت ذراعه وي، او د هغه يو غاښ به د احد په مقدار باندې وي، او د هغه د کيناستلو ځای به دومره غټ وي لکه د مکې او مدينې تر مينځ.

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله - صلى الله عليه وسلم: "ضِرْسُ الكافر مثلُ أُحُدٍ، وفخذه مثل البيضاء، وَمَقعَدُهُ من النار كما بين قديد ومكة، وكثافة جلده اثنان وأربعون ذراعًا بذراع الجبار".

أخرجه مسلم: 2851، وأحمد: 8410، والترمذي: 2577.

ابو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي: په جهنم کې به د کافرو يو غاښ د احد په

مقدار باندې وي او د هغه پتون به د بيضاء دښتې په مقدار باندې وي او د هغې د كيناستلو ځاې به په اور كې دومره لوي وي لكه چې د قديد او مكې تر مينځ څومره مسافه وي او د هغې د څرمنې دبلوالى به د جبار ذات په ذراع او څنګل باندې دوه څلويښت ذراعه وي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا بَيْنَ مَنْكِبَيِ الكَافِرِ مَسِيرَةُ ثَلاَثَةِ أَيَّامٍ لِلرَّاكِبِ المُسْرِعِ».

أخرجه البخاري: 6552، ومسلم: 2852.

ابو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي: د كافرو د دواړو اوګو تر مينځ به په سورلۍ باندې تيز رفتاره سورلۍ كونكى درې ورځې مزل كوي.

عن زيد بن أرقم قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «إن الرجل من أهل النار ليعظم للنار حتى يكون الضرس من أضراسه كأحد».

أخرجه ابن ماجة: 4322، وأحمد: 11232، صححه الألباني في الصحيحة: 1601، وصحيح الجامع: 1628.

زيد بن أرقم رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي: بيشكه د اور والا نه د يو

کس بدن به دومره غټیږي چې د هغه د جامې یو غاښ به د احد په مقدار باندې وي.

عن مجاهد قال: قال ابن عباس رضي الله عنهما: أتدري ما سعة جهنم؟ قلت: لا، قال: أجل، والله ما تدري إن بين شحمة أذن أحدهم وبين عاتقه مسيرة سبعين خريفاً تجري فيه أودية القيح والدم.

أخرجه أحمد: 24856، والحاكم: 2/ 236، وصححه ووافقه الذهبي وقال المنذري في الترغيب: 5417، رواه أحمد باسناد صحيح، صححه الألباني في الصحيحة: 561.

مجاهد رحمه الله فرمائي: چې عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمائيلې دي: تاسو د جهنم پراخي پيژنئ؟ مونږه ورته وويل: نه ئې پيژنو، هغه وفرمائل: د کافر د غوږ د يوې نرمۍ او د اوږې تر مينځ اويا کاله مزل دی، پديکې به د وينو زوو کندې بهيږي.

د جهنم ګرزونه:

الله رب العالمين په جهنم کې د جهنميانو د وهلو لپاره ګرزونه تيار کړې دي چې کله جهنميان د وهلو اراده لري او د جهنم غاړې ته راشي ملايکې به ئې پدغه ګرزونو باندې ووهي او بيرته به ئې د جهنم منځ ته ګزار کړي.

قرآن کريم کې الله رب العالمين د هغې ذکر کړی دی.

الله تعالی فرمائي: (وَلَهُمْ مَقَامِعُ مِنْ حَدِيدٍ، كُلَّمَا أَرَادُوا أَنْ يَخْرُجُوا مِنْهَا مِنْ غَمٍّ أُعِيدُوا فِيهَا وَذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ). الحج: 21-22.

او ددې جهنميانو لپاره به ګرزونه وي کله چې دوی د جهنم نه د وتلو اراده وکړي هغوی به بيرته جهنم ته واپس کړی شي او ورته به وويل شي چې د سوزولو عذاب وڅکئ.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رضي الله عنه قال: قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْ أَنَّ مقمعاً منْ حدِيْدٍ لوْ ضربَ الجبل بِمِقْمَعٍ مِنْ حَدِيدٍ لَتَفَتَّتَ ثُمَّ عَادَ كَمَا كَانَ».

مسند أحمد: 12106، ضعفه الألباني في ضعيف الجامع الصغير: 4809.

ابو سعيد الخدري رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلي دي: که د جهنم د اوسپنې يو ګرز باندې غر ووهلی شي هغه به ذرې ذرې شي.

عن أبي سعيد رضی الله تعالی عنه أن رسول الله صلی الله عليه وسلم قال: «لَو أَنَّ مقْمِعًا مِن حَدِيدٍ وضع في الأرض فَاجْتمعَ له الثَّقلانِ مَا أَقَلّوهُ منَ الأرضِ».

أخرجه الحاكم: 8773، ضعفه الألباني في ضعيف الجامع: 4809.

ابو سعيد الخدري رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائلي دي: که د جهنم د اوسپنې ګرز په زمکه

باندې کیښودلی شي او ټول پیریان او انسانان هغې ته راجمع شي
هغه به د ځمکې نه اوچت نه کړي.

د جهنم ځنځیرونه:

الله رب العالمین په جهنم کې د جهنمیانو لپاره ځنځیرونه پیدا کړې دي چې هغه به ډیر زیات اوګده وي، په هغې باندې به جهنمیان تړلی شي او بیا به په جهنم کې پړمخ راښکلی شي قرآن کې د هغی تذکره شویده الله تعالی فرمائي:
(فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ، إِذِ الْأَغْلَالُ فِي أَعْنَاقِهِمْ وَالسَّلَاسِلُ يُسْحَبُونَ، فِي الْحَمِيمِ ثُمَّ فِي النَّارِ يُسْجَرُونَ).
غافر: 70 – 72.

پس ژر دی چې دوی به هغه وخت پوهه شي کله چې طوقونه د دوی په غاړو کې واچولی شي او ځنځیرونو باندې خپې وتړلی شي، او بیا په جهنم کې پړمخ کش کړی شي، او بیا به په جهنم کې پدوی باندې اور بل کړی شي او دوی به پرې وسوزول شي.
الله تعالی ددې کافرو په باره کې فرمائي:
وقال: (خُذُوهُ فَغُلُّوهُ، ثُمَّ الْجَحِيمَ صَلُّوهُ (31) ثُمَّ فِي سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُونَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوهُ).
الحاقة: 30 – 32.

دوې ونیسئ پس دوې ته غاړې ته طوقونه ورواچوئ، بیا ئې جهنم ته داخل کړئ بیا ئې په هغه زنځیرونو کې وپیلئ چې هغه اویا ګزه وي.

(وَتَرَى الْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ مُقَرَّنِينَ فِي الْأَصْفَادِ).

ابراهیم: 49.

او ته به پدغه ورځ باندې مجرمان ووینې چې هغوې به په زنځیرونو باندې تړلی شوې وي.

(إِنَّ لَدَيْنَا أَنكَالًا وَجَحِيمًا، وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَعَذَابًا أَلِيمًا).

المزمل: 12 – 13.

بیشکه زمونږ سره قیدونه او طوقونه دي او ګرم اور دی، او هغه خوراک دی چې په مرۍ کې نخلې او دردناک عذاب دی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَوْ أَنَّ رَصَاصَةً مِثْلَ هَذِهِ وَأَشَارَ إِلَى مِثْلِ الْجُمْجُمَةِ، أُرْسِلَتْ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ، وَهِيَ مَسِيرَةُ خَمْسِمِائَةِ سَنَةٍ لَبَلَغَتِ الْأَرْضَ قَبْلَ اللَّيْلِ، وَلَوْ أَنَّهَا أُرْسِلَتْ مِنْ رَأْسِ السِّلْسِلَةِ لَسَارَتْ أَرْبَعِينَ خَرِيفًا اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ قَبْلَ أَنْ تَبْلُغَ أَصْلَهَا أَوْ قَعْرَهَا.

أخرجه الترمذي: 2588، أحمد: 6856، البيهقي في البعث والنشور: 581، والحاكم: 438/2، وصححه ووافقه الذهبي.

عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما فرمائي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلي دي: پیالیٔ او یا د سر کوپړی ته اشاره وکړه اوفرمائیل: که ددې په مقدار تامبه د اسمان نه زمکې ته ګزار شي هغه به د شپې نه مخکې مخکې زمکې ته راورسیږي او حال دا دی چې د اسمان نه تر زمکې پورې پنځه سوه کاله مزل دی.

خو که دغومره مقدار تامبه د جهنم د زنځیر د سر نه راګزار شي څلويښت کاله به ښکته روانه وي او دا به لا ددغې زنځیر بیخ ته رسیدلی نه وي.

د جهنمیانو لباس اوبسترې:

قرآن کریم کې رب العالمین مونږه ته خبر راکړی دی چې د جهنمیانو لپاره به د اور لباس وي، د هغوې کمیسونه به د اور وي او د هغوې لنګ او پرتوګونه به هم د اور وي، او د هغوی بسترې به هم د اور څخه وی، الله تعالی فرمائي:

(فَالَّذِينَ كَفَرُوا قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِنْ نَارٍ).

الحج: 19.

پس هغه کسان چې کفر ئي کړی دی د دوې لپاره به د اور کپړې پرې کړی شي.

يعنې لکه څرنګه چې د بدن لباس داسې وي چې کپړه پرې کړی شي او د هر اندام اندام برابر کپړې وګنډلی شي. همدغه رنګه به د هر اندام اندام په اندازه د دوې نه اور تاو شي او د اور لباس به ورواغوستلی شي پدې وجه باندې چې د بدن هرې حصې ته اور ورسيږي.

(سَرَابِيلُهُمْ مِنْ قَطِرَانٍ وَتَغْشَى وُجُوهَهُمُ النَّارُ).

ابراهيم: 50.

د دوې کميسونه به د نزرو نه وي او د دوې مخونه به اور پټ کړې وي.

او همدغه رنګه الله رب العالمين د جهنم د بسترو او فرشونو په باره کې فرمائي چې لاندې تورشک(فرش) به هم د اور نه وي او د بره برستن کمبل به هم د اور نه وي.

(لَهُمْ مِنْ جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِنْ فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ).

الأعراف: 41.

د دې جهنميانو لپاره به د جهنم د اور نه فرشونه او بسترې وي او د بره نه پټونکی برستن او کمبل به هم د اور نه وي.

(لَهُمْ مِنْ فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِنَ النَّارِ وَمِنْ تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ).

الزمر: 16.

د دې جهنم والاو لپاره به د بره نه هم د اور طبقات وي او د لاندې نه هم د اور طبقات وي.

په جهنم کې د وير کرې زنانه لباس:

همدغه رنګه الله رب العالمین به هر مجرم ته د هغه د جرم مطابق لباس ور اغوندي لکه نبي کريم صلى الله عليه وسلم په خپل مبارک ارشاد کې د هغې زنانه د لباس ذکر کوي چې هغه په مړو باندې وير کوي او فرمائي:

عن أبي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيَّ رضي الله عنه أن رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «النَّائِحَةُ إِذَا لَمْ تَتُبْ قَبْلَ مَوْتِهَا، تُقَامُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَعَلَيْهَا سِرْبَالٌ مِنْ قَطِرَانٍ، وَدِرْعٌ مِنْ جَرَبٍ».

أخرجه مسلم: 934، وأحمد: 22969.

ابو مالک الأشعري رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي: کله چې وير کره زنانه د مرګ نه مخکې مخکې توبه ونه باسي هغه به د قيامت په ورځ پداسې حالت کې ودرولی شي چې په هغې باندې به د ننزرو اوربد کميس وی او تر خنبسو پورې به د خارښ کميس وي.

عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «مِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى كَعْبَيْهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى

زُكْبَتَيْهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى حُجْزَتِهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى تَرْقُوَتِهِ".

صحيح مسلم: 7349، والحجزة: معقد الإزار والسراويل.

سمرة بن جندب رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائيلي دي په جهنم کې به بعضې انسانان وي چې اور به د هغوې تر ګیټو رارسیدلې وي او بعضې به هغه انسانان وي چې اور به د هغوې تر زنګونونو رارسیدلې وي او بعضې به هغه انسانان وي چې اور به د هغوې تر مرۍ او سینو د سر هډوکو پورې رارسیدلې وي.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ أَوَّلَ مَنْ يُكْسَى حُلَّةً مِنَ النَّارِ إِبْلِيسُ، فَيَضَعُهَا عَلَى حَاجِبِهِ، وَيَسْحَبُهَا وَهُوَ يَقُولُ: يَا ثُبُورَهُ، وَذُرِّيَّتُهُ خَلْفَهُ وَهُمْ يَقُولُونَ: يَا ثُبُورَهُمْ، حَتَّى يَقِفُواعَلَى النَّارِ، فيَقُولُ: يَا ثُبُورَاهُ، وَيَقُولُونَ: يَا ثُبُورَهُمْ، فَيُقَالُ: {لَا تَدْعُوا الْيَوْمَ ثُبُورًا وَاحِدًا وَادْعُوا ثُبُورًا كَثِيرًا}.

أخرجه أحمد: 13953، ضعفه الألباني في الضعيفة: 1143.

انس رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائيلي دي: اول هغه څوک چې هغه ته د اور جوړه او لباس ورواغوستل شي هغه به ابلیس وي، هغه به دغه لباس په ورززو باندې کیدې او کش به ئې کړي او دا به اواز وکړي واهلاکته

بچې به ئې هم د هلاکت اواز وکړي تر دې چې په اور باندې به
ودرول شي دا به ووائي واهلاکته دوې ته به وویلې شي نن ورځ
یو هلاکت مه غواړئ بلکه هلاکتونه وغواړي.

د جهنمیانو خوراک

د جهنم د بدترینو عذابونو نه یو عذاب د جهنم خوراکونه دي
ځکه چې رب العالمین په جهنم کې هغه خوراکونه تیار کړې
دي چې هغه ډیر تریخ او بدبویه دي، او هغه ازغي دار دي، هغه
په مرئ کې نخلي هغه نه ولړه دفع کوي او نه بدن ته قوت او
فایده ورکوي، هغه زقوم او ضریع هغه بدترین خوراکونه دي چې
په خیټه کې داسې خوټکیږي لکه څرنګه چې ایشیدلې اوبه
ایشیږي او خوټکیږي.

(ثُمَّ إِنَّكُمْ أَيُّهَا الضَّالُّونَ الْمُكَذِّبُونَ، لَآكِلُونَ مِنْ شَجَرٍ مِنْ زَقُّومٍ ، فَمَالِئُونَ مِنْهَا الْبُطُونَ، فَشَارِبُونَ عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيمِ ، فَشَارِبُونَ شُرْبَ الْهِيمِ).

الواقعه: 51 – 55.

بیا تاسو ای ګمراهانو تکذیب کونکو خامخا به تاسو د زقوم د
ونې نه خوراک کونکې یئ، پس د هغې نه به خپلې خیټې
ډکوئ، د جل وهونکو اوښانو په شان اوبه سکونکې وي.

(أَذَٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا أَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّومِ (62) إِنَّا جَعَلْنَاهَا فِتْنَةً لِّلظَّالِمِينَ (63) إِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِي أَصْلِ الْجَحِيمِ (64) طَلْعُهَا كَأَنَّهُ رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ (65) فَإِنَّهُمْ لَآكِلُونَ مِنْهَا فَمَالِئُونَ مِنْهَا الْبُطُونَ (66) ثُمَّ إِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيمٍ (67) ثُمَّ إِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَإِلَى الْجَحِيمِ).

الصافات: 62 – 67.

ايا دغه جنت غوره دی او که د زقوم ونه، مونږه د ظالمانو لپاره عذاب ګرځولی دی، دغه داسې ونه ده چې د جهنم په مینځ کې راخیژي د هغې غنچکونه داسې دي لکه د شیطانانو سرونه، پس دوی به د هغې نه خوراک کوي، د هغې نه به خپلې خیټې ډکوي، بیشکه د دوی لپاره په هغې باندې ګډون دی د ګرمو ایشیدلو اوبو نه، او بیا د دوی واپسي به ګرم اور ته وي.

(إِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّومِ (43) طَعَامُ الْأَثِيمِ (44) كَالْمُهْلِ يَغْلِي فِي الْبُطُونِ (45) كَغَلْيِ الْحَمِيمِ (46) خُذُوهُ فَاعْتِلُوهُ إِلَى سَوَاءِ الْجَحِيمِ (47) ثُمَّ صُبُّوا فَوْقَ رَأْسِهِ مِنْ عَذَابِ الْحَمِيمِ).

الدخان: 43 – 48.

بیشکه د زقوم ونه د ګناهګارانو خوراک دی، د ولې شوي تامبې، او د تیلو د بیخ ختې په شان په خیټو کې خوټکیږي الله

تعالی د طرف نه به وویل شي: ونیسئ دوی لره او د جهنم منځ ته
ئي کش کړئ، بیا ئي د سر نه دپاسه پرې ګرمې اوبه واړوئ.
(فَلَيْسَ لَهُ الْيَوْمَ هَاهُنَا حَمِيمٌ (35) وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنْ غِسْلِينٍ (36)
لَا يَأْكُلُهُ إِلَّا الْخَاطِئُونَ).
الحاقة: 35 – 37.

ددغه کافر لپاره به نن ورځ څوک مهربانه دوست نه وي او د
غسلین نه به علاوه بل خوراک نه وي، هغه به د ګناهګارانو نه
علاوه بل څوک نه خوري.

د غسلین تفسیر:

د غسلین په تفسیر کې د مفسرینو یو څه اقوال نقل کړی شوې دي.

1: قتادة رحمه الله فرمائي: دا یو بدترین خوراک دی چې د
اور والا ئي کوي.

2: ربیع او ضحاک رحمهما الله فرمائي: دا په جهنم کې یوه ونه ده.

3: عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمائي: زه نه پوهیږم چې
غسلین څه ته وائي لکن دا ګمان کوم چې دا به زقوم ونه وي.

4: او د ده نه دا قول هم نقل شوی دی چې دا هغه وینو زوو ته
ویل کیږي چې د دوې د غوښونه بهیږي. «تفسیر ابن کثیر».
(لَيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ إِلَّا مِنْ ضَرِيعٍ (6) لَا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِي مِنْ جُوعٍ).
الغاشية: 5 – 7.

د دوی لپاره هیڅ طعام نه شته دی مګر د ضریع چې هغه نه چاقول کوي او نه ولږه دفع کوي.

پدې مخکې آیاتونو کې الله رب العالمین دا خبره ذکر کړه چې د جهنمیانو لپاره یو څو قسمه خوراکونه دي او یو د بل نه ډیر بدترین دی څکه د دوی لپاره د زقوم د ونې نه خوراک ورکول کیږي او هغه به داسې وي لکه ولې شوې تامبه او یا د تیلو د ویخ خته او دا به دومره ګرمه وي چې په خیټه کې به دا د ایشیدلو اوبو په شان خوټکیږي.

همدغه رنګه چې دوې ته به غسلین ورکولی شي چې دا هم بدترینه ونه او یا د جهنمیانو وینې زوې دي.

او همدغه رنګه داسې طعام ورکولی شي چې هغه به مرۍ کې نخلي.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ هَذِهِ الآيَةَ: {اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلاَ تَمُوتُنَّ إِلاَّ وَأَنْتُم مُسْلِمُونَ} قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَوْ أَنَّ قَطْرَةً مِنَ الزَّقُّومِ قُطِرَتْ فِي دَارِ الدُّنْيَا لأَفْسَدَتْ عَلَى أَهْلِ الدُّنْيَا مَعَايِشَهُمْ، فَكَيْفَ بِمَنْ يَكُونُ طَعَامَهُ؟. **أخرجه الترمذي: 2585، ابن ماجة: 4325، ابن حبان: 7470، والحاكم: 294/2، وقال الترمذي حديث حسن صحيح وقال الحاكم صحيح على شرطهما.**

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمائي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دا آیت ولوستلو، ای د ایمان والاو د الله نه په حقه ویره باندې ویریږئ او تاسو پداسې حالت کې مه مړه کیږئ مګر چې تاسو مسلمانان یئ، بیا ئي وفرمائیل: که د زقوم د ونې یو څاڅکی په ټوله دنیا کې توې شي د ټولې دنیا والاو زندګي به فاسده او ترخه کړي د هغه چا به څه حال وي چې د هغوې خوراک همدا وي.

د اور خوراک

الله رب العالمين مونږه ته دا خبر هم راکړی دی چې د جهنميانو د خوراک نه یو اور هم دی چې دوې به هغې لره خوري او د دوې په خیټو کې به لمبې وهي.

الله تعالی فرمائي:

(إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلَ اللهُ مِنَ الْكِتَابِ وَيَشْتَرُونَ بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا أُولَئِكَ مَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ إِلَّا النَّارَ).

البقرة: 174.

بیشکه هغه کسان چې هغه څه پټوي چې مونږه نازل کړی دی د کتاب نه او په هغې باندې لږ عوض اخلي دغه کسان به خپلو خیټو کې نه اچوي مګر اور.

دې آيـت کـې الله رب العـالمين د هغـه کسـانو خـبر ورکـړه چې کوم کسان چې د الله نـازل شـوی ديـن پـدې وجـه بانـدې پټ کړي چې د هغـوې مقصـد دا وي چې لـږ لالـچ وربانـدې وکـټـي، دوې اور خـوري، معلـوميږي چې پـه جهـنم کـې د جهنميانو يو خوراک اور هم دی.

همدغه رنګه قرآن کريم کې الله رب العالمين فرمائي:

(إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا).

النساء: 10.

بيشکه هغه کسان چې د يتيمانانو مالونه په ظلم باندې خوري بيشکه دوې به اور خوري او اور په خپلو خيټو کې اچوي او زر دی چې دوې به ګرم اور ته داخل شي.

د اور د خوراک تفسير:

د اور د خوراک تفسير د مفسرينو نه دوه قسمه نقل کړی شوی دی.

1: ددې مطلب دا دی چې دوې چې کوم مالونه خوري ددې عاقبت اور دی ګويا که چې دوې په حقيقت کې اور خوري.

دويم قول: د مفسرينو دويم قول دا دی چې کوم انسانان چې دغه ناکاره عملونه وکړي الله به د قيامت په ورځ باندې د دوې خيټې د اور نه ډکې کړي او د دوې په خيټو کې به اور لمبې وهي

او د جهنم د اور آواز به د دوی د خیټو نه راووځي، او د دې استدلال د هغه حدیث نه کوي.

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الَّذِي يَشْرَبُ فِي إِنَاءِ الفِضَّةِ إِنَّمَا يُجَرْجِرُ فِي بَطْنِهِ نَارَ جَهَنَّمَ».

أخرجه البخاري: 5634، مسلم: 2065.

ام سلمه رضي الله عنها فرمائي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي: هغه کس چې د سپینو زرو په لوښي کې خوراک کوي د هغه په خیټه کې د جهنم د اور اواز کیږي.

ازغي دار خوراک

په جهنم کې الله رب العالمین د جهنمیانو لپاره ازغیدار خوراک تیار کړی دی چې هغه په مرۍ کې نخلي نه به د مرۍ نه بیرته راووځي او نه به ښکته تیریږي.

الله تعالی فرمائي: (إِنَّ لَدَيْنَا أَنْكَالًا وَجَحِيمًا (12) وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَعَذَابًا أَلِيمًا).

المزمل: 12 – 13.

بیشکه زمونږه سره طوقونه، او ګرم اور دی، او هغه خوراک چې په مرۍ کې نخلي او دردناک عذاب دی.

دې آیت کې الله رب العالمین خبر ورکړه چې الله د جهنمیانو لپاره داسې خوراک تیار کړی دی چې هغه به مرۍ کې نخلي.
عبدالله بن عباس رضي الله عنهما طعاماً ذا غصة تفسیر کوي او فرمائي: شوک یأخذ بالحلق لا یدخل ولا یخرج. «تفسیر الطبري».
دا به ازغی وي چې حلق او مرۍ کې به ونخلي نه به ښکته ځي او نه به بیرته راووځي.

د جهنمیانو سکاک

لکه څرنګه چې الله رب العالمین په جهنم کې ډیر بدترین خوراکونه تیار کړې دي چې د هغې ذکر مخکې وشو همدغه رنګه الله رب العالمین په جهنم کې ډیر بدترین سکاکونه تیار کړې دي چې هغه هم د جهنم د بدترینو عذابونو نه یو عذاب وي.
څکه قرآن عظیم الشان کې الله رب العالمین مونږه ته دا خبر راکړی دی چې الله رب العالمین په جهنم کې د جهنم د سکاک لپاره داسې سختې ګرمې ایشیدلې اوبه پیدا کړې دي چې هغه کله مخ ته نژدې کړی شي مخ لره وریتوي، او چې کله د هغې نه یو ګوټ کولمو ته تیرې شي کولمې ټکړې ټکړې کوي.
همدغه رنګه جهنمیان به سکاک لپاره د بدنونو وینې زوې استعمالوي، او همدغه رنګه د جهنم نچوړ شوې خته او داسې

اوبه لکه د ولې شوې تامبې او د تیلو د ویخ څنې په شان، الله تعالی فرمائي:

(وَإِنْ يَسْتَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِي الْوُجُوهَ بِئْسَ الشَّرَابُ وَسَاءَتْ مُرْتَفَقًا).

الكهف: 29.

او که فریاد وکړي دوې د تندې نو فریاد به واخیستی شي د دوې له په ورکولو د داسې اوبو لکه زوې یا د تیلو خته چې وریتوي به مخونه ډیر بدترین سکاک دی او ډیر بد ځای د آرام دی.

(وَسُقُوا مَاءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَاءَهُمْ).

محمد: 15.

او سکولی به شي په دوې باندې ګرمې اوبه پس تکړې تکړې به کړي کولمې د هغوې.

(هَذَا فَلْيَذُوقُوهُ حَمِيمٌ وَغَسَّاقٌ).

ص: 57.

دا عذاب د کفارو دی، پس دوې څکي دا کفار دا ایشیدلې اوبه او وینې زوې.

(وَيُسْقَى مِنْ مَاءٍ صَدِيدٍ (16) يَتَجَرَّعُهُ وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُ وَيَأْتِيهِ الْمَوْتُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍ وَمِنْ وَرَائِهِ عَذَابٌ غَلِيظٌ).

ابراهیم: 15 – 17.

او سكولي به شي پدوې باندې د اوبو نه چې هغه به وينې زوې وي كوټ كوټ به سكي هغې لره، او قريبه نه ده چې تېر كړې هغې لره، او راځي به دوې ته مرګ د هر ځاى نه، او نه به وي دا مړ كيدونكى او آخوا د دوې نه به عذاب سخت وي.

دې آيتونو كې الله رب العالمين د جهنميانو د سكاك په باره كې وفرمائيل: چې دوې ته به په سكاك كې:

1: اوبه وركولې شي لكن دغه اوبه به ولې شوې تامبې په شان كرمې وي او داسې به بدبويه وي كه هغه مخ ته نژدې كړې نو په نفس مخ ته په نژدې كولو باندې ئې مخ وريتيږي. او كه د هغې نه يو كوټ تير كړې دومره به كرمې وي چې د دوې كولمې به ټكړې ټكړې كړي.

2: دوې ته به په سكاك كې وينې زوې وركولې شي هغه به دومره زياتې بدبويه وي چې انسان به د هغې د سكلو طاقت نه لري چې يو كوټ كوت به سكي، يوائې پدې باندې به هم اكتفاء نه شي كيدلى بلكه نورې اوبه به ورته په سر باندې واړوي.

عَـنْ أَبِي هُرَيْـرَةَ رضي الله عنه، عَـنِ النَّـبِيِّ صَـلَّى اللهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ، قَـالَ: «إِنَّ الحَمِـيمَ لَيُصَـبُّ عَلَى رُءُوسِـهِمْ فَيَنْفُـذُ الحَمِيمُ

حَتَّى يَخْلُصَ إِلَى جَوْفِهِ فَيَسْلِتُ مَا فِي جَوْفِهِ، حَتَّى يَمْرُقَ مِنْ قَدَمَيْهِ وَهُوَ الصَّهْرُ ثُمَّ يُعَادُ كَمَا كَانَ».

أخرجه الترمذي: 2582، والبيهقي في البعث والنشور: 579، وصححه الألباني في الصحيحة: 3470.

ابو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلې دي: بيشکه ايشيدلې اوبه به د جهنم والاو په سر باندې واړولى شي هغه به د وينښتانو په سورو کې ښکته لاړى شي تر دې چې هغه به خيټې ته ورسيږي، په خيټې کې چې څه وي هغه به ټکړې ټکړې کړي او د بيخ نه ئې لرې کړې، تر دې چې هغه به ئې د قدمونو نه راووځي.

او دا هغه صهر دى چې قرآن کريم ذکر کړى دى چې يصهر به ما في البطون. بيا به بيرته دوې ته واپس کړى شي.

4: طينة الخبال:

د جهنم والا د سکاکونو نه يو سکاک طينة الخبال دى، طينة الخبال د جهنميانو د زخمونو نه نچوړ شوې وينې زوې او د هغې د بدن خوله، هغه به دوې باندې سکولى شي، او دا به په هغه انسان باندې سکولى شي کوم انسانان چې دنيا کې د نشې عادت لري او نشيان وي.

عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه قال: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ، إِنَّ عَلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ عَهْدًا لِمَنْ يَشْرَبُ الْمُسْكِرَ أَنْ يَسْقِيَهُ مِنْ طِينَةِ الْخَبَالِ» قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، وَمَا طِينَةُ الْخَبَالِ؟ قَالَ: «عَرَقُ أَهْلِ النَّارِ» أَوْ «عُصَارَةُ أَهْلِ النَّارِ».

أخرجه مسلم: 2002.

جابر رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي: هر نشه کونکی څیز حرام دی، الله رب العالمین دا وعده کړې ده چې کوم انسان نشه کونکي څیزونه سکي الله رب العالمین به په هغه باندې طینة الخبال ـ د فساد ختهـ سکي.

صحابه کرامو وفرمائل: یا رسول الله طینة الخبال څه شی دی؟
د جهنمیانو د بدن خوله او یا د هغوې د زخمونو د وینو زوو نچوړ.

5: غساق:

د جهنم والاو د سکاکونو نه یو سکاک غساق دی، غساق هغه اوبو ته ویل کیږي چې د جهنمیانو د څرمنې او غوښې د مینځ نه راووځي، همدغه رنګه بعضې اهل علم داسې بیان کوي چې هغه څه چې د جهنم والا د بدن نه راووځي چې هغه وینه، زوا او نورې اوبه وي هغې ته غساق ویل کیږي.

الله تعالی په قرآن کریم کې د هغې تذکره کړې ده.

الله تعالی فرمائي: (هَذَا فَلْيَذُوقُوهُ حَمِيمٌ وَغَسَّاقٌ). ص: 57.

دا عذاب د كفارو دى، پس ودې څكې دوى دغه ايشېدلې اوبه او زوې.

قال ابن عباس رضي الله عنهما: الغَسَّاقُ مَا يَسِيلُ مِن بَينِ جِلدِ الكافِرِ وَلَحْمِهِ.

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمائي: غساق هغې اوبو ته ويل كيږي چې د كافر د غوښې او څرمنې د مينځ نه راووځي.

قال مجاهد رحمه الله: غساق لا يستطيعون أن يذوقوه من شدة برده.

امام مجاهد رحمه الله فرمائي: دغه غساق به دومره زيات يخ وي چې د ډير يخوالې د وجې نه به دوى هغه څكلې نه شي او دغه غساق به ډير زيات بدبويه وي كه د هغې يوه بوقه ټولې دنيا ته توې كړى شي ټوله دنيا به بدبويه كړي.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَوْ أَنَّ دَلْوَ غَسَّاقٍ يُهَرَاقُ فِي الدُّنْيَا، لَأَنْتَنَ أَهْلَ الدُّنْيَا ".

أخرجه الحاكم في المستدرک: 8779، حسن.

ابو سعيد الخدري رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صل الله عليه وسلم فرمائيلې دي: كه د غساق يوه بوقه په ټوله دنيا كې واړولى شي دا ټول دنيا والا به بدبويه شي.

د جهنم والاو ژړا:

د جهنم د سخترينو عذابويو يو آثر دا هم دی چې که جهنم والا پدغې عذابونو کې ګرفتار شي هغوې به ژړاګانې کوي، او معمولې ژړا به نه وي بلکه پداسې چغو چغو باندې به ژاړي چې د هغوې لپاره به د ډيرې ژړا د وجې نه اسويلې او هنار وي، او ددې سره سره به د هلاکت اوازونه کوي او د ځان لپاره به هلاکت غواړي، قران او سنت د هغې بيان کړی دی.

الله تعالی فرمائي: (فَلْيَضْحَكُوا قَلِيلًا وَلْيَبْكُوا كَثِيرًا جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ).

التوبة: 82.

پس دوې دې لږه خندا اوکړي او ډيره دې ژړا وکړي.

د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما تفسير:

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمائي: چې دينا ډيره لږه موده ده يعنې دوې دې په دنيا کې خنداګانې وکړي، خو چې کله د دنيا زندګي ختمه شي او دوې الله تعالی ته واپس شي هغوې به داسې ژړا شروع کړي چې هغه به نه ختميږي.

«تفسير الطبري»

الله تعالی فرمائي: (لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَهُمْ فِيهَا لَا يَسْمَعُونَ).

الأنبياء: 100.

او ددې جهنم والاو لپاره به پدې جهنم کې چغې او اسويلې وي او دوې به په جهنم کې هيڅ شی نه اوري.
(فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُوا فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ).
هود: 106.

او هر چې هغه بدبخته انسانان دي هغوې به په اور کې وي د دوې لپاره به پدغه اور کې اسويلې او هنار وي.

د زفير او شهيق تفسير:

علماء کرامو د زفير او شهيق يو څو تفسيرونه کړې دي چې دلته به ئي په مختصر انداز د الله په فضل او توفيق سره بيان کړو.

1: عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمائي:

زفير شديد او سخت اواز ته ويل کيږي، او شهيق ضعيف او کمزورې اواز ته ويل کيږي.

2: ابو العالية رحمه الله فرمائي:

زفير هغې اواز ته ويل کيږي چې هغه په حلق او مرۍ کې کيږي او شهيق هغې اواز ته ويل کيږي چې هغه په سينه کې کيږي.

3: قتادة رحمه الله فرمائي: کافر به په جهنم کې د خر په شان اوازونه کوي چې د خر اول اواز زفير او اخرنی اواز ئي شهيق وي.

«تفسير الطبري»

(وَإِذَا أُلْقُوا مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا مُقَرَّنِينَ دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُورًا (13) لَا تَدْعُوا الْيَوْمَ ثُبُورًا وَاحِدًا وَادْعُوا ثُبُورًا كَثِيرًا).

الفرقان: 13 – 14.

او کله چې دغه جهنم والا په جهنم کې يو تنګ ځای کې وغورځول شي دوی به هلته هلاکت راوغواړي ده ته به وويل شي، نن يو هلاکت مه راغواړئ بلکه ډير هلاکتونه راوغواړئ.

عن عبد الله بن قيس أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «إِنَّ أهلَ النَّارِ لَيَبْكُونَ حتى لَو أُجْرِيَتِ السُّفُنُ في دُمُوعِهِم لَجَرَتْ وأَنَّهم ليبكونَ الدَّمَ يعني مَكانَ الدَّمْعِ».

أخرجه الحاكم: 4/ 605، وصححه الألباني في الصحيحة: 1679، صححه الحاكم ووافقه الذهبي.

عبدالله بن قيس رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي: بيشکه د اور والا به ژړا کوي تر دې پورې چې کشتۍ د دوی په اوښکو کې چلوي نو وړيکې روانيږي او بې شکه دوی به دومره وژاړي چې د اوښکو په ځای باندې به وينې توی کړي.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يُرْسَلُ الْبُكَاءُ عَلَى أَهْلِ النَّارِ، فَيَبْكُونَ حَتَّى يَنْقَطِعَ

الدُّمُوعُ، ثُمَّ يَبْكُونَ الدَّمَ حَتَّى يَصِيرَ فِي وُجُوهِهِمْ كَهَيْئَةِ الْأُخْدُودِ، لَوْ أُرْسِلَتْ فِيهَا السُّفُنُ لَجَرَتْ».

اخرجه ابن ماجة: 4324، وابن أبي الدنيا صفة النار، حسنه الألباني في الصحيحة: 1679، وصحيح الجامع: 8083.

انس رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي: په اور والا باندې به ژړا راولیږل شي هغوی به دومره وژاړي چې اوښکې به ختمې شي بیا به د وینو ژړا شروع کړي تر دې چې د هغوی مخونو کې د ډیرې ژړا د وجې نه لارې لارې وشي او لختې به ورپکې جوړ شي.

دومره ژړا به وکړي که کشتۍ ورپکې ورپریدې هغه به ورپکې روانیږي.

عن عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما قال: إن أهل النار يدعون مالكاً فلا يجيبهم أربعين عاماً ثم يقول: إنكم ماكثون.

الزخرف: 77.

ثم يدعون ربهم فيقولون: ربنا أخرجنا منها فإن عدنا فإنا ظالمون فلا يجيبهم مثل الدنيا، ثم يقول: اخسئوا فيها ولا تكلمون.

المؤمنون: 107،

ثم ييأس القوم فما هو إلا تشبه أصواتهم أصوات الحمير أولها شهيق وآخرها زفير.

1: قال الله تعالی: (وَهُمْ يَصْطَرِخُونَ فِيهَا رَبَّنَا أَخْرِجْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا غَيْرَ الَّذِي كُنَّا نَعْمَلُ أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَنْ تَذَكَّرَ وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ فَذُوقُوا فَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ نَصِيرٍ).

فاطر: 37.

عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما فرمائي: د جهنم والا به د جهنم څوكيدار مالک ته درخواست وكړي او هغه به راوبلي، هغه به څلويښت كاله د دوې سوال ته جواب ونه وائي د څلويښت كاله نه پس به ورته ووائي: چې تاسو وخت په جهنم كې شته دی، او تاسې به وخت تيرونكي يئ بيا به خپل رب راوبلي او هغه ته به سوال وكړي.

او داسې به ورته ووائي: يا الله مونږه ددې جهنم نه وباسه كه چيرته مونږه دوباره دې كفر ته واپس شو پس بې شكه مونږه به ظالمان يو هغه به ورته جواب نه وركوي، بيا به ورته ووائي: كورې شئ پدې جهنم كې او خبرې مه كوئ، بيا به دوې نا اميده شي د ډير غم د وجې نه به داسې ژړا وكړي چې هغه به د خر د اوازونو سره مشابه وي چې هغه زفير او شهيق د خر اولنی اواز او زفير او وروستې اواز شهيق دی.

الله تعالی فرمائي: او دا جهنم والا به په جهنم كې چغې وهي او داسې به وائي: يا الله مونږه وباسه چې مونږه عمل

وکړو علاوه د هغې عمل نه چې مونږه کوو، الله تعالی به ورته ووائي: ایا مونږه تاسې ته دومره زندګي نه وه درکړې چې په هغې کې پند اخستلی شه هغه چا چې پند اخستل ئي غوښتل او تاسو ته ویرونکی راغلی وو پس عذاب وڅکئ د ظالمانو لپاره څوک امدادي نه شته دی.

د جهنمیانو فریادونه:

لکه څرنګه چې مخکې دا خبره ذکر شوه چې جهنمیان به په جهنم کې ډیرې زیاتې ژړاګانې کوي، لکن پدغې ژړا د کې به هغوې یو څه ارمانونه کوي، قرآن کریم کې الله رب العالمین مونږه ته د هغې بیان کړی دی، او پدیکې حکمت همدا دی چې رب العالمین فرمائي: چې جهنم والاو په دنیا کې یو څه کوتاهي کړې ده د هغې په نتیجه کې دې جهنم ته راغلې دي، تاسو په دنیا کې هوښیار شئ او دغه کمې پوره کړئ چې بیا ئي ارمان نه کوي.

1: د الله او د رسول اطاعت:

د جهنم والا به په جهنم کې لوې ارمان دا وي چې کاش مونږه په دنیا کې د الله او د هغه د رسول اطاعت کړې وې.

ځکه دوې ته اوس علم حاصل شو چې جهنم ته انسان پدې وجه باندې راځي چې د الله او د هغه د رسول حکم ونه مني هلته به ئي ځکه ارمان کوي.

الله تعالى فرمائي: (يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُولُونَ يَالَيْتَنَا أَطَعْنَا اللهَ وَأَطَعْنَا الرَّسُولَا، وَقَالُوا رَبَّنَا إِنَّا أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَاءَنَا فَأَضَلُّونَا السَّبِيلَا (67) رَبَّنَا آتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيرًا).

الأحزاب: 66 – 68.

په هغه ورځ چې د دوې مخونه به اور کې اړولی راړولی شي او دوې به وائي: هی افسوس چې مونږه د الله او د رسول تابعداري کړې وې، او دوې به وائي: بيشکه مونږه د خپلو مشرانو او غټانو تابعدارې کړې وه مونږه ئي د حقې لارې نه بې لارې کړی وو.

يا الله دوې ته دوچنده عذاب ورکړه او په لوې لعنت باندې ئي لعنتې کړه.

پدې آيتونو کې دا خبره ذکر شوه چې دوې به په اور کې دا فرياد کوي چې کاش مونږه د الله او د الله د رسول خبره منلې وې، او کاش چې مونږه د غټانو او مشرانو تابعداري د حق په مقابله کې نه وې کړې.

2: الله تعالی فرمائي: (وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلَى يَدَيْهِ يَقُولُ يَالَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُولِ سَبِيلًا (27) يَاوَيْلَتَى لَيْتَنِي لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيلًا (28) لَقَدْ أَضَلَّنِي عَنِ الذِّكْرِ بَعْدَ إِذْ جَاءَنِي وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِلْإِنْسَانِ خَذُولًا). الفرقان: 27 – 29.

په هغه ورځ چې چک به لګوي ظالم په خپلو لاسونو باندې وائي به ای افسوس چې ما د رسول په ملګرتیا کې لاره نیولی وې، ای هلاکت کاش چې فلانی مو په دوستی باندې نوی نیولی، بیشکه زه ئي د وحې نه بې لارې کړم روسته د هغې چې دغه وحې ما ته راغلی وه او شیطان د انسان لپاره شرمونکی دی.

2: د نیک عمل ارمان:

جهنمیان به د دې ډیر زیات ارمان کوي چې کاش زه دنیا ته واپس شم او په دنیا کې بیرته نیک عمل وکړم الله تعالی فرمائي: (وَلَوْ تَرَى إِذِ الْمُجْرِمُونَ نَاكِسُو رُءُوسِهِمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ رَبَّنَا أَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا إِنَّا مُوقِنُونَ). السجدة: 12.

او که چیرته تا لیدلی وې هغه وخت چې مجرمانو خپل سرونه د خپل رب په وړاندې بشکته کړې وي او دا وائي: ای زمونږه ربه مونږه ولیدل او وامو اوریدل ته مونږه بیرته واپس کړه چې مونږه نیک عمل وکړو بې شکه مونږه یقین کونکې یو.

2: الله تعالى فرمائي: (قَالُوا رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا قَوْمًا ضَالِّينَ (106) رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْهَا فَإِنْ عُدْنَا فَإِنَّا ظَالِمُونَ (107) قَالَ اخْسَئُوا فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ).

المؤمنون: 106– 108.

او دوي به وائي: اى زمونږه ربه په مونږه باندې بدبختي غالبه شویده او مونږه ګمراه قوم یو، اى زمونږه ربه ته مونږه ددې نه وباسه که مونږه دوباره کفر، شرک او ګناهونو ته واپس شو پس بې شکه مونږه به ظالمان یو.

3: الله تعالى فرمائي: (وَهُمْ يَصْطَرِخُونَ فِيهَا رَبَّنَا أَخْرِجْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا غَيْرَ الَّذِي كُنَّا نَعْمَلُ أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَنْ تَذَكَّرَ وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ فَذُوقُوا فَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ نَصِيرٍ).

فاطر: 37.

او دوي به پدغه جهنم کې چغې وهي او دا به وائي: اى زمونږه ربه مونږه وباسه چې مونږه عمل وکړو په غیر د هغې عمل نه چې مونږه مخکې کولو، الله تعالى به ورته ووائي: آیا مونږه تاسې ته دومره زندګي نه وه درکړې چې پدیکې پند اخستل شو چا چې پند اخستلو او تاسو ته ویرونکی راغلی وو.

3: د مرګ ارمان:

جهنميان به په جهنم کې د ډيرو سختو او عذابونو نه تنګ شي ارمان به وکړي چې کاش چې مونږه باندې الله تعالی د مرګ فيصله وکړي بلکه د مرګ دعاګانې به وغواړي.

(وَنَادَوْا يَامَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ قَالَ إِنَّكُمْ مَاكِثُونَ).

الزخرف: 77.

او دوی به د اور څوکيدار مالک ته ووائي: ستا رب دې په مونږه باندې د مرګ فيصله وکړي، هغه به ورته وائي: بيشکه تاسو وخت تيرونکې يئ.

د جهنميانو قسم او قسم عذابونه:

لکه څرنګه چې مخکې د جهنم حالات بيان شول او د جهنميانو عذابونه ذکر شول چې هغه ډير زيات سخت دي، بايد مؤمن وخت په وخت د هغې تذکره کوي، او هغه خپلې مخې ته ونيسي، او بيا د هغې نه د بچاو اسباب ولټوي.

لکن د جهنم بعضې عذابونه دي چې هغه ډير سخت دي قرآن کريم او سنت کې د هغې تذکره شوې ده، چې په هغې کې بعضې داسې دي چې مخکې بحثونو کې ذکر شوې دي، لکن دلته به ئې پدې بنياد ذکر کړو چې هغه سخترين سخترين عذابونه په يو

ځاې باندې راجمع شي او په زړه کې د الله تعالى داسې سخت عذاب نه ويره پيدا شي او هغه د جهنم نه د تيښتو اسباب ولټوي.

1: د څرمنو بدليدل:

قرآن کريم کې الله تعالى فرمائي: چې په جهنم کې رب العالمين د جهنميانو څرمنې سوزي او چې کله ئې يوه څرمن وسوزي الله به د هغې په بدل کې بله څرمن راوټوکوي.

او ددې وجه دا ده چې کله تازه او تنکۍ څرمن راوټوکيږي هغه ډير زيات درد کوي، ډيره زر سوزي، او د هغې سوزيدل د انسان زړه ورانوي.

الله تعالى فرمائي: (إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِنَا سَوْفَ نُصْلِيهِمْ نَارًا كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُمْ بَدَّلْنَاهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُوا الْعَذَابَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمًا).

النساء: 56.

بيشکه هغه کسان چې زمونږه په آياتونو باندې کفر کړی دی زر دی چې مونږه به دوې لره اور ته داخل کړو، هر کله چې د دوې څرمنې وريت شي مونږه دوې لره په بدله کې نورې څرمنې ورکړو، ددې لپاره چې عذاب وڅکي، بيشکه الله تعالى زورور او حکمت والا دی.

دې آیت کې دا خبره ذکر شوه چې الله رب العالمین د جهنم والاو خرمنې وریتوي او چې کله وریت شي هغوې ته په بدله کې نورې څرمنې ورکول کیږي او د دې حکمت همدا دی چې دغه د جهنم والا د جهنم عذاب زیات وڅکي.

د حسن بصری رحمه الله وینا:

عَنِ الْحَسَنِ، قَالَ: {كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُمْ بَدَّلْنَاهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا} [النساء: 56] ، قَالَ: " تَأْكُلُهُمُ النَّارُ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعِينَ أَلْفَ مَرَّةٍ كُلَّمَا أَكَلَتْهُمْ قِيلَ لَهُمْ: عُودُوا، فَيَعُودُونَ كَمَا كَانُوا ".

البعث والنشور للبیهقي: 564، والزهد لأسد بن موسی: 37، صحیح.

حسن بصری رحمه الله فرمائي: دوې او دوې څرمنې په ورځ کې اویا کرتې اور خوري، کله چې ئي وخوري، دې ته به وویل شي واپس شي، هغوې به بیرته داسې واپس شي لکه څرنګه چې مخکې وې.

2: په ګرزونو باندې وهل:

د جهنم والاو لپاره یو سخترین عذاب دا دی چې الله رب العالمین په جهنم کې ګرزونه پیدا کړې دي چې په هغې باندې به دوې وهل کیږي، کله چې جهنمیان د جهنم نه د وتلو اراده وکړي پدغه ګرزونو باندې به ووهل شي او بیرته به واپس شي.

(وَلَهُمْ مَقَامِعُ مِنْ حَدِيدٍ، كُلَّمَا أَرَادُوا أَنْ يَخْرُجُوا مِنْهَا مِنْ غَمٍّ أُعِيدُوا فِيهَا وَذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ).
الحج: 21 – 22.

ددې جهنميانو لپاره به د اوسپنې ګرزونه وي، کله چې دوي اراده وکړي چې ددې نه راوخيږي بيرته به په هغې کې واپس شي او ورته وبه ويل شي وڅکئ عذاب د سوزولو يا عذاب د لمبو والا د اور.

3: په طوقونو او زنځيرونو تړل:

جهنم کې الله رب العالمين يو عذاب دا مقرر کړی دی چې د جهنم والا به په زنځيرونو کې تړل کيږي او طوقونه به غاړې ته وراچول کيږي.
الله تعالی فرمائي: (إِنَّا أَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ سَلَاسِلَ وَأَغْلَالًا وَسَعِيرًا).
الانسان: 4.

بيشکه مونږه د کافرانو لپاره زنځيرونه، طوقونه او ګرم اور تيار کړی دی.
(إِنَّ لَدَيْنَا أَنْكَالًا وَجَحِيمًا (12) وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَعَذَابًا أَلِيمًا).
المزمل: 12 – 13.

بيشکه زمونږه سره قيدونه، اور او هغه خوراک چې په مرۍ کې نخلي او دردناک عذاب دی.

(وَجَعَلْنَا الْأَغْلَالَ فِي أَعْنَاقِ الَّذِينَ كَفَرُوا هَلْ يُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ).

سبأ: 33.

او کړځولي دي مونږه طوقونه په څټونو او مرو د هغه کسانو کې چې کفر ئې کړی دی، دوی ته بدله نه شي ورکولی مګر د هغه څه چې دوی کوم عمل کوي.

(إِذِ الْأَغْلَالُ فِي أَعْنَاقِهِمْ وَالسَّلَاسِلُ يُسْحَبُونَ (71) فِي الْحَمِيمِ ثُمَّ فِي النَّارِ يُسْجَرُونَ).

غافر: 71 – 72.

کله چې طوقونه د دوی په څټونو او مرو کې وي او زنځیرونه د دوی په خپو کې وي او دوی به په مخ باندې په کرمو اوبو کې راښکلی شي او بیا به په اور کې وریتولی شي.

(خُذُوهُ فَغُلُّوهُ (30) ثُمَّ الْجَحِيمَ صَلُّوهُ (31) ثُمَّ فِي سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُونَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوهُ).

الحاقة: 30 – 32.

ونیسئ دوی لره غاړو ته طوقونه وراچوئ، بیا ئې جهنم کې داخل کړئ، بیا ئې په هغه زنځیرونو کې وتړئ چې د هغې کزونه اویا ګزه دي.

4: كولمې و يلې كېدل:

په جهنم كې يو سختترين عذاب دا دی چې الله رب العالمين د طرف نه به حكم وكړ يشي او پدې جهنم والا باندې به په سر باندې اوبه وروړولی شي چې ددغې جهنم والا و د ويښتانو به سورو كې به ښكته لاړی شي چې د هغوې كولمې به ولې كړي او لاندې به ترې وبهيږي قرآن كريم او حديث كې ددې ذكر كړی شويدی.

(فَالَّذِينَ كَفَرُوا قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِنْ نَارٍ يُصَبُّ مِنْ فَوْقِ رُءُوسِهِمُ الْحَمِيمُ (19) يُصْهَرُ بِهِ مَا فِي بُطُونِهِمْ وَالْجُلُودُ).

الحج: 19 – 20.

پس هر چې هغه كسان دي چې كفر ئې كړی دی پرې كولی به شي او جوړولی به شي د دوې لپاره كپړې د اور نه اړولی به شي پدوې باندې د سر دپاسه ايشيدلې اوبه ويلی كيدی به شي په دغه اوبو باندې هغه څه چې په كيډو د دوې كې دي او څرمنې د دوې.

عن أبي هريرة رضى الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: «إِنَّ الحَمِيمَ لَيُصَبُّ على رؤوسِهم فينفذ الجمجمة حتى يَخْلُصَ إلى جَوفِهِ فَيَسْلُتَ ما في جوفه حتى يمزق قدميه وهو الصهر ثم يعاد كما كان». أخرجه الحاكم في المستدرك: 3458، حسن.

ابو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې هغه به فرمائيل: د كافرانو په سر باندې به ايشيدلي اوبه واچولى شي او هغه د دوى په سر كې بشكته لاړى شي نو د دوې خيټو ته راورسيږي په خيټو كې چه څه كولمې دي هغه به ويلې كړي تر دې چې په قدمونو باندې به دغه اوبه توى شي او دا هغه صهر دى چې قرآن كريم ذكر كړى دى، او بيا به بيرته دوې ته واپس شي او بيا به بيا همدغه رنګه شي.

5: د مخ سوزيدل:

د انسان عادت دا دى چې هر څومره سخته تكليف ورباندې راځي دا به د خپل مخ د بچ كولو كوشش كوي، نور بدن اګر كه وسوزي او تكليف پرې راځي خپل مخ اور ته او تكليف ته نه وركوي د جهنم د عذاب يو ناشنا سختي دا ده چې دا به په مخ باندې هم وي، او مخ به سوزي، قرآن كريم كې الله رب العالمين همدغه حال ذكر كړى دى.

(لَوْ يَعْلَمُ الَّذِينَ كَفَرُوا حِينَ لَا يَكُفُّونَ عَنْ وُجُوهِهِمُ النَّارَ وَلَا عَنْ ظُهُورِهِمْ وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ).

الأنبياء: 39.

که چیرته پوهیدلی هغه کسان چې نه به شي دفع کولی د خپلو مخونو نه اور او نه د خپلو شاګانو او نه به د دوی سره امداد وکړی شي.

(تَلْفَحُ وُجُوهَهُمُ النَّارُ وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ). المؤمنون: 104.

سوزوي به مخونه د دوی اور او دوی به پدغه جهنم کې بدرنګه وي.

(سَرَابِيلُهُمْ مِنْ قَطِرَانٍ وَتَغْشَى وُجُوهَهُمُ النَّارُ).

ابراهيم: 50.

د دوی کميسونه د ننزړو څخه وي او پټ کړې به وي مخونه دوی لره اور.

(أَفَمَنْ يَتَّقِي بِوَجْهِهِ سُوءَ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَقِيلَ لِلظَّالِمِينَ ذُوقُوا مَا كُنْتُمْ تَكْسِبُونَ).

الزمر: 24.

ايا هغه څوک چې ځان بچ کوي په خپل مخ باندې د بدترين عذاب نه د قيامت په ورځ، او ظالمانو ته به وويل شي تاسو د هغه څه سزا وڅکئ چې تاسو کول.

(يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُولُونَ يَالَيْتَنَا أَطَعْنَا اللَّهَ وَأَطَعْنَا الرَّسُولَا).

الأحزاب: 66.

په هغه ورځ چې اوړولی راړولی به شي مخونه د دوی په اور کې دوی به وائي: ای افسوس چې مونږه د الله او د هغه د رسول تابعداري کړې وې.

6: پړمخ په اور کې کش کیدل:

جهنم والا و ته به یو سخت عذاب دا هم وي چې په اور کې به پړ مخ راښکلی کیږي څرنګه چې قرآن کریم همددې خبرې ذکر کړی دی الله تعالی فرمائي:

(إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي ضَلَالٍ وَسُعُرٍ (47) يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي النَّارِ عَلَى وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ).

القمر: 47 – 48.

بې شکه مجرمان به په ګمراهۍ او ګرم اور کې وي یا په لیونتوب کې وي په هغه ورځ چې راښکلی به شي دوی په مخونو د دوی ویل کیدلی به شي دوی ته وڅکئ تاسو عذاب د اور.

(إِذِ الْأَغْلَالُ فِي أَعْنَاقِهِمْ وَالسَّلَاسِلُ يُسْحَبُونَ (71) فِي الْحَمِيمِ ثُمَّ فِي النَّارِ يُسْجَرُونَ).

غافر: 71 – 72.

کله چې طوقونه د دوی په څټونو کې وي او زنځیرونه د دوی په خپو کې وي په ګرمو اوبو کې به پړ مخ کش کولی شي او بیا به په اور کې وریتولی شي.

7: د هر طرف نه د اور احاطه:

د جهنم والاو یو سخترین حالت دا دی چې په دوې باندې به اور د هر طرف نه احاطه کړې وي، او دوې لره به اور د هر طرف نه راګیر کړې وي د بره طرف نه اور د لاندې طرف نه اور ښې او ګڅ طرف نه به اور وي او دا ډیر سخت حالت دی چې هر طرف ته اور او د هیڅ طرف نه د تښتیدلو لاره نه شته دی الله تعالی فرمائي: (لَهُمْ مِنْ جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِنْ فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ وَكَذَلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ).

الأعراف: 41.

د دوې لپاره به د جهنم د اور فرشونه او بره به ورباندې برستنې د اور وي همدغه رنګه مونږ ظالمانو ته بدله ورکوو.
(يَوْمَ يَغْشَاهُمُ الْعَذَابُ مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ وَيَقُولُ ذُوقُوا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ).

العنکبوت: 55.

په هغه ورځ چې دوې لره به عذاب د بره طرف نه پټ کړې وي او د خپو د لاندې او دوې به وائي: وڅکئ تاسو سزا د هغه څه چې تاسو کولو.
(لَهُمْ مِنْ فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِنَ النَّارِ وَمِنْ تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ذَلِكَ يُخَوِّفُ اللهُ بِهِ عِبَادَهُ يَاعِبَادِ فَاتَّقُونِ). **الزمر: 16.**

دې جهنمیانو لپاره د بره نه د اور طبقې دي لکه غتې وریځې او
یا سورې او لاندې هم د اور طبقې او وریځې، دا هغه څه دي
چې الله تعالی وړاندې خپل بندګان ویروي ای زما بندګانو
تاسو زما نه ویرېږئ.

8: د جهنمیانو پښېماني:

کله چې جهنمیان د جهنم سختي ویني پدغې وخت کې به
جهنمیان ډیر سخت پښیمانه شي لکن دغه وخت کې پښیماني
فایده نه رسوي.

(وَلَوْ أَنَّ لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ مَا فِي الْأَرْضِ لَافْتَدَتْ بِهِ وَأَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُا الْعَذَابَ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ).
یونس: 54.

او که چیرته شي د هر هغې نفس لپاره چې ظلم ـ شرک
او ګناهونه ـ ئې کړې دي د زمکې ټول کائنات شي خامخا
به دا هغه لره د جهنم د اور نه د بچاو لپاره په جرمانه کې
ورکړي، او کله چې عذاب ویني دوې به پښیماني ښکاره
کړي او د دوې تر مینځ به په انصاف فیصله وکړې شي او
پدوې باندې به ظلم ونه کړې شي.

9: د خپلو مشرانو څخه نا اوميدي:

يقيناً چې يو انسان به يو اميد باندې وي او دغه ځاې کې نا اوميده شي او بيا خاصکر د سخت ضرورت او حاجت په وخت کې دا هم ډير سخترين حالت دى او همدا حالت به جهنم والاو باندې راشي.

الله تعالى فرمائي: (وَبَرَزُوا لِلَّهِ جَمِيعًا فَقَالَ الضُّعَفَاءُ لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنْتُمْ مُغْنُونَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ اللَّهِ مِنْ شَيْءٍ قَالُوا لَوْ هَدَانَا اللَّهُ لَهَدَيْنَاكُمْ سَوَاءٌ عَلَيْنَا أَجَزِعْنَا أَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِنْ مَحِيصٍ).

ابراهيم: 21 .

دوې به د قبرونو نه راووځي او ټول به الله تعالى ته په يو ميدان کې ودريږي پس دغه کمزوري به غټانو متکبرينو ته ووائي: بې شکه مونږه تاسو لپاره تابع وو آيا تاسو زمونږه نه د الله د عذاب نه څه شى دفع کولى او لرې کولى شئ.

هغوې به ورته ووائي: که الله مونږه ته هدايت کړى وې مونږه به تاسو ته هدايت کړې وې په مونږه باندې برابره ده که مونږه فرياد کوو او که صبر کوو زمونږه لپاره د تيښتې ځاې نه شته دى.

10: جهنمیان تنګ ځای ته غورځول:

د جهنمیانو یو سخترین عذاب دا دی چې الله رب العالمین به جهنمیانو لره تنګ تنګ ځایونو ته وغورځوي، او دغه به د جهنم نه علاوه نور سخترین عذاب شي قرآن کریم د هغې ذکر کړی دی فرمائي:

(وَإِذَا أُلْقُوا مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا مُقَرَّنِينَ دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُورًا (13) لَا تَدْعُوا الْيَوْمَ ثُبُورًا وَاحِدًا وَادْعُوا ثُبُورًا كَثِيرًا).

الفرقان: 13 – 14 .

او کله چې جهنمیان ددغې جهنم تنګ ځای ته وغورځولی شي پدغې مقام کې به دوې د خپل ځان لپاره هلاکت راوغواړي دوې ته به وویل شي نن یو هلاکت ته اواز مه کوئ او یو هلاکت مه رابلئ بلکه ډیر هلاکتونه راوبلئ.

د عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما تفسیر:

عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما فرمائي: د جهنم دغه مقام به پدوې باندې داسې تنګ وي لکه څرنګه چې د نیزې وسپنه په نیزه باندې تنګه وي او د نیزې لرګی ئې سخت انداز کې نیولی وي.

2: په یو روایت کې داسې هم راغلې دي چې جهنم دغه مقام به پدوې باندې داسې تنګ وي لکه دیوال کې چې میخ ومنډې.

11: د خودکشي کوونکي انسان حال:

کوم یو انسان چې په دنیا کې خودکشي وکړي او ځان خپله قتل کړي د هغه لپاره حدیثو کې دا سزا ذکر شویده چې هغه به د جهنم په اور کې همدغه رنګه ځان قتلوي او خپل ځان به وژني.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِحَدِيدَةٍ فَحَدِيدَتُهُ فِي يَدِهِ يَتَوَجَّأُ بِهَا فِي بَطْنِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا، وَمَنْ شَرِبَ سُمًّا فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَهُوَ يَتَحَسَّاهُ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا، وَمَنْ تَرَدَّى مِنْ جَبَلٍ فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَهُوَ يَتَرَدَّى فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا». **أخرجه مسلم: 313.**

ابو هریرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي: کوم انسان چې خپل ځان په اوسپنه باندې ووژني، دغه اوسپنه به د هغه په لاس کې وي او خپله خیټه به ورباندې د جهنم په اور کې وهي او زخمي کوي، او همیشه لپاره به په جهنم کې وي.

کوم انسان چې زهر وسکي او ځان پرې ووژني دغه زهر به دده په لاس کې وي او د جهنم په اور کې به دغه زهر سکي او همیشه به پدغې اور کې وي څوک چې د غر نه ځان راوغورځوي او خپل ځان قتل کړي دغه انسان به د جهنم په اور کې ځان راغورځوي او پدغې جهنم کې به همیشه وي.

12: د هغه انسان حال چې په خپل علم عمل نه کوي

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ رضي الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " يُؤْتَى بِالرَّجُلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَيُلْقَى فِي النَّارِ، فَتَنْدَلِقُ أَقْتَابُ بَطْنِهِ، فَيَدُورُ بِهَا كَمَا يَدُورُ الْحِمَارُ بِالرَّحَى، فَيَجْتَمِعُ إِلَيْهِ أَهْلُ النَّارِ، فَيَقُولُونَ: يَا فُلَانُ مَا لَكَ؟ أَلَمْ تَكُنْ تَأْمُرُ بِالْمَعْرُوفِ، وَتَنْهَى عَنِ الْمُنْكَرِ؟ فَيَقُولُ: بَلَى، قَدْ كُنْتُ آمُرُ بِالْمَعْرُوفِ وَلَا آتِيهِ، وَأَنْهَى عَنِ الْمُنْكَرِ وَآتِيهِ ".

صحيح مسلم: 7674.

اسامة بن زيد رضي الله عنهما فرمائي: ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي هغه فرمائل: يو سړی به د قيامت په ورځ باندې راوستل شي هغه به په اور کې وغورځولی شي د خيټې کولمې به ئې بهر ته راوځي په هغې باندې به داسې تاو شي لکه څرنګه چې خر ميچن تاوهي.

د اور والا به ورته راټول شي ورته به ووائي: ای فلانيه: په تا څه شوې دي؟ ولې تا مونږه ته د نيکو حکم نه کولو او د بدو نه دې نه منع کولو؟ هغه به ورته ووائي: ما تاسو ته د نيکو حکم کولو او خپله مې نيکي نه کوله او تاسې مې د بدو نه منع کولې او خپله نه منع کيدلو.

13: د عمرو بن عامر الخزاعي حال:

عن أبي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «رَأَيْتُ عَمْرَو بْنَ عَامِرٍ الخُزَاعِيَّ يَجُرُّ قُصْبَهُ فِي النَّارِ، كَانَ أَوَّلَ مَنْ سَيَّبَ السَّوَائِبَ».

أخرجه البخاري: 4623.

ابو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي: ما عمرو بن عامر الخزاعي وليده چې خپلې کولمې ئې د جهنم په اور کې راښکلې ځکه دا اولنی هغه کس دی چې د سائبې مقررولو بدعت او نوې عقيده ئې جوړه کړې وه.

14: د تصوير ويستونکي حال:

عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «كُلُّ مُصَوِّرٍ فِي النَّارِ، يَجْعَلُ لَهُ، بِكُلِّ صُورَةٍ صَوَّرَهَا، نَفْسًا فَتُعَذِّبُهُ فِي جَهَنَّمَ».

أخرجه مسلم: 2110.

ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي: چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې فرمائيل: هر تصوير ويستونکی به په اور کې وي، د هر يو تصوير په سر باندې به دده لپاره يو يو روح ورکول کيږي او په هغه باندې به په جهنم کې عذابيږي.

15: د جهنم په اور کې د جهنميانو جګړې

د جهنم والاو يو بدترين عذاب دا دی چې جهنم والا به د نورو عذابونو سره سره به جهنم کې يو د بل سره جګړې کوي، عابدان د معبودانو سره، مشران د کشرانو سره.

(هَذَا فَوْجٌ مُقْتَحِمٌ مَعَكُمْ لَا مَرْحَبًا بِهِمْ إِنَّهُمْ صَالُو النَّارِ (59) قَالُوا بَلْ أَنْتُمْ لَا مَرْحَبًا بِكُمْ أَنْتُمْ قَدَّمْتُمُوهُ لَنَا فَبِئْسَ الْقَرَارُ (60) قَالُوا رَبَّنَا مَنْ قَدَّمَ لَنَا هَذَا فَزِدْهُ عَذَابًا ضِعْفًا فِي النَّارِ (61) وَقَالُوا مَا لَنَا لَا نَرَى رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُمْ مِنَ الْأَشْرَارِ (62) أَتَّخَذْنَاهُمْ سِخْرِيًّا أَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ الْأَبْصَارُ (63) إِنَّ ذَلِكَ لَحَقٌّ تَخَاصُمُ أَهْلِ النَّارِ).

ص: 59 - 64.

دا يوه ډله ده چې ستاسو سره جهنم ته داخليدونکې ده د دوی لپاره دې ښه راغلاست نه وي بيشکه دوی اور ته داخليدونکي دي هغوی به ورته ووائي: تاسو لپاره دې ښه راغلاست نه وي تاسو زمونږه لپاره داسې بدترينه طريقه مخکې جوړه کړې ده پس ډير بد ځای د قرارې دی.

دوی به ووائي: چا چې دا بدترينه طريقه زمونږه لپاره مخکې جوړه کړې ده هغوی ته دو چنده د اور عذاب ورکړې.

او دې به ووائي: څه وجه ده چې مونږه هغه څوک نه وينو چې مونږه به د شريانو نه شمارول، آيا مونږه ددې پورې مسخرې کولې او که زمونږه سترګې ددې نه کږې شوې دي.

(فَكُبْكِبُوا فِيهَا هُمْ وَالْغَاوُونَ (94) وَجُنُودُ إِبْلِيسَ أَجْمَعُونَ (95) قَالُوا وَهُمْ فِيهَا يَخْتَصِمُونَ (96) تَاللَّهِ إِنْ كُنَّا لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ (97) إِذْ نُسَوِّيكُمْ بِرَبِّ الْعَالَمِينَ (98) وَمَا أَضَلَّنَا إِلَّا الْمُجْرِمُونَ).

الشعراء: 94 – 99.

پس جمعه به کړی شي دوې پدغه جهنم کې او نور سرکشان او د ابليس ټولې لښکرې ، دوې به د يو بل سره د جګړې کولو په حالت کې ووائي: بيشکه مونږه په ښکاره ګمراهۍ کې وو چې مونږه تاسو د رب العالمين سره برابرولې.

(كُلَّمَا دَخَلَتْ أُمَّةٌ لَعَنَتْ أُخْتَهَا حَتَّى إِذَا ادَّارَكُوا فِيهَا جَمِيعًا قَالَتْ أُخْرَاهُمْ لِأُولَاهُمْ رَبَّنَا هَؤُلَاءِ أَضَلُّونَا فَآتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِنَ النَّارِ).

الأعراف: 38.

هر کله چې جهنم ته يوه ډله داخله شي په خپلې ملګرې او هم جنس ډله باندې به لعنت ووائي: تر دې پورې چې دوې به دغه جهنم کې ټول راجمع شي روستۍ ډله به مخکنۍ ډلې ته ووائي: يا الله دوې مونږه ګمراه کړې يو دوې ته د اور دوچنده عذاب ورکړه.

په جهنم کې د جهنميانو هميشکري

که هر څومره سخت عذاب وئ خو دا اميد وي چې يوه ورځ به دغه عذاب ختم شي او ددې عذاب وخت به اخر ته ورسيږي بيا هم د ختميدلو په اوميد باندې دغه سخت عذاب اسانيږي. لکن د جهنم عذاب سره الله تعالی بار بار دا خبره ذکر کوي چې دا عذاب هميشه دی، ددې لپاره انتهاء او ختميدل نه شته دی، کله چې دا په ډيرو آيتونو کې او حديثو کې ذکر ده، د مثال په طور باندې :

1: الله تعالی فرمائي: (إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ أُولَئِكَ عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ (161) خَالِدِينَ فِيهَا لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ).

البقرة: 161 – 162 .

بيشکه هغه کسان چې کفر ئې کړی دی او پداسې حالت کې وفات شويدي چې هغوې کافران وو، پدغه کسانو باندې د الله، ملايکو او ټولو خلکو لعنت دی، دوې به په هغې کې هميشه وي د دوې نه به عذاب سپک نه شي او نه به دوې ته مهلت ورکړی شي.

2: الله تعالى فرمائي:
(كَيْفَ يَهْدِي الله قَوْمًا كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ وَشَهِدُوا أَنَّ الرَّسُولَ حَقٌّ وَجَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَالله لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (86) أُولَئِكَ جَزَاؤُهُمْ أَنَّ عَلَيْهِمْ لَعْنَةَ الله وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ (87) خَالِدِينَ فِيهَا لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ).
آل عمران: 86 – 88.

څرنګه به الله هدايت وکړي هغې قوم ته چې د ايمان نه ئې روسته کفر کړی او دا ګواهي ئې کړې ده چې رسول حق دی او هغوې ته واضحه دلائل راغلي وو، او الله ظالم قوم ته هدايت نه کوي.
د دوې لپاره سزا دا ده چې پدوې باندې د الله، ملايکو او ټولو خلکو لعنت دی، دوې به په دغه اور کې هميشه وي د دوې نه به عذاب سپک نه شي او نه به دوې ته مهلت ورکړی شي.
3: الله تعالى فرمائي: (وَعَدَ الله الْمُنَافِقِينَ وَالْمُنَافِقَاتِ وَالْكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا هِيَ حَسْبُهُمْ وَلَعَنَهُمُ الله وَلَهُمْ عَذَابٌ مُقِيمٌ).
التوبة: 68.

الله د منافقانو سړو او زنانوو او ټولو کفارو سره د جهنم د اور وعده کړې چې دوې به په هغې کې هميشه وي، دغه ددې لپاره

کافي دی او الله پدوې باندې لعنت نازل کړی او د دوې لپاره همیشه عذاب دی.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يُؤْتَى بِالْمَوْتِ كَهَيْئَةِ كَبْشٍ أَمْلَحَ، فَيُنَادِي مُنَادٍ: يَا أَهْلَ الجَنَّةِ، فَيَشْرَئِبُّونَ وَيَنْظُرُونَ، فَيَقُولُ: هَلْ تَعْرِفُونَ هَذَا؟ فَيَقُولُونَ: نَعَمْ، هَذَا المَوْتُ، وَكُلُّهُمْ قَدْ رَآهُ، ثُمَّ يُنَادِي: يَا أَهْلَ النَّارِ، فَيَشْرَئِبُّونَ وَيَنْظُرُونَ، فَيَقُولُ: وهَلْ تَعْرِفُونَ هَذَا؟ فَيَقُولُونَ: نَعَمْ، هَذَا المَوْتُ، وَكُلُّهُمْ قَدْ [ص:94] رَآهُ، فَيُذْبَحُ ثُمَّ يَقُولُ: يَا أَهْلَ الجَنَّةِ خُلُودٌ فَلاَ مَوْتَ، وَيَا أَهْلَ النَّارِ خُلُودٌ فَلاَ مَوْتَ».

أخرجه البخاري: 4730، ومسلم: 2849.

ابو سعید الخدري رضي الله عنه فرمائي: د قیامت په ورځ باندې به مرګ د یو ګډ په شکل باندې راوستلي شي یو اواز کونکی به اواز وکړي، ای د جنت والاو، هغوې به سرونه راوچت کړي او ورته به وګوري، ورته وبه وائي: تاسو دا پیژنئ؟ هغوې به ووائي: هو دا مرګ دی دې تولو به لیدلی وي.

او هغه به ذبح کړی شي او بیا به ووائي: ای د جنت والاو همیشکري ده مرګ نه شته او ای د جهنم والاو همیشکري ده مرګ نه شته دی.

فهرس



قاري اسلامك مارټ
دینی کتب خانه
لنډے سړک چارسده روډ پشاور
0317-6981818|0332-5916117

